په افغانستان کې
د ملګرو ملتونو مرستندویه پلاوی

# په افغانستان کې د امنیتي سکتور حساب ورکول

اګست ۲۰۲۶

# د مطالبو لړلیک


**د دغه راپور په اړه ...... ۳**

**د راپور په اړه ...... ٤**

**میتودولوژي ...... ٤**

**لنډیز ...... ٥**

**۱. په افغانستان کې د امنیتي سکتور تنظیموونکی چوکاټ ...... ۹**

*الف. شریعت او د طالبانو د مشر فرمانونه ...... ۹*

*ب. د طالبانو د مشر او په افغانستان کې د برحاله لوړپوړو چارواکو مکرر عامه ټینګارونه، او د افغانستان د ملي پراختیايي ستراتیژي ...... ۱۱*

*پ. په فرمانونو او نورو داخلي لارښوونو کې د بندیزونو ځاي پر ځای کول ...... ۱۳*

**۲. د څارنې میکانیزمونه او پایلې یې ...... ١٤**

*الف. په برحاله د کورنیو چارو وزارت، د استخباراتو لوي ریاست او د زندانونو د چارو د سمون اداره کې تشکیلات او داخلي طرزالعملونه. ...... ١٤*

*ب. هغه قضیې چې برحاله امنیتي پرسونل په کې دخیل وي ...... ١٦*

*پ. برحاله والیان ...... ۱۸*

*ت. برحاله 'نظامي کمیسیون' او امنیتي او تصفیې کمیسیون ...... ۱۹*

*ث. برحاله د فرمانونو او حکمونو د تعقیب او نظارت لوي ریاست ...... ۲۰*

*ج. برحاله د امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت د شکایتونو اوریدلو کمیسیون ...... ۲۱*

*ج. برحاله د رئیس الوزراء دفتر ...... ۲۳*

*چ. د طالبانو د مشر دفتر ...... ۲۳*

**۳. قضایي څارنه – *برحاله* نظامي محکمې ...... ٢٤**

**٤. پایلې ...... ۲۸**

**۵. سپارښتنې ...... ۳۰**

*الف. د برحاله امنیتي ادارو لپاره – د برحاله کورنیو چارو وزارت، د استخباراتو لوی ریاست، او د زندانونو د چارو د سمون د ادارې په ګډون ...... ۳۱*

*ب. نورو برحاله وزارتونو، برحاله ریاستونو، برحاله کمیسیونونو او برحاله سترې محکمې ته ...... ۳۲*

*پ. نړیوالې ټولنې ته ...... ۳۳*

**ضمیمه - د نړیوال قانون له مخې د تطبیق وړ مکلفیتونه ...... ۳٤**

*الف. د ژوند، آزادۍ او امنیت حقونه، او د ناوړه چلند یا شکنجې ممنوعیت ...... ۳٤*

*ب. د مؤثرو تحقیقاتو د ترسره کولو مکلفیت ...... ۳٦*

*پ. د عدلي تعقیب او سزا ورکولو، او د عادلانه محاکمې د داډمنولو مکلفیتونه ...... ۳٦*

*ت. د خسارې د جبران د برابرولو مکلفیت ...... ۳۷*

*ث. مالوماتو ته د لاسرسي حق ته د درناوي او داډ مکلفیت ...... ۳۷*

*ج. کلیدي طرز العملونه او میکانیزمونه چې مؤثرې حساب ورکونې ته وده ورکوي ...... ۳۸*

## د دغه راپور په اړه

په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د مرستندویه پلاوي (یوناما) دغه راپور د امنیت شورا د ۲۸۲۲ (۲۰۲۶) او ۲۶۲۶ (۲۰۲۲) پرېکړه لیکونو له مخې د خپل ماموریت په چوکاټ کې چمتو کړی دی، ترڅو ځواب ورکونکې حکومتولي ته وده ورکړي، او د سیاسي، امنیتي، بشري حقونو، ټولنیزو او اقتصادي تحولاتو څارنه، مستند کول، راپور ورکول ترسره او په اړه یې شننه وړاندې کړي او د اړتیا په صورت کې، مسؤولیت لرونکو ته د هغو بشري حقونو نړیوالو معیارونو تطبیق په اړه تخنیکي مشورې وړاندې کړي کومو ته چې دوي ملزم دي.[1]

***«د قانون نافذوونکي چارواکي به د مسؤولیت له لوړې کچې سره چې د هغوی مسلک یې ایجابوي، ټولنې ته د خدمت کولو او له ناقانونه کړنو څخه د ټولو خلکو د ساتنې له لارې پر دوي د قانون له مخې لازمه شوې دنده هر وخت ترسره کوي.»***

- د قانون نافذوونکو چارواکو لپاره د چلند اصول، ۱ ماده، د عمومي اسامبلې ۱۶۹/۳۴ شمېره پرېکړه لیک.

***«په ټوله کې، د قانون نافذوونکې ادارې به ټولنې ته ځواب ورکوونکې وي.»***

-د قانون نافذوونکو چارواکو لپاره د ملګرو ملتونو د چلند اصول، سریزه ۸ (الف) پاراګراف.

[1] د امنیت شورا د ۲۶۲۶ (۲۰۲۲) پرېکړه‌لیک ۵ (هـ) پاراګراف، د امنیت شورا د ۲۶۷۸ (۲۰۲۳)، ۲۷۲۷ (۲۰۲۴)، ۲۷۷۷ (۲۰۲۵) او ۲۸۱۸ (۲۰۲۶) پرېکړه لیکونو له مخې تمدید شوی دی.

## د راپور په اړه

دغه راپور هغه ګامونه په ډاګه کوي چې د ۲۰۲۱ کال له اګست راهیسې د افغانستان د *برحاله* چارواکو له خوا د حکومتولۍ د جوړولو او د داخلي او بهرنیو ادارو له لارې د *برحاله* امنیتي ادارو د څارنې په موخه ترسره شوي، څو د هغو کړنو په ګډون چې د بشري حقونو سرغړونې رامنځ ته کوي د *برحاله* امنیتي ادارو له خوا د ناوړه چلند په وړاندې حساب ورکونې ته وده ورکړي. راپور د *برحاله* کورنیو چارو وزارت د *برحاله* پولیسو، د استخباراتو لوی ریاست، او د زندانونو د چارو د سمون ادارې (چې په ګډه د *برحاله* امنیتي ادارو یا بنسټونو په نوم یادېږي) له خوا د خپلو کارکوونکو د ادعا شوي ناوړه چلند په اړه د حساب‌ورکونې پر هڅو تمرکز کوي.

دغه راپور په افغانستان کې د نافذ حقوقي چوکاټ، او همدارنګه د *برحاله* امنیتي ادارو دننه موجودو داخلي لارښوونو او طرز العملونو ته کتنه کوي چې کولی شي د حساب ورکونې د پیاوړتیا لامل شي، او د حساب ورکونې د هڅو په اړه د *برحاله* ادارو باندنۍ مکاتباب او شفافیت ارزوي.[2] سربېره پر دې، راپور هغه مهم بهرني میکانیزمونه چې د *برحاله* امنیتي پرسونل د ناوړه چلند په اړه د حساب‌ورکونې په برابرولو کې رول لري، او راپور شوې پایلې ارزوي. چېرې چې موجود وي، راپور د افغانانو لپاره د شکایت د میکانیزمونو یادونه کوي چې *برحاله* ادارو ته د هغه چلند په ګډون چې ښايي د بشري حقونو سرغړونې تشکیل کړي د ادعا شوي ناوړه چلند خبر ورکړي.

راپور نه د شکایتونو میکانیزمونو ته لاسرسی او د ښځو په ګډون د شکایت کوونکو پروسې او نه هم د شکایت کوونکو هغه تجربې څېړي چې د دغو میکانیزمونو له لارې د ناوړه چلند په راپور کولو کې ورسره مخ شوي. راپور د *برحاله* ادارو له خوا د *برحاله* امنیتي ځواکونو په اړه د ترلاسه شویو شکایتونو د کار د پایلو، د ترسره شویو تحقیقاتو، او پایلو په اړه د مالوماتو د شریکولو د نه لیوالتیا له امله د دغو پروسو د فعالیت او مؤثریت نه ارزوي.

## میتودولوژي

دغه راپور له *برحاله* امنیتي چارواکو سره د یوناما د دوامداره خبرو اترو، د حساب ورکونې او روڼتیا په اړه د *برحاله* چارواکو د رسمي اعلانونو د څارنې، او د قربانیانو/ژغورل شویو کسانو په ګډون له افرادو سره د اړیکو پر بنسټ جوړ شوی چې قضیې یې د یوناما د میتودولوژۍ له مخې د باور وړ ګڼل شوې دي. د خوندیتوب د دلایلو له امله، د ناوړه چلند اړوند قضیو ته په اشارو کې د پېښو ځای او نور پېژندونکي عوامل نه دي ذکر شوي، حتی په هغو مواردو کې هم چې اشخاصو یوناما ته اجازه ورکړې وه چې د هغوی بیانونه دې په عامه راپورونو کې له پېژندونکو مالوماتو سره خپاره کړي.

د ۲۰۲۴ او ۲۰۲۵ کلونو په اوږدو کې، د بشري حقونو د راپور شویو سرغړونو په اړه د *برحاله* چارواکو سره د یوناما د تعامل د یوې برخې په توګه، یوناما د کارکوونکو د جزايي تعقیب او مجازاتو په ګډون د داخلي پروسو او هغو تدابیرو په اړه بحث کړی او مالومات یې غوښتلي چې *برحاله* امنیتي پرسونل ته د حساب ورکونې لپاره ترسره شوي. د یوناما له خوا د بشري حقونو د سرغړونو د شریکو شویو قضیو په اړه پر بحث کولو سربېره، *برحاله* چارواکو نور هغه موارد شریک کړل چېرې چې د راپورونو له مخې د هغوی کارمندان د شریعت له مخې د جرمونو په ګډون د ناوړه چلند له امله مجازات شوي وو. یوناما همدارنګه له *برحاله* چارواکو سره د داخلي طرزالعملونو په ګډون د تطبیق وړ مقرراتي چوکاټ په اړه د تعامل هڅه کړې څو نظم او حساب‌ورکونه لا پیاوړې شي.

*برحاله* ادارو له یوناما سره د خپلو موجوده داخلي طرز العملونو په اړه چې حساب ورکونه پیاوړې کوي، د همکارۍ په بېلابېلو کچو کې تعامل کړی دی. په هغو مواردو کې چې د تصویب شویو کړنلارو نسخې شریکې شوي، په راپور کې یې یادونه شوې ده. هېڅ یوې *برحاله* امنیتي ادارې په هغو قضیو کې چې د دوي پرسونل په کې ښکېل وو د ناوړه چلند د ترلاسه شویو یا څېړل شویو تورونو د عمومي شمېر یا ډول، یا د هغو قضیو د شمېر په اړه چې د تادیبي اقدام یا عدلي تعقیب او قضايي پایلو لامل شوي په اړه ارقام نه دي شریک کړي.

د *برحاله* ادارو له خوا د صادر شویو فرمانونو او لارښوونو چې په راپور کې یې حواله شوې، ټولې ژباړې غیر رسمي دي.

---

[2] همدارنګه د بشري حقونو شورا هغه غوښتنې وګورئ چې د افغانستان د وضعیت په اړه د راپورونو د وړاندې کولو لپاره شوې دي، چې پکې د بشري حقونو د بنسټیز ملاتړ او ساتنې وضعیت، او همدارنګه د بشري حقونو د سرغړونو او تخطیو په اړه د حساب ورکونې ممکنه لارې او بهیرونه شامل دي. د بشري حقونو شورا د ۵۱/۲۰ او ۵۴/۱ پرېکړه لیکونو او د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر د دفتر کلنیو راپورونو A/HRC/۵٤/۲۱ او A/HRC/۵۷/۲۲ ته مراجعه وکړئ.

## لنډيز

له هغه وخته چې *برحاله* چارواکو د ۲۰۲۱ کال د اګست پر ۱۵ نېټه واک ترلاسه کړ، یوناما د حکومتولۍ، د قانون واکمنۍ، امنيت او بشري حقونو وضعيت په افغانستان کې څارلی دی. په دې کې د حکومتولۍ په جوړښتونو، داخلي قانون، د جزايي عدالت په نظام او د قربانيانو حقونو ته د درناوي په برخه کې تحولات شامل دي. یوناما همدارنګه د بشري حقونو څخه سرغړونې مستند او په اړه يې راپور ورکړی دی،[3] او د ځانګړو قضيو په اړه يې له *برحاله* ادارو سره تعامل کړی دی. د یوناما راپورونو په دوامداره توګه د عامه مالوماتو د پام وړ نشتوالی روښانه کړی دی، په ځانګړي ډول د تحقيقاتو د وضعيت يا د هغو اقداماتو په اړه چې د بشري حقونو د سرغړونو د عاملينو د حساب ورکونې لپاره ترسره کېږي.

افغانستان لا اوس هم د نړيوال قانون چې په کې اووه اساسي نړيوال تړونونه شامل دي او افغان دولت يې غړی ګڼل کيږي، په رعايتولو پابند دی (ضميمه وګورئ). د دغه قانون په موجب په رامنځ ته کيدونکو مکلفيتونو کې د نورو هغو په ګډون د بشري حقونو درناوی، ساتنه او مراعاتول، د افرادو د ژوند، آزادي او امنيت حقونو او د شکنجې او نورو ظالمانه، نا انساني يا له سپکاوي ډک چلند يا سزا ممنوعيت شامل دي. د افغانستان د دغو مکلفيتونو سره سم چې د تقنيني، اداري او نورو مناسبو تدابيرو د پلي کولو له لارې يې بايد مراعات کړي، یوناما همدارنګه په منظم ډول له *برحاله* چارواکو سره د هغوي د داخلي طرزالعملونو او پروسو په اړه تعامل کړی، څو د نظم او حساب ورکونې مسايل حل کړي، او د هغوی د حساب ورکونې د هڅو د پايلو په اړه يې د لا زيات شفافيت غوښتنه کړې ده.

دی راپور موندلې چې د ۲۰۲۱ کال له اګست راهيسې، د *برحاله* چارواکو له خوا داسې تدابير ترسره شوي چې د امنيتي ادارو پر فعاليتونو څارنه وکړي او د امنيتي پرسونل چلند تنظيم کړي. د راپور لومړۍ برخه د فرمانونو او مقرراتو، او بيانيو د علني خپرولو په ګډون د لوړو مقاماتو هغو اقداماتو په اړه مفصل مالومات وړاندې کوي چې د وزارتونو د فعاليتونو او کارکردګۍ په کلنيو کتنو کې شفافيت او حساب ورکونې ته د «امارت» د ژمنتوب يادونه کوي. دا برخه همدارنګه د امنيتي ځواکونو د متوقع چلند او د ملي پراختيا ستراتيژۍ په اړه هغه مهالني مکاتبات څېړي، چې په راتلونکو کلونو کې د *برحاله* امنيتي بنسټونو د اصلاح او پياوړي کولو تدابير رانغاړي.

سربيره پر دې، *برحاله* چارواکو د څارنې يو شمېر هغه ميکانيزمونه وړاندې کوي چې د افغانستان امنيتي ادارې تنظيموي. په هره امنيتي اداره کې د ځانګړو داخلي رياستونو، او دغه راز نورې جلا ادارې چې په څارنه مامورې شوي دي. هره *برحاله* امنيتي اداره همدارنګه رياستونه او آمريتونه لري چې په خپلو اړوندو توقيف ځايونو کې د وضعيت د څارنې دنده ترسره کوي، او داخلي امنيتي واحدونه يا رياستونه لري چې د کارمندانو د چلند څارنې او څېړنې دنده لري.

یوناما له هرې *برحاله* امنيتي ادارې سره د دې تعامل هڅه کړې چې آيا داسې داخلي طرز العملونه چې کولی شي د پرسونل داخلي مديريت پياوړی کړي تصويب شوي يا نه. په دغه ډول طرزالعملونو کې راتلونکې هغه شامل دي: د چلند ځانګړي داخلي اصول، هغه مقررات چې عملياتي دندې په تفصيل سره بيانوي، په ځانګړي ډول د قوې يا وسلې د کارولو په اړه، چې د پېښو د اجباري داخلي راپور ورکولو او د پېښو د ثبت سيستمونو غوښتنه کوي؛ د واضح قوماندې جوړښتونو رامنځته کول چې د قوماندې مسووليت په کې مدغم شوی وي؛ او د شکايتونو د ثبت او مديريت، داخلي تحقيقاتو او تاديبي طرزالعملونو مؤثر طرز العملونه، چې وکولای شي د ناوړه چلند د بيا پېښېدونکو موضوعاتو د داخلي تحليل لپاره زمينه برابره کړي او له خلکو سره شفافيت زيات کړي.

په داسې حال کې چې هره *برحاله* امنيتي اداره د داخلي طرزالعملونو په اړه د بحث لپاره چمتو وه، يوازې د کورنيو چارو وزارت د هغو طرز العملونو په ګډون چې په ولايتونو او ولسواليو امنيه قوماندانيو کې د پوليسو چارې تنظيموي، د ځينو هغو کاپي ګانې شريکې کړې. که څه هم یوناما خبره ده چې نورې *برحاله* امنيتي ادارې هم ورته طرزالعملونه لري، خو زياتره يې نه دي شريکې شوي. له همدې امله یوناما نشي کولی دا و ارزوي چې دغه داخلي طرزالعملونه تر کومه حده د قانون پلي کولو،

---

[3] په دې کې له محاکمې پرته اعدامونه، خپلسري نيونې او توقيفونه، د قوې له حده زياته کارونه، شکنجه او ناوړه چلند، ظالمانه او له سپکاوي ډک چلند او/يا سزاګانې، او جبري ورکېدنې شاملې دي. د دغو موضوعاتو په اړه په لاندې انټرنيټ پاڼه د یوناما راپورونه وګورئ : «په افغانستان کې بشري حقونه»، ۱۵ اګست ۲۰۲۱ – ۱۵ جون ۲۰۲۲» (کابل، جولای ۲۰۲۲)؛ «بدني سزا او د اعدام سزا په افغانستان کې» (کابل، ۲۰۲۳)؛ «د سولې د ټينګښت پر وړاندې يو خنډ: په افغانستان کې د پخوانيو دولتي چارواکو او د پخوانيو امنيتي ځواکونو د غړو پر وړاندې د بشري حقونو سرغړونې: ۱۵ اګست ۲۰۲۱ – ۳۰ جون ۲۰۲۳» (کابل، ۲۰۲۳)؛ «په افغانستان کې له بنديانو سره چلند – د بشري حقونو درناوی: د باور د رامنځته کولو يو عامل» (کابل، سپټمبر ۲۰۲۳)؛ « د امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت اخلاقي څارنه»( کابل، جولای ۲۰۲۴)؛ «په افغانستان کې د رسنيو آزادي» (کابل، نومبر ۲۰۲۴)؛ «هيڅ خوندي پناه نشته: هغو کسانو ته د بشري حقونو ګواښونه چې په غيرارادي ډول افغانستان ته ستانه شوي دي» (کابل، جولای ۲۰۲۵). وګورئ: https://unama.unmissions.org/en/unama-human-rights-monitoring-and-reporting.

حساب ورکونې او اغېزمنې څارنې لپاره له نړیوالو معیارونو او نورمونو یا له غوره کړنو سره په سمون کې دي، لکه په عملیاتي پولیسي دندو کې د جنسیت حساسې تګلارې یا شکایتونو او داخلي تحقیقاتو ته رسیدګي.

راپور دغه راز *برحاله* نورې هغه ادارې په ډاګه کوي چې د *برحاله* امنیتي پرسونل د جرمونو او نورو ناوړه چلندونو **د** تحقیقاتو او په اړه یې د اقدام کولو صلاحیت لري، دغه اقدامات کېدای شي تادیبي، منځګړیتوب، یا د عدلي تعقیب لپاره د قضیو راجع کول وي، خو د قربانیانو د ښکیلتیا د درجې په ګډون د هرې ادارې د طرز العملونو په اړه شفافیت محدود دی.

په دې کې هغه ادارې هم شاملې دي چې د پخواني جمهوري نظام پر مهال موجودې وې او لا هم ساتل شوې دي، او داسې ښکاري چې د تحقیقاتو د پیلولو واک یې لا هم خوندي پاتې دی، لکه د *برحاله* والیانو او د *برحاله* لومړي وزیر دفترونه. همدارنګه، په دې کې دغه راز ارګانونه هم شامل دي چې نوي تاسیس شوي او د فرمانونو د تطبیق د څارنې یا د قربانیانو د شکایتونو ته د رسیدګۍ دنده لري، لکه د *برحاله* امنیتي او تصفیوي کمېسیون چې د ۲۰۲۱ کال په ډسمبر کې جوړ شوی؛ *برحاله* د فرمانونو او حکمونو د تعقیب او نظارت لوی ریاست چې د ۲۰۲۳ کال په مارچ کې رامنځته شوی؛ او د *برحاله* امر بالمعروف او نهی عن المنکر وزارت د شکایتونو د اورېدو کمېسیون چې د ۲۰۲۳ کال په نومبر کې جوړ شوی. سربېره پر دې، د طالبانو د مشر دفتر، او همدارنګه *برحاله* ستره محکمه او د هغې *برحاله* نظامي محکمې هم په دې برخه کې مهم او اساسي رول لري.

د هغو ادارو تعدد او کثرت چې د *برحاله* امنیتي پرسونل د جرمونو د څېړنې او ناوړه چلند ته د رسیدګۍ صلاحیت لري، د نظم، حساب ورکونې او معافیت ته د رسیدګۍ د ډاډمنولو ژمنتوب په ډاګه کوي. خو د ټولو *برحاله* ادارو له لوري د تحقیقاتو د پایلو په اړه مکاتبات او شفافیت محدود او کم دی. کله چې د ممکنه سرغړونو په ګډون د ناوړه چلند د حل په موخه د ترسره شویو اقداماتو په اړه خبر ورکول کېږي، ډېری وختونه عمومي وي او په اړه یې کم جزئیات په ډاګه شوي وي. دغه کار د کارکردګۍ په کلنیو ارزونو کې د *برحاله* ویاند هغه متکررې بیانیې تضعیفوي چې د شفافیت او حساب ورکونې اصولو ته د «امارات» کلکې ژمنې تائیدوي.

د *برحاله* امنیتي ادارو په اړه، یوناما هغه قضیې مستند کړي دي چې په کې هرې *برحاله* امنیتي ادارې د خپل پرسونل له خوا د ترسره شویو سرغړونو په اړه د شکایتونو په ځواب کې اقدامات کړي دي، چې په کې نیونې، څېړنې، او *برحاله* نظامي محکمو ته د قضیو راجع کول شامل دي.[٤] له دې سره سره، *برحاله* امنیتي ادارو په رسنیو کې د راپور شویو لوړې کچې د یو شمېر پېښو ته د رسیدګۍ په اړه په منظم او علني ډول مالومات نه دي خپاره کړي، او نه یې هم په منظم ډول د هغو اقداماتو په اړه مالومات شریک کړي چې د خپل امنیتي پرسونل د حساب ورکونې لپاره یې ترسره کړي دي؛ د بېلګې په توګه، د پرانیستل شویو قضیو د شمېر، د داخلي تحقیقاتو د پایلو، یا د ترسره شویو تادیبي اقداماتو په اړه د مالوماتو دوره‌یي خپرول.

په ورته ډول، د اجرائیه قوې د نورو باندنیو څارنیزو میکانیزمونو له ډلې چې درې یې په مشخص ډول د حساب ورکونې د پیاوړتیا لپاره ګمارل شوي دي یوازې دوه هغه یې چې *برحاله* امنیتي او تصفیې کمیسیون او برحله د امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت د شکایتونو اورېدنې کمیسیون دی، وخت په وخت په رسنیو کې عمومي بیانیې خپرې کړې دي، سره له دې چې دغه څرګندونې تر ډېره د ترلاسه شویو او حل شویو شکایتونو د شمېر په اړه په راپور ورکولو پورې محدودې دي. برعکس، *برحاله* د فرمانونو او حکمونو د نظارت او تعقیب لوی ریاست، چې د ټولو *برحاله* ادارو د څارنې دنده ورسپارل شوې ده، د جوړېدو راهیسې د هېڅ *برحاله* ادارې، که ملکي ده یا نظامي، په اړه د خپلې څارنې د پایلو مالومات په علني ډول نه دي خپاره کړي.

د *برحاله* سترې محکمې له خوا د خپلو *برحاله* نظامي محکمو د فعالیتونو په اړه یوازې محدود مالومات خپاره شوي دي. که څه هم *برحاله* ستره محکمه نږدې هره ورځ د عامو خلکو له خوا د ترسره شویو جرمونو د سزاوو په اړه خبرتیاوې خپروي چې په کې د بند سزاوې او بدني مجازات هم شامل دي، او ټینګار کوي چې دا سزاګانې د جرم د مخنیوي لپاره مهمې دي، خو د *برحاله* امنیتي پرسونل له خوا د ترسره شویو جرمونو د قضایي پایلو په اړه ورته شفافیت او عامه مالومات شتون نه لري، چې دغه کار د *برحاله* امنیتي پرسونل لپاره د سزاوو د مخنیوي احتمالي اغېز کمزوری کوي. د خپلو کارکوونکو په اړه، د واکمنو چارواکو د سترې محکمې د ۲۰۲۳ کال د نومبر د ۸ نېټې یو متحدالمال د مالوماتو خپرول منع کوي، چې په کې «د دعوو شمېر او ډولونه چې له هغو څخه د بدنامۍ یا فساد استنباط کېدای شي»، د محکمې د قاضیانو د قضایي بې‌کفایتۍ په اړه ادعاوې،

[٤] یوناما د ګڼو هغو قضیو د وروستیو پایلو څخه نه ده خبره چې په بیل کې یې د نیونې یا تحقیقاتو موارد ثبت او مستند کړي دي، او همدارنګه دومره سرچینې نه لري چې هره انفرادي قضیه تر قضایي نهایي فیصلې پورې وڅاري او تعقیب کړي.

او یا هم د هغو قضیو په اړه مالومات شامل دي چې «د محکمو د بدنامولو» سبب ګڼل کېږي، دا ټول هغه مالومات دي چې د عامه مصلحت په ګټه دي او په قضايي نظام کې د تخلف او ناوړه چلند په اړه د شفافیت له زیاتوالي سره مرسته کولای شي.

یوناما د هغو ګامونو هرکلی کوي چې د *برحاله* چارواکو له خوا د *برحاله* امنیتي پرسونل د څارنې او حساب ورکونې د پیاوړتیا لپاره اخیستل شوي دي، او د هغو مواردو یادونه کوي چیرې چې *برحاله* چارواکو د یوناما له خوا د بشري حقونو مستند شویو سرغړونو او هغو قضیو په اړه تعقیبي اقدامات کړي چې د *برحاله* چارواکو له خوا ورسره شریکې شوې وې. یوناما همدارنګه د هغو ګڼ شمېر قضیو یادونه کوي چې د اشخاصو شکایتونه په کې د راپورونو له مخې نه دي تعقیب شوي یا نه دي حل شوي، او دا چې ډېری کسان د تهدید، غچ اخیستنې، یا په موجوده میکانیزمونو د باور د نشتون له امله *برحاله* چارواکو ته د ناوړه چلند یا سرغړونو د ادعاوو راپور نه ورکوي. د ښځو لپاره دغه کار د محدودو فرصتونو له امله چې د ناوړه چلند په اړه ښځینه چارواکو ته شکایتونه په داسې ډول وسپاري چې د دوی خوندیتوب تضمین کړی، لا پسې پیچلی کېږي.

سربېره پر دې، آن له دغو میکانیزمونو سره، یوناما **د** خپلواکو ادارو د څارنې او راپور ورکونې په چارو کې د لاسوهنې د ځینو مواردو په اړه خبره ده، لکه د نورو *برحاله* ادارو او دغه راز د هغوی د اړوندو رئیسانو له خوا پر *برحاله* لوي ریاست، د هغه د تفتیش د پرسونل په ګډون، د دې فشار چې کابل ته د ځینو موندنو په اړه راپور ور نه کړي. په ورته ډول په ځینو مواردو کې *برحاله* نظامي محکمو هم د *برحاله* امنیتي منسوبینو پر ضد د عریضو له منلو انکار کړی او شکایت کوونکو ته سپارښتنه کېده چې د مجاهدینو پر ضد د دعوو د ثبت په موخه دې محکمو ته مراجعه نه کوي، چې دغه کار د معافیت له چاپېریال سره مرسته کوي.

که څه هم د طالبانو مشر په مکرر ډول پر خلکو د شریعت د مخه نیونکې اغېز پر اهمیت ټینګار کړی، خو تر اوسه پورې د *برحاله* امنیتي پرسونل په تړاو د دغې مخې نیونې اهمیت له پامه غورځول شوی او په دې برخه کې محدود مکاتبات یا شفافیت شتون لري. د *برحاله* امنیتي پرسونل له خوا د سرغړونو په اړه د ترسره شویو تحقیقاتو او حساب ورکونې په اړه د عامه مالوماتو نشتون، د خلکو پر وړاندې د شفافیت او حساب ورکونې د اهمیت په اړه د *برحاله* ادارو څرګندونې کمزورې کوي او د هغوی خپلې هڅې هم زیانمنوي، پر ځای یې د معافیت تصور پیاوړی کوي.

## راتلونکي اقدامات

د ترلاسه شویو شکایتونو شمېر او هغه قضیې چې قربانیان یې لا هم د حل په تمه دي، ښيي چې *برحاله* چارواکي په ټولو کچو کې کولی شي د *برحاله* پرسونل له خوا د جرمونو او ناوړه چلند په اړه د حساب ورکونې د برابرولو لپاره لا زیات اقدامات ترسره کړي. په دې کې باید د *برحاله* مشرتابه له خوا دوامداره او شفافه ژمنتیا موجوده وي چې په ټولو *برحاله* ادارو کې حساب ورکونه په داسې ډول نهادینه کړي چې د افغانستان په پنځه کلنې ملي پراختیایي ستراتیژۍ له ترسره شویو ژمنو سره په سمون کې وي.

د ملګرو ملتونو د امنیت شورا ۲۷۲۱ (۲۰۲۳) پرېکړهلیک د *برحاله* چارواکو سره د نړیوال تعامل مطلوب هدف داسې تعریف کړی دی: «یو داسې هېواد چې له ځان او خپلو ګاونډیانو سره په سوله کې وي، په بشپړه توګه بېرته په نړیواله ټولنه کې مدغم شوی وي، او د افغان ولس د ګټې لپاره خپلې نړیوالې ژمنې او مکلفیتونه پوره کړي». په راپور کې تشریح شوې هڅې چې *برحاله* چارواکو د *برحاله* امنیتي پرسونل له خوا د هغه ناوړه چلند لپاره د حساب ورکونې په پار ترسره کړې چې له بشري حقونو سرغړونې تشکیلوي، د لومړنیو ګامونو په توګه ارزول کېدای شي چې د افغانستان د بېرته ادغام له بهیر سره مرسته کوي په داسې حال کې چې نړیوال مکلفیتونه پوره کوي. څرنګه چې پې راپور روښانه او سپارښتنه کوي، *برحاله* چارواکي کولی شي له خپلو نړیوالو مکلفیتونو سره سم د حساب ورکونې په لور نور کوټلي اقدامات ترسره کړي، چې به په موازي ډول په نړیواله ټولنه کې د افغانستان له مدغم کېدو سره مرسته وکړي او افغان وګړو ته ګټه ورسوي.

په راپور کې د په ګوته شویو ستونزو د حل په پار، یوناما د امنیتي او نورو ادارو د رئیسانو په ګډون د طالبانو *برحاله* مشرتابه ته راتلونکې سپارښتنې وړاندې کوي:

- هره *برحاله* امنیتي اداره باید داخلي بیاکتنه ترسره کړي څو و ارزوي چې آیا هغه حکمونه او طرز العملونه چې د *برحاله* چارواکو غړي د خپلو کړنو یا غفلتونو په مسؤول ګڼلو کې مرسته کوي لا وار د مخه موجود دي او د قانون د تنفیذ په اړه د نړیوالو بشري حقونو او معیارونو سره په تطابق کې دي او د اړتیا په صورت

کې يې تعديل کړي. که چيرې طرز العملونه نه وي موجود، هره اداره بايد نوي داخلي طرز العملونه جوړ او تصويب کړي او د خپلو ټولو غړو ترمنځ يې د عملي کېدو او خپرېدو ډاډ ترلاسه کړي.

- هغه *برحاله* ادارې چې د څارنې ځانګړې نقشونه لري — په ځانګړي ډول *برحاله* امنيتي او تصفيې کميسيون، *برحاله* د فرمانونو او حکمونو د نظارت او تعقيب لوي رياست، *برحاله* د امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت د شکايتونو اورېدلو کميسيون، او *برحاله* ستره محکمه — بايد داسې اقدامات ترسره کړي چې د خپلو فعاليتونو د پايلو په اړه تفصيلي او کټګوري شوې احصائيوي مالومات خپاره کړي، د بيلګې په ډول دغه مالومات بايد د ترلاسه شويو شکايتونو د ډولونو، د څېړل شويو جرمونو او سرغړونو د کټګوريو، د مرتکبينو د نوعيت، او همدارنګه د *برحاله* امنيتي پرسونل پر ضد د ترسره شويو اجراآتو او پايلو په اړه مالومات راونغاړي. دغه ادارې بايد داسې طرز العملونه جوړ کړي چې پر هغو کارمندانو چې د څارنې او تحقيقاتو چارې پر مخ وړي په چارو کې لاسوهنه يا فشار، يا د *برحاله* محکمو په ګډون د شکايتونو په ترلاسه کولو او څېړلو کې د هغوي د کارمندانو پاتې راتلل وڅېړي او مجازات يې کړي.

## ۱. په افغانستان کې د امنيتي سکتور تنظيموونکی چوکاټ

۱. د ۲۰۲۱ کال د اګست پر ۱۵ نېټه د واک ترلاسه کولو راهيسې، *برحاله* چارواکو په افغانستان کې د خپل ليدلوري سره سم پر اسلامي بسنټ ولاړې حکومتولۍ د نظام تطبيقول جاري ساتلی. دا هڅې تر يوه بريده د فرمانونو او لارښوونو پر دوامداره صادرولو ولاړې دي، چې د *برحاله* ادارو او د هغوي د کارکوونکو دندې او فعاليتونه تنظيموي، په شمول د *برحاله* امنيتي ادارو چې ډېری کارمندان يې *مجاهدين* دي چې اوس پر امنيتي پرسونل بدل شوي د قانون د تطبيق، نظامي يا د بنديانو چارې پر مخ وړي.

۲. لکه څنګه چې په دې راپور کې بيان شوي، *برحاله* چارواکي په خپلو عامه بيانيو کې په دوامداره توګه پر يووالي، اطاعت او د شريعت پر بنسټ حکومتولۍ ټينګار کوي، په رسنيو کې په *برحاله* اداره کې د ښې حکومتولۍ په رامنځته کولو کې خپلې هڅې روښانه کوي او د خپلو *برحاله* ادارو د شفافيت لپاره مدافعه کوي، په ځانګړې ډول د حساب ورکونې د کلنيو پروګرامونو له لارې. ورته اصول د افغانستان د ملي پراختيا ستراتيژۍ کې چې د ۲۰۲۵ کال د اګست په مياشت کې اعلان شوې هم منعکس شوي، چې د دريو ستنو؛ ښې حکومتولۍ، امنيت او عامه نظم، او ټولنيزې-اقتصادي پراختيا پر بنسټ يو پنځه کلن چوکاټ په ډاګه کوي. په ځانګړې توګه، ستراتيژي دا ارتيا مني چې «په هغو برخو کې پراخه پانګونه او د پام وړ هڅې ترسره شي لکه ... د نظامي پرسونل روزنه ... او د قانونيت او حساب ورکونې د کلتور نهادينه کول».

### الف. شريعت او د طالبانو د مشر فرمانونه

۳. د ۲۰۲۱ کال په اګست کې د واک له ترلاسه کولو وروسته، *برحاله* چارواکو د ۲۰۲۱ کال په سپټمبر کې اساسي قانون وځنډاوه او د افغانستان د پخواني اسلامي جمهوريت د دورې د ټولو قوانينو د بياکتنې بهير يې پيل کړ، څو له شريعت او افغان دودونو سره د هغوي تطابق وارزوي.[5] دغه کار په پای کې په بشپړ ډول د ټولو پخوانيو قوانينو د لغوه کيدو لامل شو،[6] چې په کې د ۲۰۰۹ کال د پوليسو قانون کوم چې د پوليسو صلاحيتونه او د قوې د کارونې په اړه اصول روښانه کړي، د ۲۰۱۸ کال جزا قانون چې قتل، جنسي تېرى او د ژوند او ازادۍ پر ضد نور جرمونه يې جرم بللي، او د ۲۰۱۸ کال د شکنجې د منع قانون شامل دي.

۴. په موازي ډول، د طالبانو مشر او *برحاله* چارواکو په مکرر ډول په ډاګه کړې چې شريعت په افغانستان کې نافذ قانون دی او هغه ادعاوې يې رد کړې دي چې ګواکې د جمهوريت د دورې د قوانينو بياکتنې «قانوني تشه» رامنځته کړې ده.[7] د طالبانو مشر قضايي ارګانونو ته لارښوونه کړې چې د سزاګانو په ګډون خپل فرمانونه د شريعت پر بنسټ صادر کړي؛ دغه لارښوونه د *برحاله* سترې محکمې د رئيس له خوا هم تکرار شوې ده.[8] *برحاله* ستره محکمه د شرعي قوانينو تطبيق د امنيت، ثبات او پراختيا د تأمين او د بې عدالتۍ او بدمرغۍ د له منځه وړلو وسيله ګڼي.[9] همدارنګه، د افغانستان ملي پراختيايي

---

[5] ملګري ملتونه، د سرمنشي راپور د افغانستان وضعيت او د نړيوالې سولې او امنيت لپاره يې اغېزې، ۲۸ جنوري ۲۰۲۲، A/۷٦/٦٦۷–S/۲۰۲۲/٦٤، ۶ پاراګراف. وروسته دا بهير د ۲۰۲۲ کال د اکتوبر د ۲۴ نېټې د ۹ ګڼې فرمان له لارې، چې د تقنيني اسنادو د مراحلو په اړه وو، لا روښانه شو. په دغه فرمان کې د څلور پړاوه ارزونې او تصويب بهير تشريح شوی وو. د فرمان له مخې: هره *برحاله* اداره واک لري چې د خپلو چارو د تنظيم لپاره د «تقنيني اسنادو» لومړنۍ مسوده چمتو کړي. دغه مسوده به د علماوو، متخصصينو او تخنيکي کارکوونکو له يوې ډلې لخوا برابرېږي. *برحاله* عدليې وزارت مسودې ارزوي څو ډاډ ترلاسه کړي چې له شرعي اصولو سره سمون لري، له نورو *برحاله* ادارو د حقوقي متونو سره ټکر نه لري، او بيا لومړنۍ نهايي مسوده ترتيبوي. وروسته د تقنيني اسنادو د ارزونې خپلواک کمېسيون مسوده بيا ګوري او اړين اصلاحات پکې راولي. له دې وروسته مسوده د تصويب لپاره د طالبانو مشر ته وړاندې کېږي. د لا زياتو مالوماتو لپاره وګورئ: د يوناما راپور «له بنديانو سره د چلند راپور» سپټمبر ۲۰۲۳: ۲ ضميمه د *برحاله* بهرنيو چارو وزارت ځواب، ۷۷ پاڼه، د تقنيني اقدامات تر سرليک لاندې.

[6] طلوع نيوز ۲۰۲۴ کال د اپرېل د ۱۲، https://tolonews.com/afghanistan-۱۸۸۲۷۱. همدارنګه د افغانستان د قانون حاکميت سازمان آنلاين، MOF ۸ - د هغې غونډې راپور وګورئ د ۲۰۲۳ کال د جنورۍ په ۱۰ د طالبانو د مشر لخوا يې مشرتوب ترسره شو، https://arlo.online/legislation (انګريزي، دري، پښتو) («د جمهوريت ټول قوانين او مقررات باطل او بې‌اعتباره دي، ځکه اسلام او شريعت هغوی لغوه کوي او آن د هغوی د لغوه کولو لپاره جلا فرمان ته هم اړتيا نشته»). د ۲۰۲۵ کال د اګست تر مياشتې پورې، د *برحاله* عدليې وزارت په ويبپاڼه کې، چې د ۱۹۶۴ کال راهيسې د افغانستان د قوانينو ټولګه پکې خپرېږي، ټول هغه حقوقي متون چې د ۲۰۲۱ کال د اګست له بدلونونو مخکې تصويب شوي وو د «لغوه شويو» په توګه ثبت شوي، په داسې حال کې چې هغه تقنيني اسناد چې وروسته د *برحاله* چارواکو له لوري صادر شوي دي، لکه فرمانونه، حکمونه، هدايات او نور تقنيني اقدامات، د «نافذو» اسنادو په توګه ښودل شوي دي. http://laws.moj.gov.af/ShowLawPersian.aspx.

[7] د ۲۰۲۴ کال د مارچ په ۳۰، *برحاله* عدليې وزارت، https://x.com/MojAfghanistan/status/۱۷۷٤۰٤۱۱۱٥۹٥۷٦۲۱۱۷۱?s=۲۰ اعلان وکړ چې («په افغانستان کې هېڅ قانوني تشه شتون نه لري، ځکه قرآن کريم، د حضرت محمد احاديث او حنفي فقه زموږ د قوانينو اصول او بنسټ دي.») همدارنګه، د ۲۰۲۴ کال د اپرېل په ۲۷مه يې وويل: https://x.com/MojAfghanistan/status/۱۷۸٤۰۷۸۰٦۲٥۲۸۷۲۹۲۱۰ («هغه کسان چې ادعا کوي په افغانستان کې قانوني تشه شته، ناپوه دي او بايد په خپلو عقايدو له سره غور وکړي. وروسته، د ۲۰۲۵ کال د اګست په ۱۱مه، د *برحاله* اداري وياند څرګنده کړه چې «د افغانستان په محکمو کې ټولې پرېکړې د اسلامي احکامو له مخې کېږي. موږ له قانوني تشې سره نه يو مخامخ، او زموږ قانون اسلامي شريعت دی.»).

[8] د *برحاله* اداري وياند د ۲۰۲۲ کال د نومبر ۱۳مه، https://twitter.com/Zabehulah_M۳۳/status/۱٥۹۱۸۲٦٦٥۰۳۳۳۰٦٥۲۱٦?s=۲۰&t=YY۲NjaMG٤NNs۳oEBJr-yMw؛ *برحاله* ستره محکمه، ۹ اګست۲۰۲۵، https://x.com/SupremeCourt_af/status/۱۹٥٤۲۰۹۹٤٤٤۳٥۳۸۰٥۸۲/photo/۱ .

[9] د *برحاله* سترې محکمې د وياند څرګندونې، د ۲۰۲۴ کال د مارچ ۳۱، https://tolonews.com/index.php/afghanistan-۱۸۸۰۸

ستراتيژي، چې د ۲۰۲۵ کال په اګست کې خپره شوه، ژمنه کوي چې په راتلونکو پنځو کلونو کې شريعت د هېواد د قوانينو د بنسټ او په ټولو کچو کې د پرېکړو د اساسي مرجع په توګه په بشپړ ډول نهادينه شي.[١٠]

۵. د شريعت د تطبيق او د شريعت پر بنسټ د نويو قوانينو د جوړولو ترڅنګ،[١١] د طالبانو مشر د ۲۰۲۱ کال په اګست د واک د ترلاسه کولو راهيسې او تر هغې وروسته ګڼ شمېر فرمانونه صادر کړي چې د *برحاله* امنيتي ادارو د پرسونل چلند تنظيموي. دغه فرمانونه د خلکو د خپلسرو نيونو او توقيفونو، شکنجې او ناوړه چلند، تيري او «سزاګانو»، او د پخواني جمهوري حکومت د چارواکو او د افغان ملي دفاعي او امنيتي ځواکونو د غړو لپاره د اعلان شوې عمومي بخښنې د سرغړونو په ضد لاربښوونه کوي.[١٢] د طالبانو د مشر په فرمانونو کې لاندې هغه شامل دي:

- د ۲۰۲۲ کال د جنورۍ ۱۷۵ شمېره فرمان چې د «بنديانو د نظام د سمون اړوند طرز العمل» تصويبوي. دغه فرمان د تحقيقاتو په ګډون د نيول کېدو له شېبې څخه تر توقيف او تحقيق پورې له آزادۍ څخه د محروم شويو کسانو هر ډول شکنجه او ناوړه چلند منع کوي. طرز العمل هغه «چارواکي يا پرسونل» له دندې ګوښه يا مجازات کوي که چيرې يې له کوم بندي سره ناوړه چلند ترسره کړی وي.[١٣]
- د ۲۰۲۲ کال د مارچ ۲۹شمېره فرمان چې د «کشف الحال لپاره د متهمينو د بندي کولو د صلاحيت او بند د مودې» په اړه صادر شوی چې امنيتي او استخباراتي ادارو ته د دې يادونه کوي چې «د توقيف پر مهال بايد له هر ډول شکنجې ډډه وشي، ځکه يوازې محکمه د جزايي پرېکړو کولو صلاحيت لري [...]».[١٤]
- د ۲۰۲۲ کال د مارچ د ۱۵ نېټې ۱۵۲۱ شمېره فرمان په هماغه ورځ صادر شو چې *برحاله* د استخباراتو لوی رياست ته په شمالي ولايتونو کې د شکنجې د راپور شويو ادعاوو د ترلاسه کېدو خبر ورکړل شو، چې پکې په زور په خلکو د اوبو څښلو پېښې هم شاملې وې، چې د ادعاوو د ثابتېدو په صورت کې يې د عواقبو خبرداری ورکاوه.[١٥]
- د ۲۰۲۲ کال د نومبر ۱۲شميره فرمان چې د امنيتي او تصفيې د کميسيون د جوړېدو په اړه دی[١٦]، صراحت لري چې د «امارت» هغه وسله‌وال چارواکي چې خلک ګواښي، شکنجه کوي يا ورته نورې کړنې ترسره کوي، له دندو به ګوښه او نظامي محکمې ته به معرفي شي.[١٧]

۶. يوناما له داسې هيڅ کوم فرمان يا لاربښود څخه نه ده خبره چې د طالبانو د مشر له خوا خپور شوی وي او د *برحاله* امنيتي ادارو له خوا د وسلو په ګډون د قوې کارونه تنظيموي. په هر حال، د ۲۰۲۵ کال په اپرېل کې د عدليې وزارت اعلان وکړ چې د ۱۹۶ تقنيني اسنادو د شرعي ارزونې په لړ کې يې د «پوليسو قانون» هم ارزولی او د نورو «لوړو ارزونو» لپاره يې د تقنيني اسنادو د ارزونې خپلواک کميسيون او بيا د طالبانو مشر ته سپارلی دی.[١٨] لا هم روښانه نه ده چې دغه متن د قوې

[١٠] د افغانستان ملي پراختيايي ستراتيژي، د ۱۴۰۴–۱۴۰۸ کلونو (۲۰۲۵/۲۶ – ۲۰۲۹/۳۰) لپاره، د «ثبات او هوساينې پر لور» تر سرليک لاندې (غيررسمي ژباړه). د *برحاله* رئيس الوزراء د اقتصادي مرستيال دفتر، ۲۶ اګست ۲۰۲۵. https://www.dpmea.gov.af/١٤٠٤-English-News-٨٩

[١١] د طالبانو مشر د ۲۰۲۵ کال د مارچ په ۳۰مه وويل: https://www.youtube.com/watch?v=k-fBIWWwKdY («... هر وزارت... بايد له شريعت سره سم نوي قوانين جوړ کړي، نه دا چې [...] پخواني قوانين کاپي [...]، اصلاح او يا تعديل يې کړي. ما د قوانينو ځينې مسودې بېرته استولې دي، ځکه چې هغه يوازې د پخوانيو قوانينو تعديل شوې بڼې وې.»).

[١٢] سره له دې چې د *برحاله* چارواکو له لوري د اعلان شوې بښنې (عفوې) د حدودو او ساحې په اړه کوم ليکلی وضاحت نه دی خپور شوی، خو عامه څرګندونو دا څرګندوله چې «عمومي عفوه» د پخوانيو دولتي چارواکو او د افغانستان د ملي دفاعي او امنيتي ځواکونو د غړو لپاره د خونديتوب او مصونيت يوه پراخه تضمين ته اشاره کوي. د لا زياتو مالوماتو لپاره د يوناما راپور « د سولې پر وړاندې يو خنډ: په افغانستان کې د پخوانيو دولتي چارواکو او د پخوانيو وسلوالو ځواکونو د غړو پر وړاندې د بشري حقونو سرغړونې» وګورئ.

[١٣] د ۱۷۵ ګڼې فرمان، ۳۳ ماده :(«امنيتي مسؤولين، د بنديانو محافظين او د محبسونو کارمندان د بنديانو د شکنجې، تعذيب، او تعزير حق نه لري»)، ۳۴ ماده : («مسؤولين دې بنديانو ته د تاديب او هغوي سره د چلند په مهال له افراط، تشدد او ناوړه سلوک څخه ډډه وکړي. له بنديانو د ناوړه سلوک له امله مسؤول او کارمند د سزا او حتی له دندې څخه د ګوښه کولو وړ ګڼل کيږي»)؛ ۳۵ ماده («د متهم بندي د تحقيق په جريان کې وهل جواز نه لري، مجرم فقط د اړونده محکمې د حکم له مخې د سزا مستحق ګڼلی شي»)؛ ۳۶ ماده («د بند په موده کې به بندي ته نه کوم ډول تعذيب ورکول کيږي او نه به په زور او جبر اقرارونه ځينې اخيستل کيږي»).

[١٤] د ۲۹ شميره فرمان، د کشف الحال لپاره د متهمينو د بندي کولو د صلاحيت او بندی د مودې په اړه فرمان، د ۲۰۲۲ کال د مارچ ۱۵مه، هغه لارښوونې بيا تکرار کړې چې د ۲۰۲۱ کال د اګست له ۱۵ نېټې مخکې هم نافذې وې. همدارنګه، د ۲۰۲۰ کال د نومبر د ۲۰مې نېټې د د محاکمو له فيصلې پرته د سزا ورکولو او بيا يې د عکاسي کولو د مخنيوي فرمان کې راغلي: («هيڅوک اجازه نه لري چې د محکمې له حکم پرته څوک په لښتو، درو او کيبل ووهي او يا کوم بل ډول تعذيب ورکړي. مجاهدين چې کله څوک اسيران کړي، هغوي که سياسي بنديان وي يا جنايي، د محکمې له پرېکړې پرته د سزا ورکولو حق نه لري.»)
د بشري حقونو د نړيوالو معيارونو له مخې، هغه بدني سزاګانې چې د محکمې په حکم ترسره کيږي، لکه دوره وهل يا د بدن د غړو پرې کول، شکنجه او ناوړه چلند ګڼل کېږي او د شکنجې د مطلق او نه سلبيدونکې ممنوعيت اعمالو په ډله کې راځي. د لا زياتو مالوماتو لپاره د يوناما راپور «بدني سزا او د اعدام سزا» (مې ۲۰۲۳) وګورئ.

[١٥] د استخباراتو لوی رياست ته ۱۵۲۱مه ګڼه فرمان، د ۲۰۲۲ کال د مارچ ۱۵مه. همدارنګه د يوناما د «له بنديانو سره د چلند راپور» (سپټمبر ۲۰۲۳) ته مراجعه وکړئ، ضميمه ۲، د *برحاله* بهرنيو چارو وزارت ځواب، ۷۰مه پاڼه (د *برحاله* کورنيو چارو وزارت ځواب)، چې پکې د بنديانو د شکنجې او ناوړه چلند د مخنيوي په اړه اړوند مالومات وړاندې شوي دي.

[١٦] همدارنګه په انګليسي ژبه کې د امنيتي «تصفيې» کمېسيون په نوم هم ژباړل شوی دی.

[١٧] د ۱۲ ګڼې فرمان، د امنيتي او تصفيې کمېسيون د جوړښت، دندو او صلاحيتونو په اړه، د ۲۰۲۲ کال د نومبر ۲۲مه، ۹مه ماده.

[١٨] *برحاله* د عدليې وزارت: https://x.com/MojAfghanistan/status/١٩١٥٢٧٦٧٢٢٣٥١٥٤٢٥٩٩. همدارنګه پورته ۵ لمنليک ته مراجعه وکړئ.

کاروني د تنظیم احکام هم لري که نه، او که يې لري، آیا د ټولو *برحاله* امنيتي ادارو لپاره د تطبیق وړ دی که نه. تر اوسه مالومه نده چې آیا دا تائید شوی یا نه.

۷. یوناما داسې کوم فرمان یا لارښوونې څخه نه ده خبر چې د قربانیانو حقونه، لکه د جبران غوښتنه، حقیقت باندې پوهېدلو حق او د تاوان ترلاسه کول، په څرګند ډول تضمین کړي. د دولتي رسنیو د راپورونو له مخې، «اسلامي جزايي قوانین، لکه قصاص،[19] حدود او تعزیري سزاوې، د ټولنیز عدالت، امنیت او د جرمونو د مخنیوي په رامنځته کولو کې مهم رول لري او د دین، ژوند، عقل، نسل، عزت او مال په څېر بنسټیز بشري حقوق خوندي کوي.» دا همدارنګه زیاتوي چې «د قصاص احکام د اشخاصو د خوندیتوب ساتنه کوي، د الکولو د منع قوانین د عقلي سلامتیا ساتنه کوي، د زنا او قذف منع قوانین د نسل او حیثیت ساتنه کوي، او د غلا منع قوانین د ملکیت حقونه خوندي کوي». سربېره پر دې، «د دغو شرعي احکامو تطبیق عدالت او انصاف» رامنځته کوي او د مجرمینو په اصلاح کې مرسته کوي، ځکه کله چې مجرمین «د خپلو اعمالو د پایلو او سزاوو درد ویني، په راتلونکې کې له جرم څخه منع کېږي».[20]

## ب. د طالبانو د مشر او په افغانستان کې د *برحاله* لوړپوړو چارواکو مکرر عامه ټینګارونه، او د افغانستان د ملي پراختیايي ستراتېژي

۸. د واک له ترلاسه کولو راهیسې، د طالبانو مشر او لوړ پوړو واکمنو چارواکو وخت نا وخت د عامه بیانیو او ویناوو له لارې د طالبانو د مشر هغه لارښوونې تکرار کړې چې شکنجه او ناوړه چلند منع کوي،[21] د سرغړوونکو لپاره د مجازاتو یادونه کوي، او د *برحاله* امنيتي او استخباراتي ادارو د غړو په ګډون، له چارواکو څخه يې د شریعت پر بنسټ چلند ته د پابندۍ غوښتنه کړې ده. دغه پیغامونه چې د *برحاله* مشرتابه له خوا وړاندې شوي او د عامه غونډو او ټولنیزو رسنیو له لارې خپاره شوي، پر نظم، حساب ورکونې او زغم ټینګار کوي. په دغو پیغامونو کې د پخوانیو دولتي چارواکو لپاره د اعلان شوې عمومي بخښنې د درناوي غوښتنې او د خپلسرو نیونو او تیریو پر وړاندې خبرداری هم شامل و. په دې اړه څرګندونې د طالبانو د مشر، د دفاع وزارت د *برحاله* وزیر، د استخباراتو عمومي ریاست[22] د رئیس او د *برحاله* رئیس الوزرا د دفتر[23] له خوا ترسره شوي، د پخوانیو دولتي چارواکو په اړه له اعلان شوې بخښنې د سرغړونو په ګډون چې کله نا کله تایید شوې.

---

[19] د بشري حقونو د نړیوال قانون له مخې، د اعدام سزا کارول په ذاتي توګه د بشري حقونو د نړیوال قانون له بنسټیزو اصولو سره په ټکر کې ګڼل کېږي، په ځانګړي ډول د ژوند له حق او د شکنجې او ظالمانه، نا انساني یا له سپکاوي ډک چلند او مجازاتو څخه د خلاصون له حق سره. یوناما د سترې محکمې، *برحاله* کورنیو چارو وزارت او د امر بالمعروف، نهی عن المنکر او شکایتونو اورېدو وزارت په ګډون د *برحاله* چارواکو د بېلابېلو ادارو د هغو ګڼو خبرتیاوو هرکلی کوي چې پکې يې د قتل د قضیو (د هغو مواردو په ګډون چې محکمې حکمونه شوې وي) د منځګړیتوب په برخه کې د خپل رول یادونه کړې ده، څو د قربانیانو د کورنیو بخښنه او د مالي تاوان (دیه) منل ترلاسه شي او د اعدام د سزا له تطبیق څخه مخنیوی وشي. خو د *برحاله* امنيتي ځواکونو له خوا د سرغړونو د قضیو د څېړنې او حل‌وفصل د څرنګوالي په اړه د شفافیت د نشتون له امله، دا څرګنده نه ده چې له دغو راپور شویو منځګړیتوبونو څخه څو يې د *برحاله* امنيتي ځواکونو د سرغړونو له قضیو سره تړاو درلود او یا په څو مواردو کې د قربانیانو کورنیو ته مالي جبران ورکړل شوی دی.

[20] د افغانستان رسمي غږ، ۲۸ فبروري ۲۰۲۴، «د اسلامي جزايي قوانینو د تطبیق له لارې د ټولنیز ثبات پیاوړتیا»، https://www.alemarahenglish.af/٦٠١٤٩-٢/.

[21] د بېلګې په توګه، د ۲۰۲۳ کال د ډسمبر په ۳۱، د دفاع وزارت سرپرست وزیر، https://x.com/moiafghanistan/status/١٧٤١٣٩٨٥٦٠٩٠٠٢٥١٩١٢?s=٢٠ (د طالبانو د مشر د فرمان له مخې، د شکمنو کسانو شکنجه او ځورول، او همدارنګه د محکمې له حکم پرته یا له ټاکلې مودې څخه زیات د چا ساتل منع دي. بندیان باید د تحقیقاتو پر مهال له فزیکي او رواني شکنجې سره مخ نه شي. هر هغه څوک چې د طالبانو د مشر له حکم څخه سرغړونه وکړي، سمدستي به ونیول شي او سزا به ورکړل شي)؛ د ۲۰۲۴ کال د فبروری په ۲، https://x.com/TOLOnews/status/١٧٥٣٣١٥٠٩١٢٥٥٣٠٠٥٧١?s=٢٠ (د *برحاله* امر بالمعروف او نهی عن المنکر د وزارت د نظامي څانګې سرپرست بیا ټینګار کړی چې هېڅوک حق نه لري د محکمې له حکم پرته مجرمینو ته خپلسري سزا ورکړي)؛ د ۲۰۲۴ کال د ډسمبر په ۲۴، د *برحاله* ریس الوزرا دفتر، https://x.com/OCS_AFG/status/١٨٣٨٥٣٦٥٦٦٧٨٥٨٣٩٤٢٦ (د طالبانو د مشر څرګندونو خپرول چې *برحاله* چارواکو ته د دندو په ترسره کولو کې د غفلت پر ضد خبرداری ورکوي، د لاس لاندې کسانو د کړنو په ګډون، د هغوی د مسؤلیت یادونه کوي، او د «جهاد د وخت» هغه مثال يې وړاندې کړ چې پکې د زندان یو چارواکی ځکه له دندې ګوښه شوی و چې ادعا يې کوله د خپل مرؤس له خوا د توقیف په جریان کې د یوه کس له وژل کېدو ناخبره و).

[22] *برحاله* د استخباراتو لوي ریاست، ۲۰۲۴ جولاي ۲۵، د ماسپښین ۱۲:۱۷ بجې، https://x.com/GDI١٤١٥/status/١٨١٦٣٧٩٧٠٤٥٤٨٦٥٩٦٣١؛ او د ماسپښین ۱۲:۲۲ بجې، https://x.com/GDI١٤١٥/status/١٨١٦٣٨٠٩٩٧٢٥٠٠٤٤١٥٦ (*برحاله* د استخباراتو لوي ریاست رئیس وویل چې *برحاله* د استخباراتو لوي ریاست کارکونکي «د اسلامي شریعت او قانون تابع دي، او د تخلف په صورت کې ورڅخه تحقیقات کیږي، اوس د استخباراتو لوي ریاست مصلح او د قانون تابع ارګان دی.»). *برحاله* د استخباراتو لوي ریاست دا موضوع د ۲۰۲۶ کال د فبروری په ۹ بیا تائید کړه، https://x.com/GDI١٤١٥/status/٢٠٢٠٨٧١٥٣٤٩١١٣٢٨٣٥٧?s=٢٠.

[23] *برحاله* د رئیس الوزرا مرستیال، حنفي، ۲۰۲۳ سپتمبر ۴، https://www.ariananews.af/violators-of-amnesty-decree-will-be-prosecuted-hanafi/ (د ۲۰۲۳ کال په آګست میاشت کې، د پخواني حکومت د چارواکو او د پخواني افغان ملي دفاعي او امنيتي ځواکونو د غړو پر وړاندې سرغړونو په اړه د یوناما د راپور څخه وروسته وویل چې د غچ هره کړنه جرم ګڼل کیږي او مرتکبین به يې تعقیب شي)؛ *برحاله* د دفاع وزارت د امنيتي او تصفیوي چارو کمیسیون خبري کنفرانس، ۲۰۲۳ دسمبر ۳۱، https://www.youtube.com/watch?v=xzX_sZTk٠Gg (د بښنې ژمنه يې بیا تائید کړه او وی منله چې قضیو په اړه «تحقیق شوی [او] ډېرې يې د شخصي دښمنیو له مخې دي، او قضیې په محکمو کې تر څېړنو لاندې دي»)؛ ۲۰۲۴ اپریل ۱، https://www.alemarahenglish.af/islamic-emirate-at-a-glance-٢/ (*برحاله* چارواکي، *د عمومي بښنې څخه متابعت* په اړه وویل «د عمومي بښنې د فرمان د صادرېدو څخه وروسته، ځینو کسانو سره، په بغاوت کې د ښکیلتیا او د خصومت آمیزه کړنو له امله چلند شوی.»).

۹. د يادونې وړ ده، چې د ۲۰۲۴ کال د اپریل په ۵، د طالبانو مشر، «مجاهدينو او اسلامي امارت چارواکو» ته د لارښوونو يو لست وړاندې کړ، امر يې وکړ چې ټيټپوړو چارواکو سره دې شريک کړل شي «تر څو مونږ وکولای شو... خپل ملت ته په سمه توګه خدمت وکړو او شرعي حقوق يې ورکړو».[24]دا روښانه کوي چې:

- «ټول چارواکي بايد دا ډاډمن کړي چې [...] د دوي دندې په اغيزمن ډول تر سره شوي تر څو د افغانستان د خلکو حقوق رعايت شي [...]. که چيرې کوم چارواکی د مسوليتونو څخه غفلت وکړي، د هغوي غفلت د شرعي حقوقو له مخې نه بښل کيږي.
- -امنيت په سختۍ او ډيرو وژنو سره نه ټينګيږي؛ بلکې امنيت د شريعت او عدالت سره تړلی دی. د عدالت او شريعت خلاف کيدل ناامني رامنځته کوي. ځکه، د ځان اصلاح اړينه ده، د هر چارواکي او شخص ناسم کارونه ټول نظام باندې منفي اغيزې کوي.
- -هيڅوک بايد په ناحقه ونه ځورل شي، که کوم څوک بندي کيږي، له دوی څخه بايد مناسبې پوښتنې وشي ترڅو مالومه شي چې ايا دوی کوم شکايت لري يا دوی په کوم جدي جرم تورن دي يا نه. بايد پاملرنه وشي ترڅو ډاډ ترلاسه شي چې هيڅوک په ناحقه نه ځورول کيږي.
- د نورو له غلطيو او بدو کړنو څخه درس واخلئ، په ځانګړې توګه د هغو کسانو څخه چې بد شهرت لري. تر څو د هغوی کړنې تاسو ته درياد کړي چې ښه کارونو او اخلاق رعايت کړی.»

۱۰. سربيره پر دې، د ۲۰۲۵ کال د مې مياشتې په ۱۰، د طالبانو مشر، *برحاله* د استخباراتو لوي رياست چارواکو ته په يوه سمينار کې، پداسې حال کې چې د دښمنانو د فکري او تخريبي پلانونو په وړاندې او شريعت په تطبيق کې د *برحاله* استخباراتو لوي رياست يې د اسلامي نظام د «ملا تير» وباله، استخباراتي چارواکو ته يې سپارښتنه وکړه چې «خلکو سره رحم او ښه چلند وکړي، په شبهاتو باندې خلکو ونه نيسي، د بنديانو سره ظلم ونکړي، او په شريعت استقامت وکړي».[25]

۱۱. لوړپوړي او د قوماندې او څارنې چارواکي، د صداقت نه ډک کاري کلتور په رامنځته کولو کې اساسي رول لوبوي.[26] منظم او دوامداره عامه پيغامونه کولای شي په ټولو وزارتونو کې ارزښتونو ته د ژمنتيا په بنسټيز کولو کې مرسته وکړي، او ټولو پوړونو ته ورسيږي. که څه هم د تکرار په لحاظ دا چاره محدود ده، په عامه غونډو کې د *برحاله* لوړپوړو چارواکو لخوا دوامداره يادونه يې، او ټولنيزو رسنيو له لارې د دوی نشرات کولای شي ټولو پوړونو ته او په ټول هيواد کې د لارښوونو په خپرولو کې مرسته وکړي.

۱۲. همدارنګه *برحاله* چارواکو او *برحاله* وياند، په دولتي رسنيو کې، په کراتو د وزارتونو د کلنيو فعاليتونو او لاسته راوړنو په راپورونو کې، په روڼتيا او حساب ورکونه کې د «امارت» په کلک تعهد ټينګار کړی.[27] *برحاله* چارواکي ټينګار کوي چې روڼتيا «د مديريت ښه کولو [او] د فساد د مخنيوي لپاره اړتيا ده» او د «لاسته راوړنو د ښودنو...» ورهاخوا «د شته واقعيتونو هراړخيز ليدلو [لپاره]، ننګونې، نيمګړتياوې او د خلکو لپاره اصلاحي پلانونه هم بايد شريک کړل شي...».[28]

۱۳. د ۲۰۲۵ کال په آګست کې، *برحاله* د رئيس الوزار مرستيال د افغانستان د ملي پراختيا تګلاره اعلان کړه، او ادعا يې وکړه چې د هغې پلي کول به روڼتيا او حساب ورکونه زياته کړي او د خلکو او نړيوالو باور به «په نظام» زيات کړي.[29] دا تګلاره پنځو کلونو لپاره، د دريو رکنونو پر بنسټ - ښه حکومتولي، امنيت او عامه نظم، او ټولنيز او اقتصادي پرمختګ - باندې ولاړه ده. ښه حکومتولۍ په برخه کې تګلاره «د قانون حاکميت او د يو شان پلي کيدو» په اړتيا باندې ټينګار کوي، او د دې

---

[24] *برحاله* وياند، ۲۰۲۴ اپريل ۵، د طالبانو د مشر پيغام، https://justpaste.it/dghxm.

[25] *برحاله* وياند، ۲۰۲۴ مې ۱۰، https://x.com/Zabehulah_M۳۳/status/۱۹۲۱۲۷۹۵۱۲٤۰٤۲۲۱۹٦۷؛ او https://x.com/ARG_۱۸۸۰/status/۱۹۲۱٤۳۷۸۸۱۰٤۷۹۱۲۷۹۸.

[26] د مخدره توکو او جرايمو په اړه د ملګرو ملتونو دفتر، Handbook on Police Accountability, Oversight and Integrity (English)، ۲۰۱۱- ۵ څپرکی، ۷۵-۷٦ مخونه (د پوليسو د کړنو او عملياتو څخه د مخه، پر مهال او وروسته: د داخلي حساب ورکونې پياوړي کول او د پوليسو د صداقت ترويج کول).

[27] *برحاله* وياند، ۲۰۲۵ جولای ۱٦، https://www.alemarahenglish.af/structuring-good-governance-annual-reporting-practices-in-the-islamic-emirate/ («د چارواکو تر منځ د حساب ورکونې په بنسټيز کولو» او «د حکومت په اړه د خلکو ليدلوري اصلاح کولو» د اړتيا په اړه يادونه کړې)؛ ۲۰۲۴ مې ۱۰، https://www.alemarahenglish.af/institutional-reform-a-step-towards-governance-stability/، او ۲۰۲۴ مې ۱۸، https://www.alemarahenglish.af/propaganda-against-the-islamic-emirate-and-its-devastating-consequences-on-afghanistan/.

[28] کابل تايمز، ۲۰۲۵ جولای ۲۰، د افغانستان اسلامي امارت حساب ورکولو ته ژمن دی، https://thekabultimes.com/iea-committed-to-accountability/.

[29] د افغانستان د ملي پراختيا تګلاره، ۱۴۰۴-۱۴۰۸ کال (۲۰۲۵/۲٦-۲۰۲۹/۳۰) «د ټيکاو او هوساينې په لور». *برحاله* د رئيس الوزرا د اقتصادي چارو مرستيال دفتر، ۲۰۲۵ آګست ۲٦، https://www.dpmea.gov.af/۱٤۰٤-English-News-۸۹.

یادونه کوي چې «د روڼتیا د ډاډمنولو او عامه خدمتونو ښه والي کې» د دوی اداري باید «آسانه او پراخ لاسرسی» برابر کړي، او «ملت ته د خپلو کړنو حساب ورکړي».

۱۴. امنیت او عامه نظم په اړه چې «ټولنیز هوساینې» لپاره بنسټیز ګڼل شوی، تګلاره صراحت لري چې حکومتونه باید «د نظامي پرسونل په روزنه کې... د قانونیت او حساب ورکوونې کلتور په بنسټیز کولو کې... او داسې نورو برخو کې ډېره پانګونه او ډېرې هڅې ترسره کړي». د دې موخې لپاره تګلاره تصریح کوي چې «امارت... امنیت او لاسرسي ډاډمنولو ته، [...] امنیتي او قضايي برخو کې قوانینو او قواعدو اصلاح او نوي کولو ته، د اغیزمنو او واضح سزاګانو ټاکلو ته، امنیتي او دفاعي ځواکونو ته روزنیز او تعلیمي پروګرامونو ترسره کولو ته، [او] په ځایي او نړیواله کچه ګډو ناستو او ورکشاپونو ترسره کولو ته ژمن دی».[30]

## ب. په فرمانونو او نورو داخلي لارښوونو کې د بندیزونو ځاي پر ځای کول

۱۵. د شکنجې او ناوړه چلند د منع په اړه د طالبانو د مشر د فرمان سربېره، *برحاله* امنیتي ادارو هرې یوې راپور ورکړ چې د خپلو چارو او پرسونل د مدیریت لپاره به نور لارښوونې یا طرزالعملونه ترتیب کړي.[31]

*۱۶.* *برحاله* د کورنیو چارو وزارت لرټرلږه په دوو داخلي طرزالعملونو کې چې د *برحاله* پولیسو چارې تنظیموي، د شکنجې او ناوړه چلند د منعې په اړه د طالبانو د مشر لارښوونې ځای پر ځای کړې، دا طرزالعملونه عبارت دي له: د ۲۰۲۲ کال د جنورۍ میاشتې «د امنیتي حوزو او ولسوالیو د امنیې قوماندانیو د اجراآتو کړنلاره»[32] او د ۲۰۲۳ کال د جولای د میاشتې «د مظنون او متهم د ځارنې مودې د ورځو طرزالعمل».[33] د منع شوو چارو د ترسره کولو په صورت کې، دواړه طرزالعملونه د شرعي قانون سره سم د تعقیب غوښتنه کوي.

۱۷. سره د دې چې *برحاله* د استخباراتو لوي ریاست په عامه ډول ادعا کوي چې د راپورونو له مخې د طالبانو د مشر د بندیانو د نظام د سمون اړوند طرزالعمل سره سم «خپلې چارې د جامع او بشپړ قانون له مخې چې د شریعت څخه اخیستل شوی ترسره کوي»، او «د هغه د پلې کیدو څخه په جدي ډول څارنه کوي»،[34] تر دې دمه یې د یوناما سره د داسې یوې لارښوونې کاپي نده شریکه کړې، کوم چې د دوي د پرسونل چلند تنظیم کړي.

۱۸، سربېره پر دې، *برحاله* د کورنیو چارو وزارت او *برحاله* د استخباراتو لوي ریاست یوناما ته خبر ورکړ چې هغوي داسې لارښوونې صادرې کړې چې د ادعا له مخې د ځواک او وسلو د کارولو اړوند نړیوالو نورمونو سره همغږې دي،[35] خو تر اوسه یې د یوناما سره کاپي ګانې نه دی شریکې کړې.

۱۹. په پای کې، پداسې حال کې چې دا روښانه نده چې برحاله د زندانونو د چارو د سمون اداري، د پرسونل د چلند په اړه، د طالبانو د مشر د بندیزونو ورهاخوا، کوم داخلي لارښود صادر کړی یا نه، د راپورونو له مخې برحاله د زندانونو د چارو د سمون لوي ریاست د هیواد په کچه، برحاله زندانونو ته وخت په وخت لارښودونه لیږلي دي. د راپور له مخې، دا لارښودونه

---

[30] دا تګلاره د امنیت او سرحدونو د ساتنې پیاوړتیا ته د لومړیتوب ورکولو وړاندوینه کوي، او دغه لارې ورته وړاندې کوي: د امنیت او دفاعي سکتور بیارغونه او اصلاحات؛ د اسلامي شریعت او د وخت اړتیاوو سره سم د امنیتي او دفاعي ادارو د نصاب بیاکتنه او پراختیا؛ د امنیتي او دفاعي ځواکونو د ظرفیت او وړتیاوو لوړول. د افغانستان د ملي پراختیا تګلاره، ۳ برخه- ملي لومړیتوب لرونکي پروګرامونه.

[31] دا مالومه نده چې عملیاتي لارښوونې به د *برحاله* وزارتونو په کچه تائید شي یا به د قانون جوړونې د پروسې څلور ګوني مرتبې طی کوي. پورتنۍ ۵ لمنلیک وګورئ.

[32] په لست شوو موخو کې «د پولیسو له خوا وګړو ته په ځواب ورکولو زیاتوالی» او «د هیوادوالو شکایتونو ته په وخت رسیدګي او د انساني کرامت درناوی او ساتنه کول» پکې رانغاړل شوي (۲ ماده).
کړنلاره لارښوونه کوي چې «د افغانستان د اسلامي امارت د پولیسو منسوبین باید د مظنون او متهم د وهلو ، توهینولو او سپکاوي څخه جداً ځانونه وساتي» او په زور او پرته د رضایت څخه د اظهاراتو او اعتراف اخیستلو څخه دې ډډه وکړي (۶ ماده)، دا کړنلاره د دې وړاندوینه کوي چې متضرر کولای شي شکایت وکړي «د پولیسو په کړنو نیوکه وکړي» (۵ ماده) او د حوزو او ولسوالیو امنیه قوماندانی «د سرغړونو او خپلسریو په صورت کې به قانوني تعقیب سره مخ شي» (۱۲ (۱۴) ماده).

[33] طرزالعمل «د مظنون شخص د نیولو پر مهال او د اجباري اعتراف اخیستلو په پار د هغه روحي، جسمي تعذیبولو او تعزیرولو» په منع باندې تاکید کوي (۱۶ ماده). د «تعذیب او تعزیر (شکنجه)» په تعریف کې یې دغه موخې شاملې کړې، د ځار په موده کې د حقایقو موندل یا د دوسیې د کشفي پاڼو تکمیلول یا د واقعي مظنونینو پیژندل (ماده ۴(۱۷)). سربیره پر دې، «د تعذیبولو او تعزیرولو (ځورولو) مرتکب د اسلامي شریعت د حکمونو مطابق د پوښتنو او ګرویږنو او عدلي تعقیب لاندې راځي» (ماده ۱۲ (۱).

[34] *برحاله* د استخباراتو لوي ریاست، ۲۰۲۴ جولای ۲۵، https://x.com/GDI١٤١٥/status/١٨١٦٣٧٩٧٠٤٥٤٨٦٥٩٦٣١،
https://x.com/GDI١٤١٥/status/١٨١٦٣٨٠٩٩٧٢٥٠٠٤٤١٥٦؛ او ۲۰۲۶ فبروري ۹،
https://x.com/GDI١٤١٥/status/٢٠٢٠٨٧١٥٣٤٩١١٣٢٨٣٥٧?s=٢٠.

[35] *برحاله* د کورنیو چارو وزارت د کابل ولایت د امنیه قوماندانی ویاند، ۲۰۲۲ فبروري ۲۲،
https://twitter.com/khalidzadran٠١/status/١٤٩٦١٣٨١٠٦٠٢١٤٩٨٨٨٠?cxt=HHwWgMCyhcfrrMMpAAAA (د مراجعینو سره د چلند په اړه د کابل پولیسو امنیه قوماندانۍ ته شپږ ماده ایز لارښوونه لیږلې، په ګډون د: د پیښو د تعقیب او نیونې پرمهال «د هر ډول شکنجې، ځورونې او توهین څخه په کلکه ډډه وکړئ»؛ د ګزمې پر مهال «په هر چا فایر کول» منع کوي، مګر دا چې د ځان څخه دفاع وي؛ او خبرداری ورکوي چې «له پورتنیو مواردو څخه سرغړونکي کسان په کلکه او له ځنډ پرته نظامي محکمې ته سپارل کیږي.»).

د بندیانو د شکنجې او هغوي سره د ناوړه چلند د منعې یادونه کوي، د زندانونو د برحاله رئیسانو پر مسولیت ټینګار کوي چې د ټیټ پوړو له خوا یې رعایت ډاډمن شي، او د نه رعایت په صورت کې، د داخلي څېړنو او نظامي محکمو ته د قضیو بالقوه احاله کولو په ګډون، به پایلې ولري.[٣٦]

٢٠.	د دریو *برحاله* ادارو اړوند، یوناما د راپور ورکوني یا د منع شوو سرغړونو د څېړنو اړوند اضافي پلې کیدونکې طرزالعملونو څخه هیڅ مالومات نلري.

## ٢.	د څارنې میکانیزمونه او پایلې يې

٢١.	اغیزمنه حساب ورکونه پیاوړو داخلي او بهرنیو میکانیزمونو ته اړتیا لري. د *برحاله* امنیتي منسوبینو د چلند په اړه د طالبانو د مشر فرمان پلې کولو لپاره د *برحاله* امنیتي ادارو مشران باید اغیزمن داخلي میکانیزمونه او طرزالعملونه ترتیب کړي تر څو داخلي نظم، کنترول او د خپلو منسوبینو څخه څارنه ډاډمنه کړي. په دې کې داخلي پالیسي ګانې، طرزالعملونه او قواعد شامل دي کوم چې اغیزمن داخلي راپور ورکول او د ثبت سیستمونه، څېړنې، او د صادر شوو فرمانونو څخه د سرغړونو اړوند جرایمو لپاره حساب ورکول، وړاندې کوي، لکه د تأدیبي اقداماتو او هغو میکانیزمونو له لارې چې خلکو ته د تدقیق اجازه ورکوي.[٣٧]

٢٢.	دا همدا راز داسې خپلواکو بنسټونو ته اړتیا لري چې د قوانینو پر بنسټ او د سرغړونو په نظر کې نیولو سره، د څېړنو او مناسبو اقداماتو د ترسره کولو صلاحیت ولري.[٣٨] د ٢٠٢١ کال د آګست میاشتې د ١٥ راپدیخوا، *برحاله* چارواکو د بشري حقونو میکانیزمونه چې د څارنې رول یې درلود ، لکه د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون، لغوه کړل او د لوېې څارنوالۍ ماموریت - چې د جمهوري حکومت پرمهال یې د څېړنو مسولیت په غاړه درلود - کې یې بدلون راوست. په هر حال، نور میکانیزمونه، د هغو په ګډون چې نوي رامنځته شوي، په *برحاله* امنیتي چارواکو تر یوه بریده باندنۍ څارنه ترسره کوي.

### الف.	په *برحاله* د کورنیو چارو وزارت، د استخباراتو لوي ریاست او د زندانونو د چارو د سمون اداره کې تشکیلات او داخلي طرزالعملونه

٢٣.	*برحاله* د کورنیو چارو وزارت، *برحاله* د استخباراتو لوي ریاست او *برحاله* د زندانونو د چارو د سمون اداره، پخپلو نظارت خونو کې د بندیانو د وضعیت د څارنې لپاره ځانګړې ریاستونه رامنځته کړي دي،[٣٩] همدارنګه د داخلي امنیت ریاستونو ته یې دنده سپارلې تر څو د خپل پرسونل د چلند څخه، د جنایي جرمونو په ګډون، څارنه وکړي. پداسې حال کې چې یوناما هڅه وکړه چې د *برحاله* امنیتي ارګانونو سره د شته داخلي طرزالعملونو په اړه، کوم چې داخلي انضباط او حساب ورکونه پیاوړې کوي، خبرې وکړي، یوازې *برحاله* د کورنیو چارو وزارت ځینې طرزالعملونه شریک کړل چې چارې تنظیموي (جزئیات یې لاندې لیکل شوي).

٢٤.	د آزادۍ د سلب ځایونو څخه د څارنې په اړه، *برحاله* د کورنیو چارو وزارت د بشري حقونو ریاست په لومړي کې د ٢٩ ګڼه فرمان سره سم، *برحاله* چارواکو ته منسوب شوو سرغړونو لکه وژنې، شکنجې یا ناوړه چلند په اړه څېړنې کوي. ریاست وروسته کیدای شي ادعاګانې *برحاله* د کورنیو چارو وزارت د داخلي امنیت لوي ریاست ته احاله کړي، کوم چې د نورو چارو تر څنګ، هغه کسان احضاروي او ټول هغه جرایمو په اړه څېړنې کوي چې *برحاله* د پولیسو منسوبین په کې ښکیل

---

[٣٦] د بیلګې په ډول، *برحاله* د زندانونو د چارو د سمون اداري، د بندیانو د وهلو، توهین او ناوړه چلند په اړه ۶ ګڼه لارښود، ٢٠٢۴ جولاي ١٠

[٣٧] همدارنګه ( ۵ برخه) کې سپارښتنې او ضمیمه (وي اف «د اغیزمنې حساب ورکونې لپاره مهم پروسیجرونه او میکانیزمونه») وګورئ. د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر دفتر، د قانون پلې کوونکو چارواکو لپاره د بشري حقونو په اړه کتاب، ٢٠٢۵- Chapter ١٩: Law enforcement and human rights in Command and Control, Management and Organization; Chapter ٢١: Law enforcement and accountability for human rights violations – ١. د قانون پلې کونکو ادارو ترمنځ داخلي کنترول.

[٣٨] د بشري حقونو کمیټه، د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالی کمیشنر د دفتر څېړنه، په ملي او نړیواله کچه، د بشري حقونو د سرغړونو او ناوړه ګټې اخیستنې څخه مخنیوی لپاره د قانون د حاکمیت او حساب ورکونې رول، ٢٠٢۴ سپتمبر ١١، A/HRC/۵۷/٢٧، ١١، ٢۵-٢۴، ۵٢ (ب)، (ج)، ۵۴ پراګرافونه. همدارنګه د قانون د پلې کولو منسوبینو لپاره د چلند د کوډ اغیزمن پلې کولو لپاره لارښودونه، برخه ١ ب (٣)'تأدیب او څارنه' .

[٣٩] *برحاله* د استخباراتو لوي ریاست او *برحاله* د کورنیو چارو وزارت د نظارت خونو څخه څارنه ترسره کول د دې ادارو د «بشري حقونو ریاستونو»؛ او *برحاله* د زندانونو د چارو د سمون د ادارې د څارنې ریاست، د دندې یوه برخه ده. همدارنګه د هرې یادې شوې ادارې په اړه، د بندیانو راپور اړوند، *برحاله* د بهرنیو چارو وزارت ځواب وګورئ.

وي.[٤٠] څېړنې او موندنې *برحاله* د کورنیو چارو وزارت د پولیسو د حقونو لوی ریاست ته راجع کیږي - کوم چې د راپورونو له مخې د *برحاله* پولیسو لخوا ترسره شوي جرمونه، که هغه د دندې پر مهال وي یا پرته له دندې، که په مرکز کې وي او که د ریاستونو په کچه – بررسي کوي او د نورو اقداماتو لپاره یې «اړوند دفتر سره» شریکوي. د هغو قضیو لپاره اداري تأدیب په نظر کې نیول کیږي چې نظامي محکمو ته د احالې وړ نه ګڼل کیږي، په دې کې اخطاریه، لرې پرتو قطعو کې د بیاګمارنې وړاندیز، د منظمې ترفیع ځنډول (په رتبه/قدم کې) یا د چارواکو لخوا د تشویق یا ستاینې ردول په کې شامل دي.[٤١]

٢٥. سربیره پر دې، د ٢٠٢٥ کال د جون په ١، د «حساب ورکونې ډاډمنولو، روڼتیا لوړولو،» او « د نږدې څخه د پولیسو فعالیت څارلو» لپاره، *برحاله* د کورنیو چارو وزارت دا اعلان هم وکړ چې خلک کولای شي په مستقیم ډول، د پولیسو د چلند په اړه - په ګډون د «ناسمو اجراآتو، ناوړه ګټه اخیستنه، ځورونه، یا فساد»- اړوند تحقیقاتو لپاره د تفتیش مفتشینو ته شکایتونه وسپاري، او په ټولو ٣٤ ولایتونو کې د تفتیش مفتشینو د اړیکو جزئیات یې شریک کړل.[٤٢] د دې نه وروسته، د ٢٠٢٥ کال جولای میاشتې په ٧، *برحاله* د کورنیو چارو وزارت یو نوی لارښود اعلان کړ چې له مخې یې *برحاله* چارواکي او نظامي منسوبین باید په رسمی وخت کې یونیفورم واغوندي تر څو د پولیسو ځواکونه د عوامو لخوا وپېژندل شي،[٤٣] دا اقدام د *برحاله* پولیسو لخوا د جرمونو او ناوړه چلند اړوند حساب ورکولو په لور یو مثبت ګام دی.

٢٦. په *برحاله* استخباراتو لوي ریاست کې، د بشري حقونو ریاست د نظارت خونو څخه څارنه کوي او راپور یې ورکوي، دا ریاست د بشري حقونو اړوند د راپور شوو شکایتونو لکه د استخباراتو لوي ریاست په نظارت خونو کې شکنجه یا ناوړه چلند، د تحقیق بشپړ صلاحیت لري. دا ریاست هغه قضیو کې چې ادعاګانې پیدا کړي، برحاله د استخباراتو لوي ریاست «رهبرۍ » ته یې د بیاکتنې او تعقیب لپاره راجع کوي. په ځینو مواردو کې کیدای شي نظامي محکمو ته یې راجع کړي.[٤٤] له دې ورهاخوا، *برحاله* د استخباراتو لوي ریاست د داخلي امنیت ریاست شکایتونه ترلاسه کوي او *برحاله* د استخباراتو ټول پرسونل لخوا ترسره شوي جرمونه څېړي. د راپورونو له مخې، یو داخلي کمیسیون یا د «شکایتونو اوریدلو ریاست» - د جرم د شدت په ګډون – د هرې قضیې انفرادي بیاکتنه ترسره کوي، ترڅو مالومه کړي چې یو غړي ته باید تأدیبي سزا (داخلي) ورکړل شي، له دندې ګوښه شي، یا قضیه یې *برحاله* نظامي محکمو ته راجع شي. که چیرې قربانیان په مستقیم ډول یوې *برحاله* نظامي محکمې ته شکایت وکړي، محکمه په بشپړه توګه قضیه څېړي او فیصله کوي.

٢٧. همدارنګه د ٢٠٢٦ کال د فبروری په ٩، *برحاله* د استخباراتو لوي ریاست خلکو ته د تیلیفون دوه شمیرې اعلان کړې تر څو *برحاله* د استخباراتو لوي ریاست منسوبینو او چارواکو په اړه خپل شکایتونه ثبت کړي، لارښونه یې کړې وه چې شکایت باید لنډ او شواهدو پر بنسټ وي، او ډاډ یې ورکړ چې د شکایت کونکو پیژندنه به محرم پاتې شي. بدیلې لارې لکه رسمي ویب پاڼه یا سیګنال هم کیدای شي وکارول شي.[٤٥]

٢٨. په ورته ډول، د راپورونو له مخې *برحاله* د زندانونو د چارو د سمون ادارې د داخلي امنیت ریاست د هغو جرمونو او ناوړه چلند تورونه څېړي چې د بندي خانو پرسونل په کې دخیل وي او د بشري حقونو څخه سرغړونه شمیرل کیږي، او د

[٤٠] *برحاله* د کورنیو چارو وزارت د داخلي امنیت لوی ریاست همدارنګه کولای شي چې پخپله څارنه ترسره کړي. همدارنګه *برحاله* د کورنیو چارو وزارت، د امنیتي حوزو او ولسوالیو د امنیې قوماندانیو د اجراآتو کړنلاره، ٢٠٢٢ جنوري ٥:
١٢ (١٥) ماده: « په حوزو او ولسوالیو امنیې قوماندانیو کې د داخلي امنیت لوي ریاست مسؤلین مکلف دي چې د خپلو دندو د لایحو په رڼا کې د پولیسو د کړنو دوامداره څارنه وکړي.»
٢٥ ماده: «په حوزو او ولسوالیو د امنیې په قوماندانیو کې د داخلي امنیت مسؤل مکلف دی چې د نورو مسولینو سره په همغږۍ پخپله مربوطه ساحه کې د دې کړنلارې د پلې کیدو کنترول وکړي او په هر ډول اجراآتو کې د هغې څخه د تخطی په صورت کې لومړۍ درجه مسولینو ته د هغې راپور ورکړي تر څو په هکله یې اړین اقدامات صورت ونیسي. په پرله پسې توګه د دې کړنلارې نه تطبیقول چې د جرمونو د پېښدلو او وطنوالو د ځوریدلو سبب وګرځي، سرغړونکي افراد باید وپېژندل شي او په وړاندې یې لازم اقدامات ترسره شي.»
[٤١] *برحاله* د کورنیو چارو وزارت د ٢٠٢٣ کال د جولای د میاشتې طرزالعمل «د مظنون او متهم د څارنې مودې د ورځو طرزالعمل»، ١٢ (٢) ماده (هغه قضیې چې د ٢٩ ګڼه فرمان خلاف شکنجه او ناوړه چلند پکې ترسره شوی وي «د تحقیق وړ ګڼل کیږي»؛ او په قضیه کې دخیل شخص یا چارواکی باید د داخلي امنیت چارواکو له لورې احضار شي؛ د دوسیې د څېړنې وروسته، هغه باید د تدقیق او تائیدۍ لپاره په مرکز کې د پولیسو د حقونو لوي ریاست ته، او په ولایتونو کې امنیه قوماندانۍ کې د پولیسو د حقونو ریاست ته وسپارل شي. او قضیه یې د قانوني نظر وروسته باید «اړوند دفتر ته» راجع شي).
[٤٢] *برحاله* د کورنیو چارو وزارت وياند، ٢٠٢٥ جون ١، https://x.com/abdulmateenqani/status/١٩٢٩١٥٠٦٣٤٩٦٥٨٠٧٦٠٦. دا مالومه نده چې آیا د تفتیش د مفتشینو د اړیکو شمیرې/جزئیات د نورو لارو څخه خپرې شوې یا نه، او په لرې پرتو سیمو کې، او ښځو ته، څومره د لاسرسي وړ دي.
[٤٣] *برحاله* د کورنیو چارو وزارت، ٢٠٢٥ جولای ٧، https://x.com/moiafghanistan/status/١٩٤٢٠٩١١٠٨٣٨٦٧٨٧٧٨٣؛ https://x.com/moiafghanistan/status/١٩٤٢١١٤١٩٣٠٦٨٤٢٩٧٧٨؛ https://x.com/moiafghanistan/status/١٩٤٢١٣٥١٩٢٩٥٠٣٥٠٢٩٩؛ https://x.com/abdulmateenqani/status/١٩٤٢١٣٧٣٥١٥١٥٢٩٦١٤٣.
[٤٤] د راتلونکو سزاګانو په ګډون، که هغه انضباطي (د دندې تعلیق، د دندې څخه لرې کول) وي یا *برحاله* نظامي محکمو ته د قضیو راجع کول.
[٤٥] *برحاله* د استخباراتو لوي ریاست، ٢٠٢٦ فبروري ٩، https://x.com/GDI١٤١٥/status/٢٠٢٠٨٧١٥٣٤٩١١٣٢٨٣٥٧?s=٢٠.

هرې يوې قضيې په اړه خپلې پايلې او موندنې، *برحاله* د زندانونو د چارو د سمون لوي رياست ته، د نورو اقداماتو لپاره راپور کوي. کله ناکله، د يو شمير اداروګډې څېړنې، لکه *برحاله* د ولايت مقام، *برحاله* د کورنيو چارو وزارت، *برحاله* د استخباراتو لوي رياست، يا *برحاله* ستړې محکمې د استازو په ګډون سره ترسره کيږي تر څو د بشري حقونو د نقض مسوليت روښانه شي (لاندې ۴ برخه وګورئ).

۲۹.  په عموم کې، سره د دې چې ځينو *برحاله* وزارتونو د بيلګې په توګه *برحاله* د کورنيو چارو وزارت، د طالبانو د مشر بنديزونه په خپلو داخلي طرزالعملونو کې ځای په ځای کړي دي، خو يوناما په دې نه ده توانيدلې چې په ادارو کې د جامع طرزالعملونو شتون، څرنګه چې د و ضميمه کې ليکل شوي «د اغيزمنې حساب ورکونې د تحقق لپاره اساسي طرزالعملونه او ميکانيزمونه»، که د فرمان په ډول وي يا داخلي قواعدو په ډول، تائيد کړي. د مالوماتو د راټولولو د سيستمونو په ګډون، پدې کې هغه طرزالعملونه شامل دي چې مسلکي چلند تنظيموي، ټيټ پوړو د کړنو لپاره د قوماندې مسؤليت واضح کوي، د شکايتونو په اړه طرزالعملونه ترتيب کوي، تأديبي طرزالعملونه طرح کوي او د قضيو مديريت کوي.[٤٦]

۳۰.  يوناما د دې پخلی کوی چې هرې *برحاله* امنيتي ادارې د راپورونو له مخې نور طرزالعملونه ترتيب کړي خو په دې نه پوهيږي چې د قانون د پلې کولو ادارو اړوند نړيوالو نورمونو او ستندردونو سره سمون لري يا نه. د بيلګې په توګه، ايا د ځواک کارولو په اړه هغه طرزالعملونه چې د راپور له مخې *برحاله* د کورنيو چارو وزارت او *برحاله* د استخباراتو لوي رياست لخوا ترتيب شوي - د قانونيت، اړتيا او تناسب يا د ځواک يا د وسلو کارولو اجباري راپور ورکولو او بياکتنې په لحاظ - ارزونې ته اړتيا لري يا نه. دا هم مالومه نده چې د څېړنې د ترسره کولو لپاره د شاهدانو يا قربانيانو خونديتوب،[٤٧] يا د ښځو پر وړاندې د تاوتريخوالي قضيو ته په رسيدګۍ کې د جنډر حساسو مواردو په اړه طرزالعملونو کې احتياطي تدابير په نظر کې نيول شوي دي يا نه.[٤٨] پداسې حال کې چې *برحاله* د کورنيو چارو وزارت او *برحاله* د زندانونو د چارو د سمون اداره کې ښځينه پوليس او ساتونکې دنده ترسره کوي، د ښځينه تشکيلاتو کره شمير او د هغوی ځانګړې دندې مالومې نه دي، دا هم مالومه نده چې هغوی د څېړنو د ترسره کولو رول لري يا نه.[٤٩] هيڅ مالومات ترلاسه شوي نه دي چې آيا *برحاله* د استخباراتو لوي رياست کې ښځينه کارکونکې دنده ترسره کوي يا نه.

۳۱.  يوناما د هرې *برحاله* امنيتي ادارې څخه غواړي چې خپل شته طرزالعملونه او قواعد د و ضميمې په نظر کې نيولو سره «د اغيزمنې حساب ورکونې د تحقق لپاره اساسي طرزالعملونه او ميکانيزمونه» بياوګوري، او د اړتيا سره سم، ټولو خلاګانو ته يې رسيدګې وکړي تر څو د بشري حقونو د نړيوالو ستندردونو سره، د هر يوه طرزالعمل مطابقت ډاډمن شي. که چيرې قواعد شتون ونلري، يوناما په هرې *برحاله* امنيتي ادارې غږ کوي چې داسې نوي لارښودونه يا عملياتي طرزالعملونه تدوين کړي چې د بشري حقونو اړوند پلې کيدونکې ستندردونه د هغوی د چارو په ټولو برخو کې راونغاړل شي، تر څو ډاډ ترلاسه شي چې د هغوی کړنې د قانون پلې کونکو ادارو لپاره د نړيوالو ستندردونو سره سمون لري.

## ب.  هغه قضيې چې *برحاله* امنيتي پرسونل په کې دخيل وي

۳۲.  د ماموريت له مخې يې، يوناما د *برحاله* چارواکو سره په هره قضيه کې چې کيداي شي بشري حقونه په کې نقض شوي وي، خبرې کوي او د هغوی د تعقيب لپاره قضيې ورسره شريکوي. د سرغړونو په مستند کولو کې قربانيان ډيرځله يوناما ته د *برحاله* امنيتي چارواکو د اقداماتو په اړه مالومات ورکوي، د بيلګې په ډول، کله چې *برحاله* تورن امنيتي پرسونل د راپورونو له مخې ونيول شي او څيړنه يې پيل شي. يوناما سرچينې نلري چې دا ډول ټولې قضيې تر پايه تعقيب کړي.

---

[٤٦] و ضميمه وګورئ، «د اغيزمنې حساب ورکونې د تحقق لپاره اساسي طرزالعملونه او ميکانيزمونه».
[٤٧] د بيلګې په توګه، د بالقوه غيرقانوني مړينې د څېړنې په اړه د مينيسوتا پروتکل په ګډون نړيوال لارښود وګورئ (۲۰۱۶)؛ د شکنجې او نورو ظالمانه، غير انساني او د سپکاوي څخه ډک چلند او سزا په اړه اغيزمنو څېړنو او مستند کولو لايحه (د استانبول پروتکل) (۲۰۲۲)؛ د څېړنو او مالوماتو راټولو لپاره اغيزمنو مرکو اړوند اصول (د مينديز اصول) (۲۰۲۱).
[٤٨] د ښځو پر وړاندې د تبعيض د له منځه وړلو کميټه، عدالت ته د ښځو د لاسرسي په اړه ۳۳ شميره عمومي نظر، CEDAW/C/GC/۳۳، ۲۰۱۵ جولای ۲۳، ۵۱ (پ)، (ت)، (چ)، (ذ).
[٤٩] *برحاله* د کورنيو چارو وزارت وياند، ۲۰۲۵ آګست ۱۶، https://x.com/abdulmateenqani/status/۱۹۵۶٦٨٤٠١٩١٨٣٣١٣٢٢١، (د طلوع نيوز مرکه ښيي چې د کورنيو چارو وزارت د ۲۰۰۰۰ منسوبينو څخه څارنه ترسره کوي، ۱۹۹۵ (٪۰.۹۹) يې ښځينه پوليسې دي چې کابل او نورو ولايتونو کې په مختلفو برخو کې کار کوي.).

۳۳.	یوناما د *برحاله* چارواکو څخه داسې پیښو په اړه مالومات ترلاسه کړي چې د *برحاله* رئیسانو په ګډون، د راپورونو له مخې په شکنجه او ناوړه چلند کې ښکیل *برحاله* امنیتي منسوبین د دندو څخه لرې شوي او قضیې یې *برحاله* نظامي محکمو ته د فیصلې په موخه احاله شوي، خو دې سره سره، یوناما نشي کولای چې هغه قضیې تائید کړي. په هر حال، یوناما د داسې پیښو په اړه مالومات لري چې د نارینه او ښځینه قربانیانو د بشري حقونو د جدي نقض اندیښنو په اړه هیڅوک نه دي نیول شي یا هیڅ څېړنه نه ده ترسره شوې. د ۲۰۲۲ کال راهیسې، د یوناما لخوا شریکو شوو پیښو په اړه *برحاله* د بهرنیو چارو وزارت یو شمیر ځوابونه وړاندې کړي، وایي چې *برحاله* د کورنیو چارو وزارت یا *برحاله* د استخباراتو لوي ریاست د پیښې رامنځته کیدل نشي تائیدولای، یا دا چې د مرتکب په اړه څېړنې یې پایلې وې.

۳۴.	که څه هم یوناما په دې پوهیږي چې په ځینو مواردو کې څېړنې ترسره شوي دي، خو دا مالومه نه ده چې د ترلاسه شویو شکایتونو څخه څومره ثبت شوي، څومره په سمه توګه څېړل شوي او یا رد شوي یا دننه په اداره کې د تأدیبي اقداماتو سره حل شوي، یا څومره قضیې *برحاله* نظامي محکمو ته راجع شوي. او دا هم مالومه ندہ چې ایا *برحاله* نظامي محکمو ته د قضیو راجع کول د *برحاله* ادارو د مشرانو په صلاحیت ترسره کیږي یا د هغو مقرراتو له مخې راجع کیږي چې د ټاکلو قضیو راجع کول نظامي محکمو ته تنظیموي.

۳۵.	سره د دې چې *برحاله* وایند په کراتو د وزارتونو د فعالیتونو په اړه په خپلو کلنیو راپورونو کې د روڼتیا او حساب ورکولو اصولو ته د «امارات» په ژمنې ټینګار کړی،[۵۰] د بشري حقونو نقض ته د رسیدګۍ او پایلو په اړه عام مالومات ډیر محدود دي. د یادونې وړ ده چې *برحاله* د کورنیو چارو وزارت یو څو عامه بیانیې خپرې کړې او هغه پیښې یې تائید کړې چې *برحاله* چارواکي په کې دخیل وو او د هغوي په مقابل کې یې د ځوابیه اقداماتو ترسره کول هم یاد کړل.[۵۱] *برحاله* د کورنیو چارو وزارت لخوا نورو اعلانونو کې په عمومي ډول یوازې د هغو حل شوو قضیو مجموعي شمیر روښانه کړی چې *برحاله* پولیس په کې ښکیل وو، پرته له دې چې د جرم ډولونو یې روښانه شي؛ سربیره پردې، د هغو جرمونو پرځای چې د بشري حقونو څخه جدي سرغړونې دي، دا ډول اعلانونه په عمومي جرمي فعالیتونو باندې تمرکز کوي لکه د واک څخه ناوړه ګټه اخیستنه، رشوت اخیستل، د غیرقانوني وسلو لیږدول، او د دولتي تجهیزاتو اختلاس کول.[۵۲]

۳۶.	د نورو *برحاله* وزارتونو لخوا د هغو جرایمو په اړه چې ځیني یې کیدای شي د بشري حقونو نقض تشکیل کړي، د حساب ورکونې هڅې په هماغه اندازه تیت او عمومي وې، او کولای شي چې د مجازاتو څخه معافیت فضا په ترویج کولو کې مرسته وکړي. د لا وضاحت لپاره:

- د یوناما رسمي راپورونو ته په ځواب کې، *برحاله* د بهرنیو چارو وزارت د ۲۰۲۳ کال د مې په میاشت کې وویل چې د «*برحاله* امنیتي ادارو» په بندي خانو کې د شکنجې او ناوړه چلند ۹۳ قضیې ثبت شوي او څېړل شوي دي، په ځینو

---

[۵۰] د بیلګې په ډول، *برحاله* وایند، ۲۰۲۵ جولای ۱۶، https://www.alemarahenglish.af/structuring-good-governance-annual-reporting-practices-in-the-islamic-emirate/؛ ۲۰۲۴ مې ۱۰، https://www.alemarahenglish.af/institutional-reform-a-step-towards-governance-stability/؛ او ۲۰۲۴ مې ۱۸، https://www.alemarahenglish.af/propaganda-against-the-islamic-emirate-and-its-devastating-consequences-on-afghanistan/.

[۵۱] د بیلګې په ډول، *برحاله* د کورنیو چارو وزارت وایند، ۲۰۲۱ دسمبر ۲۷، https://af.shafaqna.com/FA/٤٩٤٥٢١ (اعلان کوی چې د هغې ویډیو په اړه څېړنه پیل کړي چې پکې *برحاله* امنیتي پرسونل د ادعا له مخې، یو پخوانۍ افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو غړی شکنجه کوي او مرتکب به ونیول شي)؛ *برحاله* د کورنیو چارو وزارت مرستیال، ۲۰۲۲ جنوري ۱۸، https://www.youtube.com/watch?v=dRPXardtan٨ (تائید کړه چې ۲۰۲۲ کال په جنوري کې، د کابل ښار په *برحاله* امنیتي منسوبینو په خطا سره د هغه ملکي وګړي په موټر ډزې کړي چې د چیک پاینت نه تیریده، په پایله کې یې په موټر کې سپره یوه ښځه مړه شوه؛ اعلان یې وکړ چې مرتکب نیول شوی او د قرباني کورنۍ ته د جسد خښولو لپاره پیسې ورکړل شوي)؛ *برحاله* د کورنیو چارو وزارت وایند، ۲۰۲۳ نومبر ۱۳، https://x.com/khalidzadran٠١/status/١٧٢٣٩٧٧١٧٢٣٠٨٩٥١١٤٢ (اعلان وکړ چې هغه یونیفورم لرونکی *برحاله* منسوب په وړاندې به انضباطي اقدامات ترسره شي چې په ټولنیزو رسنیو کې ښودل شوی او په جبر سره د یوه ځوان ویښتان غوڅوي، ځکه یواځې *برحاله* محکمه کولای شي چې په مجازاتو حکم وکړي)؛ *برحاله* د کورنیو چارو وزارت، ۲۰۲۴ جون ۲۵، https://x.com/moiafghanistan/status/١٨٠٥٥٤٢٧٩٤٩٤٧١٣٣٥٦٦ (شپږ *برحاله* منسوبین چې فاریاب ولایت کې د یوه سړي په شکنجه کولو کې دخیل وو نیول شوی او څېړنې ورڅخه کیږي؛ شکنجه د توجیه وړ نده او مرتکبینو سره به په کلکه او قانون سره سم چلند وشي).

[۵۲] د بیلګې په ډول، *برحاله* د کورنیو چارو وزارت، ۲۰۲۳ اکتوبر ۲۲، https://x.com/moiafghanistan/status/١٧١٦٠٤٧٩٩٨٧٧٢٣٠٢٣٢٤ (راپور ورکړ چې په تیرو ۶ میاشتو کې د پولیسو داخلي امنیت ۴۴۹ *برحاله* د پولیسو منسوبین د واک څخه ناوړه ګټه اخیستنې، رشوت اخیستلو، د غیرقانوني وسلو لیږدولو، او د دولتي تجهیزاتو اختلاس کولو لپاره نیولي)؛ *برحاله* د کورنیو چارو وزارت وایند سره د طلوع نیوز مرکه، ۲۰۲۴ آګست ۲۴، https://tolonews.com/afghanistan-١٩٠٣٨٤ (د راپورونو له مخې «د مجاهدینو د نوم څخه په ناوړه ګټې اخیستنې یا نقض» لپاره په تیرو شپږو میاشتو کې د ۶۰۰ څخه ډیر کسان د *برحاله* پولیسو له صفوفو څخه لرې کړل شو او د تعقیب لپاره قضایي ارګانونو ته معرفي شول).

قضیو کې مرتکبین د دندو لرې شوی او د جرمونو سره سم یې مجازات شوي.[53] د دخیلو چارواکو، د منسوبینو رتبې، یا مجازاتو یادونه په کې نه وه شوې؛

- ۲۰۲۳ کال د جولای په میاشت کې، *برحاله* د کورنیو چارو وزارت د بشري حقونو ریاست د *برحاله* بهرنیو چارو وزارت له لارې راپور ورکړ چې د بشري حقونو د نقض ۲۱ قضیې یې ترلاسه کړې، او تحقیقاتي ریاستونو ته، د تعقیب په موخه لیږل شوی دي.[54] نقضونه یا ډاډمنې پایلې روښانه نه شوې؛
- ۲۰۲۳ کال د دسمبر په ۳۱، *برحاله* امنیتي او تصفیوي کمیسیون وویل چې د شکنجې او ناوړه چلند لپاره، تېر کال په «لسهاوو» مرتکبین نیول شوي او څېړنې ورخخه شوې؛ د راپورونو له مخې *برحاله* محکمو ۴۲۶۱ داسې قضیې حل کړي چې *برحاله* نظامي منسوبین په کې ښکیل وو.[55] د څېړنو د پایلو، د جرمونو د ډولونو یا د *برحاله* نظامي منسوبینو ۴۲۶۱ قضیو د پایلو په اړه هیڅ مالومات نه وو؛
- ۲۰۲۵ کال د جنوري په ۲۲، *برحاله* د دفاع وزارت د امنیتي او تصفیوي چارو مرکزي کمیسیون کلني راپور، پداسې حال کې چې ادعا یې کړې وه چې د طالبانو د مشر د فرمانونو سره سم، غیرقانوني نیونې، بندي کول او د شکنجې ټول ډولونه «په بشپړ ډول له منځه تللي»، د دې پخلی یې هم کړې چې «په ډېرو لږو مواردو کې سرغړونې ترسره شوي [او] مرتکبین یې ځانګړو نظامي محکمو ته ورپېژندل شوي او مجازات شوي دي». راپور زیاته کړې چې «فاسد او نامطلوب چارواکي وپېژندل شول او د لیکو لرې کړل شو او مرتکبین محاکمه شوي»،[56] خو نور مالومات یې نه دي وړاندې کړي.

۳۷.	عامه اعلانونه د هغو قضیو د شمیر په اړه چې «حل شوي» ښیي چې *برحاله* چارواکي د شکایتونو د ثبتولو، د ترسره شویو تحقیقاتو اړوند مالوماتو، او د شکایتونو تعقیب لپاره داخلي طرزالعملونه لري. په هر حال، د قانون پلې کولو او روڼتیا لپاره د نړیوالو ستندردونو او غوره کړنو په نظر کې نیولو سره، یوناما یادونه کوي چې هیڅ یوې اعلامیې د ترلاسه شوو او څېړل شوو جرمونو د شمیر او ډولونو په اړه - په ځانګړي ډول هغه جرمونه چې د بشري حقونو نقض تشکیلوي - د څېړل شوو شکایتونو پایلې او دا چې څه شمیر قضیې *برحاله* نظامي محکمو ته د تعقیب لپاره راجع شوي، عامه مالومات نه دي وړاندې کړي.

۳۸.	د دې سره سم، یوناما په هرې *برحاله* امنیتي اداري غږ کوي تر څو داسې لارښونې او طرزالعملونه ترتیب کړي چې د ځواک د کارولو او د قانون د پلي کونکو پر وړاندې د شکایتونو اوریدلو اړوند راپورونو او احصائیو خپرول شوني کړي. عامه راپورونو کې باید کټګوري شوي مالومات ځای پر ځای شي، د بیلګې په ډول، څومره او کوم ډول شکایتونه ترلاسه شوي (داخلي یا د خلکو څخه)، د اړوند جرم ماهیت، د څېړنو پایلې (د داخلي کړنو په ګډون، لکه د دندې څخه لرې کول یا مجازات، یا *برحاله* نظامي محکمو ته راجع کول).[57]

## پ.	*برحاله* والیان

۳۹.	لکه د پخواني جمهوریت پر مهال، *برحاله* والیان یا مرستیالان یې په ولایتونو او ولسوالیو کې د *برحاله* امنیه قوماندانانو د څارنې صلاحیت لري.[58] په ځینو سیمو کې، *برحاله* والیان یا د هغوی استازي د *برحاله* پولیسو نظارت خونو او

[53] د «بدني جزا او اعدام سزا» په اړه د یوناما راپور وګورئ، ۲۰۲۳ سپتمبر: ۲ ضمیمه – د *برحاله* بهرنیو چارو وزارت غبرګون (انګلیسي، دري، پښتو).

[54] «له بندیانو سره د چلند» په اړه د یوناما راپور وګورئ، ۲۰۲۳ سپتمبر: ۲ ضمیمه – د *برحاله* بهرنیو چارو وزارت ځواب، ۷۵ مخ.

[55] *برحاله* د کورنیو چارو وزارت، ۲۰۲۳ دسمبر ۳۱، https://x.com/moiafghanistan/status/۱۷٤۱۳۹۸٥٦۰۹۰۰۲٥۱۹۱۲ او https://x.com/moiafghanistan/status/۱۷٤۱۳٥۸۹۲٤۳٤٥۸۱٥۰۷۷.

[56] ملي راډیو او تلویزیون، د امنیتي او تصفیوي چارو مرکزي کمیسیون، ۲۰۲۵ جنوري ۲۲، https://rta.af/en/the-annual-report-of-the-central-commission-for-security-and-clearance-affairs/.

[57] د جرمونو او مخدره توکو سره د مبارزې لپاره د ملګرو ملتونو دفتر، Handbook on Police Accountability, Oversight and Integrity (English)، ۲۰۱۱ ۳ – څېرکۍ: د پولیسو پر وړاندې شکایتونو ته رسیدګي کول – د شکایتونو د احصائیې نشرول، ۳۶ مخ؛ د ملګرو ملتونو د جرمونو او نشه یي توکو دفتر، د پولیسو له خو د احصایي ډېټا د مدیریت لارښوونې، ۲۰۲۲ – د پولیسو د چلند په اړه ۳.۵ برخه (د ځواک او وسلې کارول، او مسلکي چلند) ۴۰-۴۴ مخونه.

[58] د ۲۰۰۹ کال د پولیسو قانون، ۴ ماده: «(۱) پولیس خپلې دندې په مرکز کې د کورنیو چارو د وزیر تر لارښونې لاندې او په ولایتونو او ولسوالیو کې د والي او ولسوال تر اثر لاندې سرته رسوي. (۲) پولیس خپلې دندې د دغه قانون مطابق او د خپل تشکیلاتي سلسلې مراتبو په پیروي سره سرته رسوي.»

بندي خانو څخه څارنه ترسره کوي او د راپورونو له مخې کله نا کله، پخپلو ولایتونو کې، د *برحاله* امنیتي منسوبینو یا بندي خانو ساتونکو لخوا د ترسره شوو ناوړه چلندونو د ادعاو په اړه د څېړنو د ترسره کیدو لارښوڼې کړي دي.[۵۹]

### ت. *برحاله* 'نظامي کمیسیون' او امنیتي او تصفیې کمیسیون [٦٠]

۴۰. د ۲۰۲۱ کال په دسمبر کې، د واک ته تر رسیدو څه موده وروسته، د طالبانو مشر یوه ګډه کمیټه («نظامي کمیسیون» په نوم یادیږي) رامنځته کړه چې *برحاله* د دفاع وزارت، د کورنیو چارو وزارت او د استخباراتو لوي ریاست یې غړیتوب درلود، د نورو چارو تر څنګ دې کمېټې ته دنده ورکړل شوه چې'[زمونږ] صفونه تصفیه کړي.' دې کمېټې د خپلو طرزالعملونو سره سم لارښونه وکړه چې «[که له هر چا سره په ډلګۍ کې بدنام او فاسد کس پیدا شو، هغه ډلګۍ مشر به نظامي محکمې ته احضاروي، چې د شریعت مطابق د کومې جزاء مستحق وي هغه جزاء به ورکړل شي».[٦١] د ۲۰۲۲ کال نومبر په میاشت کې، یوه نوي فرمان له مخې امنیتي او تصفیوي کمیسیون رامنځته شو، داسې ښکاري چې د نظامي کمیسیون په څېر ماموریت ورکړل شوی، دا کمیسیون په کابل او ولایتونو په کچه رامنځته شو.[٦٢]

۴۱. کمیسیون مامور شوی چې د نورو چارو تر څنګ، «د نامطلوبو او مفسدو اشخاصو په رابطه شکایتونه واوري او په هکله یې تصمیم ونیسي»، په دفاعي او امنیتي ارګانونو او ادارو کې د نامطلوبو او مفسدو منسوبینو شتون تثبیت» او «اړوند ارګان ته خبر ورکړي چې یاد اشخاص له دندو څخه ګوښه کړي».[٦٣] مرکزي کمیسیون باید په دغو حالاتو کې قضیې *برحاله* نظامي محکمو ته راجع کړي: که چیرې دوې پداسې جرمونو کې ښکیل وي لکه «د مرکزي کمیسیون له تصمیم څخه تمرد وکړي یا د دفاعي یا امنیتي ارګان او یا د اداري د مسوول له لارښوونو څخه سرغړونه وکړي»،[٦٤] او د خلکو پر وړاندې جرمونه لکه «تهدید او تعذیب یې کړي، په خپل سر د اړوند ارګان د هدایت څخه پرته پر ولسي خلکو په بیلا بیلو پلمو چاپې ووهي، وحشت خپور کړي، یا نورې دې ته ورته کړنې ترسره کړي».[٦٥]

۴۲. د هغو جرمونو لپاره چې «ډېر درانه» نه وي، کمیسیون کولای شي « مرتکب تأدیباً له رتبې تنزیل، تبدیل او یا هم جبراً داسې نظامي قطعې ته چې سخت شرایط ولري، ولیږي».[٦٦] د دې لپاره چې راتلونکې کې د ګمارنې پرمهال بررسي وشي او د هغوي د بیاګمارنې څخه مخنیوی وشي، دفاعي او امنیتي ارګانونه هغه کسان چې د خپلو دندو څخه ګوښه شوي، باید بایومتریک کړي، د هغو څخه «قوي تضمین» واخلي، او د هغوي شهرت له عکسونو سره، د یادو امنیتي ارګانونو د پیژند او

---

[۵۹] د بیلګې په ډول، د راپورونو له مخې، *برحاله* والي د یو شکایت په اړه د څېړنې په ترسره کیدو امر وکړ، چې پولیس یو مظنون سره د *برحاله* ولسوالۍ امنیه قوماندانۍ کې ناوړه چلند کړې وو. یو ګډ پلاوي یې ولیږه چې د والي د دفتر په ګډون، *برحاله* د استخباراتو لوي ریاست او *برحاله* د امنیه قوماندانۍ دفتر کارکونکې هم پکې شامل وو تر څو قضیه وڅیړي ځکه چې د ولسوالۍ په کچه یې پرې څیړنه نه وه ترسره شوې. کله چې ادعا ثابته شوه نو پولیس یې له دندې ګوښه کړ.
په ۲۰۲۳ کال کې، *برحاله* والي او د هغه مرستیال د یوه پلاوي، چې *برحاله* د استخباراتو لوي ریاست رئیس او *برحاله* امنیه قوماندان یې هم غړیتوب درلود، مشري وکړه، او د رسنیو د هغه راپور څخه وروسته چې په څو زندانونو کې د جنسي ځورونې تورونه یې خپاره کړل، د ولایتي زندان څخه یې ناڅاپي لیدنه وکړه ترڅو د نارینه او ښځینه بندیانو سره وګوري.
په ۲۰۲۴ کال کې، د راپورونو له مخې، د *برحاله* والي په لارښونه، *برحاله* د ولایت امنیه قوماندان د یوې ولسوالۍ *برحاله* امنیه قوماندان او پنځه نور *برحاله* امنیتي منسوبین ونیول او دندې یې ورته وځنډولې، هغوي د یوې کورنۍ سره د اجباري واده او مهر په اړه شخړه درلوده. *برحاله* ویاند وویل «هغه اشخاص او نظامي منسوبین چې ځواک یې کارولی یا شکنجه یې غوره کړې نظامي محکمې ته معرفي شوي، کیدای شي ونیول شي او شخړه د حل په موخه ځايي مشرانو ته راجع شوه.»: ۲۰۲۴ اپریل ۳، /https://pajhwok.com/۲۰۲٤/۰٤/۰۳/use-of-force-against-ghor-girl-officials-among-٨-held.
[٦٠] همدارنګه په انګریزي کې په مختلف ډول ژباړل شوی لکه امنیتي او «تصفیوي» کمیسیون، یا د امنیتي او تصفیې چارو مرکزي کمیسیون.
[٦١] ۷۶ ګڼه فرمان، د صفونو د تصفیې د دریو ادارو د نماینده ګانو په هکله لارښونه، ۲۰۲۱ دسمبر ۱، د ۲۰۲۳ د می ۲۲ نېټې ۱۴۳۲ رسمي جریده، http://laws.moj.gov.af/ShowLawPersian.aspx ، د افغان شنونکو د شبکې انګلیسي ژباړه.
[٦٢] ۱۲ ګڼه فرمان، د امنیتي او تصفیوي کمیسیون د جوړیدو، دندو او واکونو به هکله فرمان، ۲۰۲۲ نومبر ۲۲ (۱٤۳۲ شمیره رسمي جریده، ۲۰۲۳ می ۲۲)، د افغان شنونکو شبکې انګریزي ژباړه؛ چې د ۲۰۲۳ کال د مې ۱۸ نېټې د ۳۸ شمېر فرمان له مخې په رسمي جریده ۱۴۳۴ کې د ۲۰۲۳ کال د جولای په ۱۱مه نور هم تعدیل شوی دی. او د ۲۰۲۶ کال د مارچ ۸مې نېټې د ۲۳ شمېر فرمان له مخې په رسمي جریده ۱۴۸۷ کې د ۲۰۲۶ کال د مارچ په ۱۷مه، مخونه ۹۶–۹۷. http://laws.moj.gov.af/ShowLawPersian.aspx.
پداسې حال کې چې په کابل کې *برحاله* امنیتي او تصفیوي چارو مرکزي کمیسیون مشري *برحاله* د دفاع وزارت سرپرست کوي، «ولایتي کمیسیونونو» مشري په لومړیو کې د ۲۰۲۳ کال څخه تر ۲۰۲۶ کال مارچ پورې *برحاله* د والیانو مرستیالانو کوله تر څو چې *برحاله* والیان یې په ځای وټاکل شول.
په کابل کې *برحاله* مرکزي کمیسیون، *برحاله* د کورنیو چارو وزارت، د استخباراتو لوي ریاست، د سترې محکمې، د چارو د ادارې، او د طالبانو د مشرتابه دفتر د لوړپوړو چارواکو څخه جوړ شوی. «ولایتي کمیسیونونه» چې مشري یې اوس *برحاله* والیان کوي، د *برحاله* دفاع وزارت ولایتي مشر، *برحاله* د ولایت امنیه قوماندان او *برحاله* د استخباراتو ولایتي مشر په غړیتوب سره رامنځته شوي).
[٦٣] که چیرې اړوند اداره کوم اقدام ونکړي نو مرکزي کمیسیون به نوموړی کسان له دندو څخه ګوښه کړي: ۲ (۴) ماده.
[٦٤] ۱۲ ګڼه فرمان، د امنیتي او تصفیوي کمیسیون د جوړیدو، دندو او واکونو به هکله فرمان، ۲۰۲۲ نومبر ۲۲، ۲ (۳)-(۴) ماده.
[٦٥] همدا ماخذ، ۹ ماده.
[٦٦] همدا ماخذ ، ۳ ماده.

د نورو ادارو د بشري سرچینو ریاستونو په واک کې ورکړي. ګوښه شوي کسان که چیرې «بیا د امارت په صفوفو کې څرګند شي، له صف څخه اخراج ... او نظامي محکمې ته ورپېژندل کیږي».[٦٧]

۴۳. د هماغه فرمان له مخې، د طالبانو مشر مرکزي کمېسیون ته هم لارښوونه وکړه چې د هغو مقرراتو او اصولو د تطبیق لپاره چې د دفاعي او امنیتي ادارو د افسرانو چارې تنظیموي د چلند یوه لایحه جوړه کړي او تطبیق یې ډاډمن کړي.[٦٨]

۴۴. تر دې نیټې پورې *برحاله* مرکزي کمیسیون، د خپل کار د پایلو په هکله یا د خلکو پر وړاندې د راپور شوو ناوړه ګټه اخیستنې په اړه د *برحاله* امنیتي ځواکونو د حساب ورکولو، یو څو عامه بیانیې خپرې کړي.[٦٩] د ۲۰۲۲ کال فبروري میاشت کې پخپله لومړنۍ بیانیه کې وویل چې د ټولو صفونو څخه یې ۴۳۵۰ کسان له دندو ګوښه کړي،[٧٠] خو د ګوښه کولو لپاره یې هیڅ دلیل او د طرزالعملونو جزئیات یې شریک نکړل. د هغې بیانیې وروسته نورې بیانیې هم عمومي وې. د بیلګې په ډول، *برحاله* د مرکزي کمیسیون کلنۍ راپور چې د ۲۰۲۵ کال د جنوري میاشتې په ۲۲ خپور شو، د دې پخلی کوي چې « [*برحاله* امنیتي منسوبینو] سرغړونې ځانګړې نظامي محکمې ته راجع شوې او مجازات شوي دي» او «مفسد او نامطلوب منسوبین د صفوفو څخه اخراج او سرغړونکي محاکمه شول»،[٧١] خو هیڅ ارقام وړاندې نشو، همدارنګه د جرمونو د ډولونو او مجازاتو په اړه هیڅ جزئیات وړاندې نشو.

۴۵. سربیره پر دې، د ۲۰۲۵ کال د اپریل په ۲۵، *برحاله* مرکزي کمیسیون اعلان وکړ چې «د تصفیې بهیر نهایي مرحلې ته رسیدلی او چارې به یې نږدې وخت کې بشپړې شي»، ټینګار یې وکړ چې «د ځواکونو د کمیت پر ځای باید کیفیت ته جدي توجه وشي».[٧٢] سره د دې چې د راپورونو له مخې، د څلور کاله ماموریت وروسته د تصفیې بهیر بشپړیدو ته نږدی دی، تر دی مهاله دا روښانه نه ده چې امنیتي او تصفیوي کمیسیون د ناوړه چلند په اړه مالومات څنګه ترلاسه کړي یا یې خپل ماموریت څنګه سرته رسولای، دا هم مالومه نده چې امنیتي او تصفیوي کمیسیون د هرې اداري د *برحاله* چارواکو پر وړاندې څومره شکایتونه ثبت کړي، څیړلي او *برحاله* نظامي محکمو ته یې راجع کړي یا یې تأدیبا مجازات کړي، همدارنګه دا هم مالومه نده چې د کومو جرمونو لپاره هغوي له دندو ګوښه شوي. دا هم واضح نده چې آیا شکایت کوونکي یا قربانیان په دې بهیرونو کې دخیل وو یا نه. په ورته ډول، یوناما ته مالومه نده چې آیا *برحاله* کمیسیون به دفاعي او امنیتي ادارو افسرانو لپاره د چلند اصول ترتیب کړي وي، او که ترتیب کړي یې وي آیا اوس مهال د تطبیق وړ دي یا پلي شوي دي یا نه.

## ث. *برحاله* د فرمانونو او حکمونو د تعقیب او نظارت لوي ریاست

۴۶. د ۲۰۲۳ کال د مارچ میاشتې د فرمان له مخې، د *برحاله* لوېي څارنوالۍ پخوانۍ دنده لغوه شوه او د «فرمانونو او حکمونو د تعقیب او نظارت لوي ریاست» (له دې وروسته لوي ریاست په نوم یادیږي)، باندې ونومول شوه، او ماموریت ورکړل شو تر څو د طالبانو د مشر د لارښونو رعایت لپاره د ټولو *برحاله* ادارو – ملکي او نظامي – څخه څارنه ترسره کړي. د *برحاله* امنیتي ارګانونو په اړه، فرمان لوي ریاست ته واک ورکړی چې د اشخاصو د قانوني احضار او د هغوي د بندي کیدو څخه څارنه وکړی او په بند کې د شکنجې او ناوړه چلند شکایتونه وڅیړي. سره د دې چې په واضح ډول دنده نده ورکړل شوې چې د خلکو څخه په مستقیم ډول شکایتونو ترلاسه کړي، خو د *برحاله* ادارو لخوا د فرمانونو او حکمونو د نقض په اړه

---

[٦٧] همدا ماخذ ، ١٣ ماده.
[٦٨] همدا ماخذ، ٢ (٢) ماده.
[٦٩] «د امنیتي او تصفیې کمیسیون» پر خپله ایکس پاڼې یواځې عمومي ناستو په اړه راپور ورکړی چې د *برحاله* دفاع وزیر له لورې یې مشري شوې او هغه موارد چې بحث پرې شوی. وګورئ، https://x.com/SCC_IEA.
[٧٠] سلام وطندار، ٢٠٢٢ فبروري ٢٢: /https://swn.af/en/٢٠٢٢/٠٢/٤٣٥٠-individuals-expelled-from-islamic-emirate-ranks.
[٧١] د افغانستان ملي راديو او تلویزیون، *برحاله* د امنیتي او تصفیوي چارو مرکزي کمیسیون، ٢٠٢٥ جنوري ٢٢، -https://rta.af/en/the-annual-report-of the-central-commission-for-security-and-clearance-affairs/.
[٧٢] *برحاله* امنیتي او تصفیوي کمیسیون، ٢٠٢٥ اپریل ٢٨، https://x.com/SCC_IEA/status/١٩١٦٧٩١٨٩٨٢١٧٢٩٢٠٠٥. له هغه وخت راهیسې اعلانونه عمومي بڼه لري او د تصفیې پروسې یا د *برحاله* امنیتي ځواکونو له خوا ترسره شویو سرغړونو ته د رسیدګۍ یادونه نه کوي، د مثال په ډول، ١٧ مۍ، ٢٠٢٦، https://x.com/SCC_IEA/status/٢٠٥٥٩٩٦٣٠٣٩١٨٩٨٩٣٧٢?s=٢٠; ٢١ May ٢٠٢٦، https://x.com/SCC_IEA/status/٢٠٥٧٤٠٧٩٦٤٣٩٥٢٨٦٧٥٤?s=٢٠.

کولای شي مالومات راټول کړي، لکه د ټولنیزو رسنیو یا نورو سرچینو له لارې.[۷۳] *برحاله* د لوی ریاست له لورې ټولو احاله شوو قضیو ته ولایتي نظامي محکمې رسیدګي کوي، دغه محکمې قضیې څیړي او زر تر زره یې په اړه فیصلې کوي.[۷۴]

۴۷. پداسې حال کې چې *برحاله* لوی ریاست باید ټولې قضیې ثبت او د *برحاله* امنیتي ارګانونو اړوند د خپل نظارت پایلې، د کال په هره ربع کې، د طالبانو مشرتابه دفتر ته وړاندې کړي،[۷۵] خو د سرغړونو په اړه یا د لوی ریاست د کړنو د پایلو په اړه هیڅ عامه مالومات شتون نلري.

۴۸. تر دې مهاله *برحاله* لوی ریاست د خپلې څارنې پایلې نه دي اعلان کړي، لکه څومره او کوم ډول سرغړونې یې مستند کړي، یا کوم *برحاله* ارګان (ونه) په کې دخیل وو، څه شمیر قضیې *برحاله* نظامي محکمو ته راجع شوي، یا د محکمو فیصلې څه وې. پرته له دې چې، په بلخ کې، د ۲۰۲۴ کال د نومبر په ۱۲، *برحاله* د فرمانونو او حکمونو د تعقیب او نظارت ریاست رئیس اعلان وکړ چې ریاست یې ۱۳ قضیې د رسیدګۍ په موخه *برحاله* نظامي محکمې ته راجع کړي،[۷۶] خو د راجع شوو سرغړونو د ډولونو په اړه هیڅ مالومات نه و شریک شوي.

۴۹. یوناما ته د هغو مواردو په اړه مالومات ورکړل شوي چې د راپورونو له مخې، *برحاله* د نظارت ریاستونو د ناوړه چلند او د فرمانونو د نقض قضیې، کابل کې *برحاله* لوی ریاست ته، د مالوماتو یا اجراآتو لپاره احاله کړي،[۷۷] خو دا روښانه نده چې د هغې وروسته کوم اقدام ترسره شوی، یا کوم اقدام ترسره شوی یا نه. په یوه مورد کې، د راپورونو له مخې د کابل څخه د *برحاله* لوی ریاست یوه پلاوي، د بندیانو د شکنجې د راپورونو څخه وروسته، یوې ولسوالۍ کې *برحاله* د استخباراتو مشر څخه څېړنې وکړې او له دندې یې ګوښه کړ.[۷۸] یوناما همدارنګه له داسې مواردو خبره ده چیرې چې *برحاله* ادارو د لوی ریاست د مفتیشینو له خوا د سرغړونو د څارنې او راپور په موندنو کې لاسوهنه کړې، او چیرې چې د نوموړي ریاست ولایتي رئیسانو پر خپلو کارمندانو فشار راوړي چې د کابل لوی ریاست ته له راپور ورکولو څخه ځینې سرغړونې لرې کړي.[۷۹]

## ج. *برحاله* د امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت د شکایتونو اوریدلو کمیسیون

۵۰. که څه هم *برحاله* د امر بالمعروف او نهي عن المنکر او شکایتونو اورېدلو وزارت د څارنې مسؤلیت نه لري، خو د ۲۰۲۲ کال له پیل راهیسې، شکایتونو ته د رسیدګۍ په پار د آسانتیاوو برابرولو لپاره یې د خلکو هغه شکایتونه منلي چې *برحاله* امنیتي منسوبینو په ګډون، د *برحاله* چارواکو یا وزارتونو څخه یې کړي وو. شکایت کوونکو کولای شول خپلې قضیې په حضوري ډول، د ټیلیفون ځانګړې شمیرې له لارې، که په افغانستان کې وو د شکایتونو د صندوقونو له لارې، او یا هم بهر میشتو افغانانو په انلاین ډول ثبت کړي.[۸۰] د ۲۰۲۳ کال د نومبر په ۸ نېټه د طالبانو مشر د شکایتونو د اورېدلو قانون په توشیح سره دغه کار رسمي کړ او د تطبیق محدوده او طرزالعمل یې ورته مشخص کړل.[۸۱]

---

[۷۳] ۳۲ ګڼه فرمان، د فرمانونو او حکمونو د تعقیب او نظارت لوي ریاست د دندو او واکونو قانون، ۲۰۲۳ مارچ ۲۱، ۱۰ ماده «د شکایتونو او اطلاعاتو بررسي» واک په اړه داسې صراحت لري:

۱) په امارتي مراجعو او د خصوصي برخې هغه اجراآت چې له امارتي مراجعو سره تړاو لري، د مرعي الاجراء سندونو د حکمونو د نقض په تړاو په ټولنیزو رسنیو کې د اتباعو له شکایتونو، د خپرو شویو او رسیدلو اطلاعاتو څخه نظارت او په اړه یې لازم تصمیم نیول.

۲) ... هغه اطلاعات چې د کشف، څیړنې او پلټنې د مراجعو او د پخواني او راتلونکي نظارت د مسوولینو له لورې وړاندې کیږي، بررسی کوي او په اړه یې لازم تصمیم نیسي.

[۷۴] ۲۳ ګڼه فرمان، د فرمانونو او حکمونو د تعقیب او نظارت لوي ریاست اړوند محکمو ته محول کیدونکي موضوعګانې نظامي محکمو ته د لیږلو په هکله، ۲۰۲۴ فبروري ۵.

[۷۵] ۳۲ ګڼه فرمان، د فرمانونو او حکمونو د تعقیب او نظارت لوي ریاست د دندو او واکونو قانون، ۲۰۲۳ مارچ ۲۱، ۱٦ ماده «د جرمونو احصائیه» لوي ریاست ته دنده ورکوي، «د جرمونو احصائیې راټولوی، تحلیلوي او د قضایاوو په مالوماتي دفتر کې یې ثبتوي» او «له کشف او څیړنې څخه وروسته واکمنې مرجع ته راپور وړاندې کوي.» ولایتي ریاستونه خپلې موندنې په کابل کې لوي ریاست ته راپور کوي.

[۷٦] ملی راډیو او تلویزیون خبري ځانګه، ۲۰۲۴ نومبر ۱۳، x.com/pashtortanews/status/۱۸۵٦٦۱٦۹۹۲۳۷۲۹۲٤۷٦۰ (*برحاله* د بلخ ولایت د فرمانونو او حکمونو د تعقیب او نظارت رئیس اعلان وکړ چې د ۱۴۴۵ کال په جریان کې یې ریاست، د نورو چارو ترڅنګ، ۵ لارښودونو د پلې کیدو څخه څارنه او ۱۳ قضیې نظامي محکمو ته راجع شوي دي).

[۷۷] د لوړو مهرونو په اداینه کې د *برحاله* چارواکو ذیدخلوالي؛ د متعددو ښځو اجباري ودول؛ د ماشومانو ګمارنه؛ د مخدره توکو سوداګري؛ او د نږدې خپلوانو ګمارنې له لارې انډیوالي پالل پکې شامل دي.

[۷۸] د خوندیتوب لپاره نیټې او ځایونه نه دې لیکل شوي. یوناما د دې قضیو پخلی نشي کولای.

[۷۹] نیټې او ځایونه د یوناما لخوا مستند شوي دي.

[۸۰] یوناما، «په افغانستان کې د *برحاله* چارواکو اخلاقي څارنه: پر بشري حقونو یې اغېزې »، جولای ۲۰۲۴، ۱۸ پاڼه.
همدارنګه *برحاله* د امر بالمعروف، نهي عن المنکر، او شکایتونو اورېدو وزارت ویاند وګورئ، ۲ د اکتوبر ۲۰۲۴، https://tolonews.com/afghanistan-۱۹۰۹۹٦.

[۸۱] ۲۴۲ ګڼه فرمان، د شکایتونو اوریدلو قانون تصویب، ۸ د نومبر ۲۰۲۳، رسمی جریده ۱۴۴۴ شمیره د مارچ ۵مه ۲۰۲۴،
http://old.moj.gov.af/Content/files/OfficialGazette/۰۱٤۰۱/OG_۰۱٤٤٤.pdf (پښتو) او https://mopvpe.gov.af/dr/media/۱٦ (پښتو).
«شکایتونه»، که په شفاهي ډول وي او که په لیکلې بڼه، د امارتی ادارو د چارواکو یا کارکوونکو له خوا د ناسم چلند په اړه وي.

۵۱. د شکایتونو بهیر له درېیو پړاوونو څخه جوړ دی چې د شکایتونو د اورېدلو کمېسیون د اړوندو ریاستونو تر څارنې لاندې پرمخ وړل کېږي.[۸۲] لومړی، که یو شکایت کوونکې ونه شي کولای خپله ستونزه په مستقیم ډول له اړوندې *برحاله* ادارې (یا د هغې له ولایتي څانګې) سره حل کړي، کولای شي *برحاله* د امر بالمعروف، نهې عن المنکر وزارت ته مراجعه وکړي کوم چې شکایتونه ثبتوي او بیا د ښکېلو خواوو ترمنځ د قضیو د منځګړیتوب هڅه کوي،[۸۳] او د اړتیا په صورت کې له اړوندې *برحاله* ادارې څخه د مالوماتو یا اجراآتو لپاره نورې څېړنې هم ترسره کوي؛ که چېرې د حل کېدو امکان نه وی، قضیې د پرېکړو لپاره د نظامی محکمو په ګډون نورو *برحاله* ادارو ته راجع کوي.[۸٤] د شکایتونو د اورېدلو د قانون له مخې، هغه شکایتونه چې جرمي بڼه ولري - لکه د شکایت کونکو په وړاندې د شکنجې یا ناوړه چلند ګواښونه او د اړوندې *برحاله* ادارې له خوا په قضایي بهیر کې لاسوهنه- او د اړوندې *برحاله* ادارې له خوا ورته رسیدګي نه وي شوې نو قضیه *برحاله* محکمې یا د طالبانو د مشر دفتر ته راجع کېږي.[۸۵]

۵۲. د ۲۰۲۴ کال د اپریل په ۷ نېټه، *برحاله* د امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت، د *برحاله* وزارت د مرستیال تر مشرۍ لاندې د یوې نظامي څانګې د جوړولو اعلان وکړ تر څو په ځانګړي ډول هغو جرمونو اړوند شکایتونه بررسی کړي چې د *برحاله* امنیتي ځواکونو له خوا ترسره شوي وي او ټینګار یې وکړ چې هغه *برحاله* امنیتي منسوبین چې د محتسبیو له درېیو اخطاریو سره یې «جدي سرغړونو» ته دوام ورکړی، په مرکز کې د یوې ورځې لپاره او ولایتونو کې د درېیو ورځو لپاره بندي کېږي.[۸٦]

۵۳. د امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت په دوامداره ډول د خپلو فعالیتونو په اړه مالومات خپاره کړي او د هغو شکایتونو شمېر یې اعلان کړی چې ترلاسه شوي یا حل شوي دي.[۸۷] خو دغو اعلانونو کې دا نه ده څرګنده شوې چې له ترلاسه شویو یا حل شویو شکایتونو څخه څومره یې د *برحاله* امنیتي منسوبینو په اړه دي او څومره یې د نورو *برحاله* ادارو او چارواکو په اړه. د مثال په توګه، *برحاله* د امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت اعلان کړی و چې:

- د ۲۰۲۴ اپریل په ۱۳ مه، ۶۸۰۰ شکایتونو ثبت شوي او حل شوي دي، د راپورونو له مخې د نورو د ملکېتونو او شیانو تصاحب، د ځینو *برحاله* چارواکو له لوري له خلکو سره «نامناسب چلند»، او د «ښځو د حقونو» اړوند ځینې نورې قضیې دي.[۸۸]
- د ۲۰۲۴ اګست په ۲۰ نیټه، دوي ۹۸۰۸ شکایتونه ثبت کړی دی چې له دغه جملې یې ۵۴۸۶ (۵۶ سلنه) حل شوی او ۲۱۷۹ شکایتونو په اړه یې «لاربښوونه کړې».[۸۹]

---

[۸۲] *برحاله* د امر بالمعروف، نهي عن المنکر، او شکایتونو اورېدو وزارت، https://www.mopvpe.gov.af/dr/%D۸٪AF%DB%۸C%D۹٪۸۸٪DA%AF%D۸٪B۱٪D۸٪A۷٪D۹٪۸۵-%D۸٪AA%D۸٪B٤٪DA%A۹٪DB%۸C%D۹٪۸٤٪D۸٪A۷٪D۸٪AA%DB%۸C (دری)

[۸۳] د ۲۰۲۳ کال د نومبر د شکایتونو د اورېدو قانون د شکایتونو د ثبت او رسیدګۍ په بهیر کې د ښځو او نارینه وو ترمنځ توپیر نه دی کړی. خو د یوناما د «افغانستان کې د امر بالمعروف او نهی عن المنکر د قانون د پلي کېدو، تطبیق او اغېزو راپور» (اپرېل ۲۰۲۵) له مخې، یوازې د بغلان د امر بالمعروف او نهي عن المنکر ریاست ښځینه کارکوونکې ګمارلې دي. د ښځینه کارکوونکو نشتوالی ښايي ښځې د شکایت له وړاندې کولو څخه منع کړي، ځکه په افغاني ټولنه کې د ښځینه شکایت کوونکو او نارینه شکایت اورېدونکو ترمنځ مستقیم تعامل عموماً د منلو وړ نه ګڼل کېږي.
د امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت یوناما ته ویلي چې هغه ښځه چې غواړي شکایت ثبت کړي، کولای شي د دروازې ساتونکي ته خبر ورکړي؛ وروسته به یو نارینه کارکوونکی د دروازې ترڅنګ په دفتر کې د هغې شکایت واوري .

[۸٤] ۲۴۲ ګڼه فرمان، د شکایتونو اوریدلو قانون تصویبوي، ۸ د نومبر ۲۰۲۳، رسمی جریده ۱۴۴۴ شمیره د مارچ ۵مه ۲۰۲۴، ۹ ماده. همدارنګه وګوری یوناما، « په «افغانستان کې د *برحاله* چارواکو اخلاقي څارنه: پر بشري حقونو یې اغېزې جولای ۲۰۲۴، ۱۸ پاڼه.

[۸۵] همدا ماخذ. ۱۱-۱۳مادې.

[۸٦] طلوع نیوز، ۷ د اپریل ۲۰۲۴، https://tolonews.com/pa/afghanistan-۱۸۸۲۰۱، https://x.com/TOLOnews/status/۱۷۷۷۰٤۱۱٤۹۸۱۲۹٤۵۱۵۷

[۸۷] د ښځو د حقونو اړوند موضوعاتو ته د رسیدګۍ د امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت د ګڼ شمېر اعلانونو په پام کې نیولو سره(د میراث د حقونو د تطبیق، د جبري ودونو د مخنیوي او د کورني تاوتریخوالي د دعوو د حل په ګډون )، یوناما د شکایتونو د اورېدلو قانون له مخې د دغې ادارې د ماموریت او د امر بالمعروف او نهي عن المنکر د قانون له مخې د شریعت د ترویج په برخه کې د هغې د رول ترمنځ توپیر کولو هڅه کوي، خو دا توپیر تل روښانه نه وي. د امر بالمعروف او نهي عن المنکر قانون وګورۍ، رسمي جریده ۱۴۵۲ ګڼه، ۳۱ د جولای ۲۰۲۴، د ۲۰۲۴ اګست په ۲۱ خپور شوی: https://x.com/mojafghanistan/status/۱۸۲٦۲۲۱۸۲۲۸٤٦۵۹۱۰۳٦?s=٤٦. همدارنګه وګوری ۳ د مارچ ۲۰۲۵ https://swn.af/en/۲۰۲۵/۰۳/ministry-of-promotion-of-virtue-and-prevention-of-vice-claims-sorting-۳۰-cases-of-women-rights/

[۸۸] طلوع نیوز سره د امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت د مرستیال وزیر مرکه، ۱۳ اپرېل ۲۰۲۴، https://tolonews.com/afghanistan-۱۸۸۲۸۲. د ښځو د حقونو په اړه په دغو قضیو کې د بشري حقونو د نړیوال قانون داسې جدي پېښې او تیري شامل وو چې ځینې ښځې پکې تښتول شوې او د اوږدې مودې لپاره چی ان ځینی یې د کلونولپاره په کورونو کې بندې ساتل شوې وې. همدارنګه، او د نجونو د جبري ودونو په قضیو کې د منځګړیتوب کول، کوم چې دطالبانو د مشر د ۲۰۲۱ کال د ډسمبر فرمان خلاف عمل دی.

[۸۹] *برحاله* د امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت، ۲۰ د اګست ۲۰۲۴، https://www.youtube.com/watch?v=٥cr٤IdFh٣FE

- د ۲۰۲۴ اکتوبر په ۲ مه، د شکایتونو کمیسون د ۲۰۲۴ مارچ څخه تر سپتمبر پورې ۱۷۰۰ شکایتونه ثبت کړي په دې کې د «اسلامي امارت د نهادونو او نظامي پرسونل» د چلند په اړه شکایتونه هم شامل وو خو ډېره برخه يې «ملکي شکایتونه» وو.[۹۰]
- سره له دې چې په عامه بیانیو کې دا موضوع نه وه روښانه شوې، خو یوناما ته د ورکړل شویو مالوماتو له مخې د شکایتونو ډېره برخه د *برحاله* امنيتي ځواکونو په اړه وه.[۹۱]

۵۴. یوناما ته د هغو مواردو په اړه مالومات رسېدلي چې په کې د امر بالمعروف او نهي عن المنکر ولايتي رئيسانو د *برحاله* پرسونل اړوند ځينې قضيې د اقدام لپاره *برحاله* نظامي محکمو ته راجع کړې دي، چې په هغو کې د توقیف شویو کسانو سره د ناوړه چلند[۹۲] قضيې هم شاملې دي. خو دا نه ده روښانه چې له راجع کېدو وروسته کوم اقدامات ترسره شوي او که نه. یوناما دغه ادعاوې نه شي تایېدولی.

۵۵. که څه هم *برحاله* د امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت په منظم ډول عامه راپورونه خپروي، خو په دغو راپورونو کې تر ډېره يوازې د شکايتونو شمېرې وړاندې کېږي. په دغو راپورونو کې دا نه دي ښودل شوي چې شکایتونه د کومو سرغړونو په اړه وو، د کومو *برحاله* امنيتي ادارو یا منسوبینو پورې يې تړاو درلود، د قضیو پایله څه وه (رد شوې که تایېد شوې)، او د هغو په اړه کوم اقدامات شوي دي. همدارنګه دا هم په کې نه وو ذکر شوي چې د *برحاله* امنيتي منسوبینو پر ضد څو قضيې د پرېکړې لپاره *برحاله* نظامي محکمو ته راجع شوې دي.

## ج. *برحاله* د رئيس الوزراء دفتر

۵۶. *برحاله* رئيس الوزراء کله ناکله د هغو پېښو د څېړنې امر کړی چې د *برحاله* امنيتي ځواکونو له خوا په کې د ولسي وګړو د مړينې پېښې رامنځته شوې دي. د مثال په توګه، د ۲۰۲۴ کال د مې په ۳مه او ۴مه نېټه په بدخشان ولایت کې د کوکنارو د کروندو د له منځه وړلو پر سر د ولسوالۍ د *برحاله* چارواکو او ځايي اوسېدونکو ترمنځ د اعتراضونو او نښتو پر مهال د يو شمېر کسانو تر وژل کېدو وروسته، د ۲۰۲۴ کال د مې په ۴مه *برحاله* ویاند اعلان وکړ چې د دغه پېښو او ستونزو د څېړنې په موخه يوه کمېټه جوړه شوې ده.[۹۳] وروسته له هغې چې یوناما د دغو پرلپسې پېښو په تړاو له *برحاله* چارواکو سره خبرې وکړې، داسې مالومات ورکړل شو چې *برحاله* پولیسو له ځان څخه د دفاع په خاطر هوايي ډزې کړې وې چې په نتیجه کې يې يو کس وژل شوی وو او د دویم ملکي کس د مړينې د مسؤليت په تړاو لا هم څېړنې رواني دي.[۹۴] خو تر اوسه په دې اړه نور مالومات نه دي ترلاسه شوي چې څېړنې کوم پړاو ته رسېدلې دي او يا د پېښې په تړاو د ښکېلو *برحاله* امنيتي منسوبینو پر وړاندې کوم عدلي تعقيب ترسره شوی یا مجازات شوي که نه.

## چ. د طالبانو د مشر دفتر

۵۷. د راپورونو له مخې، د طالبانو د مشر دفتر ته د *برحاله* ادارو له خوا ځينې جدي قضيې د څېړنې او تعقيب لپاره راجع کېږي. د طالبانو د مشر د ۲۰۲۲ کال د مارچ ۱۵۲۱ ګڼې فرمان کې هم يادونه شوې چې په شمالي ولایتونو کې د *برحاله*

---

[۹۰] په دې کې داسې ادعاوې هم شامل لکه هغو خلکو ته د هغوی شخصي موټر او ملکيتونه بېرته سپارل چې د *برحاله* چارواکو لهخوا ضبط شوي، د بېلګې په ډول، طلوع نیوز په ۲ د اکتوبر ۲۰۲۴، د امر بالمعروف او نهی عن المنکر وزارت په شپږو میاشتو کی ۱۷۰۰ شکایتونو ته رسیدګی کړی ده. وګورئ: https://x.com/TOLOnews/status/۱۸۵۰۷۱۹۷۵۹۱۹۰۵۹۳۵۹۷ (د ۱۸ کورونو او ۱۶ موټرو د بېرته سپارلو راپور)؛ او ۱۳ مارچ ۲۰۲۵ https://x.com/SAiFKHAiBAR۱۷۱۸/status/۱۹۰۰۱۱۷۹٦٥٤۷۲۷۳۱٦۱۹ (د هغه موټر د بېرته سپارلو راپور چې ویل کېد د پخواني حکومت ملکيت دی او په همدې دليل ضبط شوی و، خو وروسته خپل مالک ته وسپارل شو).

[۹۱] *برحاله* د امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت د ۲۰۲۵ کال د فبروری په ۱۲مه، https://x.com/SyfRsmy٤٥۳۳۰/status/۱۸۸۹٦۰٤۱۹۰٦۸۸۷۲۷٤٥۰ ؛ یوټیوب: https://www.youtube.com/watch?v=H٥LeJFOpyUY (سریزه پر دې دا تایید شوې وه چې *برحاله* د امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت په ټول هیواد کې ملکي بندیان نه لري، زموږ بندیان نظامي پرسونل دي د چا پر ضد چې شکایتونه ثبت شوي”). له دې سره سره، د شکایتونو د کمېسیون له کار پرته، د امر بالمعروف او نهي عن المنکر محتسبين دا واک لري چې ملکي وګړي تر درېيو ورځو پورې توقيف کړي، او یوناما ګڼ شمېر داسې قضيې مستند کړې چېرې چې نوموړي وزارت ملکي وګړي د امر بالمعروف او نهی عن المنکر له قانون څخه د سرغړونو په تور بندیان کړي.

[۹۲] د راپورونو له مخې د امر بالمعروف او نهي عن المنکر یوه ولايتي رئيس له بندیانو سره د ناوړه چلند له امله ۱۱ *برحاله* منسوبين محکمې ته معرفي کړي؛ د راپورونو له مخې بل هغه يې ۶۰ شکایتونه د نظامي محکمو په ګډون محکمو ته راجع کړي. د راپورونو له مخې د امر بالمعروف او نهي عن المنکر نور ولايتي رييسانو د شکنجې، واک څخه د ناوړه ګټې اخيستنې، او د نورو هغو موضوعاتو د موندنو په اړه خپل راپورونه په کابل کې *برحاله* د امر بالمعروف او نهی عن المنکر وزارت سره شریک کړي.

[۹۳] https://twitter.com/Zabehulah_M۳۳/status/۱۷۸٦۸۳۸۷۰۲۲۱۳۲۸۰۰۱۸ (انګلیسی)؛ https://x.com/Zabehulah_M۳۳/status/۱۷۸٦۸۲۷۸٤۲۰۳۱۸۷٤٥۲۹ (پښتو او په ایکس باندی).

[۹۴] د ۲۰۲۴ کال د مې په ۱۶مه، یوناما *برحاله* بهرنیو چارو وزارت سره د تعقیب لپاره د بدخشان ولایت په بېلابېلو ولسوالیو کې د درېيو پرله پسې پېښو او د هغو د قربانیانو په اړه مالومات مستند شوي شریک کړل. دا پېښې: د ۲۰۲۴ د مې په ۳مه په درایم ولسوالۍ کې يو کس ووژل شو او يو بل ټپي شو؛ د مې په ۴مه په ارګو ولسوالۍ کې يو کس ووژل شو؛ او د مې په ۱۳مه په ارګو ولسوالۍ کې دوه کسان ووژل شول او ۱۰ نور ټپیان شول، چې یو پکې هلک او نهه نور سړيان وو. د ۲۰۲۴ د مې د ۴مې پېښې په اړه، *برحاله* بهرنیو چارو وزارت یوناما ته ویلي چې پولیسو د ځان د ساتنې لپاره هوايي ډزې کړې وې، چې له امله يې يو کس وژل شوی و. د وزارت په وینا، لا هم څېړنې رواني دي څو مالومه شي چې وژل شوی کس د پولیسو په ډزو لګېدلی و او که د نورو کسانو لهخوا. د مې د ۱۳مې د پېښې په اړه، *برحاله* بهرنیو چارو وزارت ویلي چې پولیسو د ځان د ساتنې لپاره هوايي ډزې کړې وې، چې په پایله کې يې يو کس وژل شوی او نهه نور ټپیان شوي وو.

استخباراتو عمومي رياست له خوا د شکنجې راپورونه ترلاسه شوي دي. په فرمان کې ویل شوي وو چې که دغه ادعاوې ثابتې شي، نو د مسؤلو کسانو پر وړاندې به لازم اقدامات وشي.

۵۸. یوناما خبره ده چې *برحاله* د زندانونو د چارو د سمون اداره، کله چې توقیف شوي کسان د محاکمې د ترسره کېدو مخکې زندانونو ته لېږدول کېږي، هغه قضيې مستندوي چې په کې د توقیف شویو کسانو پر بدن د شکنجې یا ناوړه چلند نښې لیدل کېږي، او بیا یې د تعقیب لپاره د طالبانو د مشر دفتر ته راجع کوي، او هڅه یې کړې د هغو کسانو له منلو څخه ډډه وکړي چې د شکنجې یا ناوړه چلند نښې پرې موجودې وي.[95] د راپورونو له مخې، نورو *برحاله* ادارو ته هم لارښوونه شوې چې که مالومه شي له یوه کس سره ناوړه چلند شوی، نو د نورو *برحاله* ادارو له خوا ورسپارل شوې اړوند دوسیې یا توقیف شوي کسان ونه مني او دغه موضوع راپور کړي.

۵۹. تر اوسه دا نه ده روښانه چې د طالبانو د مشر دفتر ته څومره قضيې راپور شوي، څومره یې څېړل شوي یا نهايي شوې، او یا هم څومره قضيې د پرېکړو لپاره *برحاله* نظامي محکمو ته راجع شوې دي.

## ۳. قضايي څارنه – *برحاله* نظامي محکمې

۶۰. محکمې د بشري حقونو د سرغړونو په اړه د مرتکبینو د حساب ورکونې او د معافیت د مخنیوي په برخه کې بنسټیز رول لوبوي.[96] د ۲۰۲۴ کال په سپټمبر کې د *برحاله* ستري محکمې د نظامي چارو مرستیال وویل چې نظامي محکمې ځکه مهمې دي «چې د نظام بقا تر ډېره پر کورنیو چارو وزارت، دفاع وزارت، او استخباراتو عمومي رياست پورې تړلې ده»، او دا چې «نظامي محکمې د مجازاتو له لارې د دغو درېیو ادارو د کارکوونکو چلند سموي او تر کنټرول لاندې یې ساتي» یادونه یې وکړه چې د مجازاتو په نشتون کې، دندې او وسلې کله ناکله د ظلم او ناوړه استفادې وسیلې ګرځي.[97]

۶۱. د ۲۰۲۱ کال له نومبر راهیسې، *برحاله* نظامي محکمې په *برحاله* د کورنیو چارو وزارت، د استخباراتو عمومي رياست، او د دفاع وزارت منسوبینو باندې خپل صلاحیت اِعمال کړی دی.[98] د راپورونو له مخې *برحاله* نظامي محکمو ته داسې لارښوونه شوې وه چې څېړنې پیل کړي او هغه *برحاله* منسوبینو دندې وځنډوي چې قضیې یې محکمې ته راجع شوې وي، او که محکمه پرې شکایت ثابت کړي نو لازمې جزاګانې او تأدیبي اقدامات دې پرې تطبیق کړي. د ۲۰۲۲ په مې کې، *برحاله* ستري محکمې، نظامي محکمې او د هغو قاضي‌القضات په خپل قضايي تشکیل کې مدغم کړل.[99]

۶۲. په عمل کې، په *برحاله* امنیتي منسوبینو باندې د نظامي محکمو صلاحیت په دوامداره توګه نه دی تطبیق شوی. یوناما ته مالومه ده چې یو شمېر *برحاله* امنیتي منسوبین د ملکي محکمو له خوا هم محاکمه شوي او سزاګانې ورکړل شوې. له بلې خوا، د ۲۰۲۲ کال راهیسې یو شمېر ملکي وګړي چې د ځینو جرمونو لکه د داعش خراسان څانګې پورې تړلې قضيې، اختطاف، ځانمرګي بریدونه، «سیاسي قضیې» او د انسانانو د قاچاق قضیو په تور نیول شوي وو، هم په *برحاله* نظامي محکمو کې محاکمه شوي دي.[100] د ۲۰۲۶ کال د جنوري یوه فرمان دا موضوع روښانه کړې چې «د اسلامي امارت ارګانونه او

---

[95] د راپورونو له مخې، د کابل او کندهار مشرتابه *برحاله* پولیسو، محکمو او زندانونو ته سپارښتنه کړې چې که یو شکمن یا توقیف شوی کس د ناوړه چلند شکایت کړی وي، یا د ناوړه چلند نښې پرې ولیدل شي، نو د هغه دوسیه یا شخص له نورو *برحاله* ادارو څخه ونه مني .همدارنګه وګورئ: له بندیانو سره د چلند په اړه د یوناما راپور، سپټمبر ۲۰۲۳، ۳۹ مخ.

[96] د بشري حقونو کمیټه، د ملګرو ملتونو د بشري حقونو د عالي کمېشنرۍ څېړنه، «په ملي او نړیواله کچه د بشري حقونو د سرغړونو او تیریو د مخنیوي لپاره د قانون واکمنۍ او حساب ورکونې نقش» A/HRC/۵۷/۲۷، پاراګراف ۲۳.

[97] *برحاله* ستره محکمه، ۴ سپتمبر۲۰۲۴، https://x.com/SupremeCourt_af/status/۱۸۳۱۲۱۶۱۸۱۹۶۶۹۹۹۸۶۳.

[98] د ۲۰۲۱ د نومبر د ۲۸مې نېټې ۱۹ ګڼه فرمان له مخې، نظامي محکمې د *برحاله* کورنیو چارو وزارت، *برحاله* استخباراتو لوي رياست او *برحاله* دفاع وزارت د چارواکو پر ضد د شکایتونو او قضیو د اورېدو واک لري. د راپورونو له مخې، د دغو محکمو صلاحیت هغه ملکي کارکوونکي هم په بر کې نیسي چې په *برحاله* امنیتي ادارو کې دندې ترسره کوي.

[99] د ستري محکمې په تشکیلاتو کې د نظامي محکمو د شاملولو فرمان، ۲۸ مې ۲۰۲۲؛ د دفاع وزارت د نظامي محکمو د منحل کېدو فرمان، ۱۰ ډسمبر ۲۰۲۲، ۲۲۱۹ الف ګڼه فرمان، د نظامي محکمو د تشکیل، جوړښت او د اجرا او تطبیق په اړه، ۲۸ مې ۲۰۲۲.

[100] د *برحاله* ستري محکمې ۲۰ ګڼه متحدالمال، د ۲۰۲۲ کال د جولای ۲۸مه، چې د محکمو د بېلابېلو څانګو صلاحیتونه مشخصوي، چې پکې جزايي محکمې، ملکي محکمې، د عامه امنیت څانګه او نظامي محکمې شاملې دي.
د نظامي محکمو له خوا د ملکي وګړو محاکمه، په اصل کې د بشري حقونو له نړیوال قانون سره په ټکر کې ده، ځکه چې د عدالت د عادلانه، بېطرفه او خپلواک تطبیق په اړه جدي ستونزې رامنځته کوي. دغه ډول محاکمې یوازې په استثنايي مواردو کې او د سختو شرایطو له پوره کېدو سره جواز لري، چې له هغو څخه یو دا دی چې محاکمه د مدني او سیاسي حقونو د نړیوال میثاق او د بشري حقونو د نړیوالې اعلامیې د عادلانه محاکمې تضمینونه رعایت کړي. وګورئ د بشري حقونو د کمیټې ۳۲ عمومي تبصره، CCPR/C/GC/۳۲ ,۳۲.
همدارنګه، دوه فرمانونه *برحاله* نظامي محکمو ته دا صلاحیت ورکوي چې راجع شوې قضیې وڅېړي، پرته له دې چې په څرګند ډول د *برحاله* امنیتي ادارو په چوکاټ کې د تورن د موقف ترمنځ توپیر وکړي، یعنې دا چې تورن ملکي کس دی او که د امنیتي ځواکونو غړی. ۲۳ ګڼه فرمان وګورئ: د فرمانونو او حکمونو د نظارت او ارزیابۍ د لوي رياست قضيې نظامي محکمو ته راجع کول؛ او د ۲۰۲۴ کال د انساني قاچاق د منع فرمان، https://x.com/MojAfghanistan/status/۱۸۷۱۷۸٤٥١٤٦٥٥٢٥٢٦٧٤

قطعات د نظامي محکمې په صلاحیت کې راځي»، خو «هر بل شخص یا نهاد» چې د عامه امنیت اړوند جرمونو په قضیو کې تورن وي، د عامه امنیت دیوان له خوا به محاکمه کېږي.[۱۰۱]

۶۳. د *برحاله* سترې محکمې عامه راپورونه منظم نه دي. که څه هم *برحاله* ستره محکمه د ملکي محکمو د قضیو د شمېر په اړه په دوامداره توګه مالومات خپروي، خو د نظامي محکمو د فعالیتونو په اړه یوازې وخت ناوخت راپور ورکوي. په دواړو حالاتو کې، خپاره شوي ارقام تر ډېره یوازې د قضیو شمېر او د هغو د رسیدګۍ په برخه کې عمومي پرمختګ ښيي.[۱۰۲] د هغو قضیو په اړه چې د کابل او کندهار د تمیز محکمو نظامي دیوانونو له خوا ورته رسیدګي شوې، وروستني اعلانات دا څرګندوي چې کله ناکله د ترسره شویو اقداماتو په اړه مالومات اعلانیږي، خو په هغو کې تفصیلي جزئیات نه وړاندې کېږي.[۱۰۳]

۶۴. د قضايي شفافیت په برخه کې د نړیوالو معیارونو او غوره کړنلارو د رعایت لپاره، یوناما له *برحاله* سترې محکمې غواړي چې تفکیک شوي مالومات خپاره کړي. دغو مالوماتو کې دې د جرمونو ډولونه، د قضیو پایلې (برائت، د منځګړیتوب له لارې حل او فصل، یا محکومیت او سزا)، او د تورنو او قربانیانو شهرت (د *برحاله* اداري چارواکي یا عادي وګړي، جنس او عمر) شامل وي. دا به *برحاله* امنیتي ادارو ته زمینه برابره کړي چې تکرارېدونکې ستونزې وپېژني او د حل لپاره یې اغېزمن اقدامات وکړي.[۱۰۴]

۶۵. د ډلبندي شویو راپورونو تر څنګ، تر اوسه پورې، *برحاله* سترې محکمې د خپلو نظامي محکمو د پرېکړو او سزاوو په اړه ډېر لږ عامه مالومات خپاره کړي دي. دا موضوع هغه مهال لا د پام وړ ګرځي کله چې د ۲۰۲۶ کال تر اپرېل پورې د *برحاله* سترې محکمې له خوا د ملکي وګړو له لوري د ترسره شویو عادي او اخلاقي جرمونو په اړه د حکمونو او بدني مجازاتو د تطبیق د اعلانونو له شمېر سره پرتله شي.[۱۰۵]

۶۶. *برحاله* سترې محکمې د خپلو نظامي محکمو د حکمونو او سزاوو په اړه یوازې لږ شمېر خبرتیاوې خپرې کړې دي، خو په هېڅ یوه کې یې دا نه دي روښانه کړې چې محکوم شوي کسان د *برحاله* امنیتي ادارو غړي وو که نه.[۱۰۶]

---

[۱۰۱] د لا زیاتو مالوماتو لپاره د ۲۰۲۶ کال د جنورۍ د ۲۷مې نېټې ۵۸۰۹/۲۴۴۹ ګڼه فرمان وګورئ، چې له مخې یې د عامه امنیت د څانګې په صلاحیت کې «هغه اداري ارګانونه او واحدونه نه شاملېږي چې د اسلامي امارت د نظامي محکمې تر قضايي واک لاندې راځي».

[۱۰۲] د مثال په توګه، *برحاله* ستری محکمی، ۱۹ سپتمبر ۲۰۲۴، https://x.com/SupremeCourt_af/status/۱۸۳۶۶۳۵۸٦٤١٦١٤٦٤٦٥٢ (د امارتي ادارو د کلنیو لاسته راوړنو د پروګرام له مخې، د ابتدائیه، استیناف او تمیز محکمو په سطحه له ۲۵۰,۷۶۲ ثبت شویو قضیو څخه ۱۸۵,۵۹۱ قضیو ته رسیدګي شوې ده چی پکی د هرې کچې د فیصله شویو او پاتې قضیو شمېر هم جلا ښودل شوی و. «پدی قضیو کی ۸,۴۸۵ قضیې د نشه يي توکو او ۵,۶۶۲ قضیې... د ښځو د میراث او شرعي ملکیت د حقونو اړوند وې»).

[۱۰۳] د *برحاله* سترې محکمې اعلانونه وګورئ، ۷ مې ۲۰۲۵، https://x.com/SupremeCourt_af/status/۱۹۲۰۰۵۷۹۱۸۷۸۰۵۱۰۳۹۲ (د کابل د سترې محکمې د نظامي منسوبینو د تمیز څانګې د ۲۰۲۵ کال د جنورۍ له ۱ څخه د مارچ تر ۲۹مې پورې ۵۱ قضیې څېړلې دي. په اعلان کې ویل شوي چې له دې جملې «۲۷ مکتوبونه بېرته استول شوي»؛ «۶ قضیې تایید شوې»،« ۱۳ قضیې نقض شوې»، «په یوه قضیه کې د تمیز غوښتنه رد شوې»، او «۴ قضیې فیصله شوې دي») ۱۰ د مي ۲۰۲۵، https://x.com/SupremeCourt_af/status/۱۹۲۱۱۳۱۰۲۱۸۲٤٥٨٦٠٧٧ (د ۲۰۲۵ کال د جنورۍ له ۱مې څخه د مارچ تر ۲۹مې، *برحاله* سترې محکمې اعلان وکړ چې د جنوب لوېدیځ زون (کندهار تمیز) د نظامي محکمې څانګې ۳۱ قضیې څېړلې دي په کوم کی چی «۱۳ مکتوبونه بېرته استول شوي» « ۲ قضیې تایید شوې»، «۱۲ قضیې نقض شوې» او« ۴ متفرقه عرایض »؛ ۲۱ اپریل ۲۰۲۶، https://x.com/SupremeCourt_af/status/۲۰٤٦٥١٧٨٢١٩٧١٠٣٤٣١٢?s=۲۰ (د ۲۰۲۵ د ډسمبر له ۲۲مې څخه د ۲۰۲۶ د مارچ تر ۱۸مې پورې، د سترې محکمې د مرکزي عالي ریاست نظامي څانګې ۳۳ قضیو ته رسیدګي کړې ده)؛ او په ۲۲ اپریل ۲۰۲۶، https://x.com/SupremeCourt_af/status/۲۰٤٦٩٠٠٩٣٧٧٢٦٢٦٧٧٤١?s=۲۰ (د سترې محکمې د سوېل لوېدیځ زون (کندهار تمیز) د نظامي محکمې څانګې ۱۹۰ قضیې څېړلې دي).
همدارنګه ۱۳ د می ۲۰۲۵ وګوری https://x.com/SupremeCourt_af/status/۱۹۲۲۱٥٦٦٥٥٢٩٦٣١١٧٥٢ (د ۲۰۲۴ د اکتوبر له ۴مې څخه د ډسمبر تر ۳۱مې پورې، نظامي محکمو د ۱۲۱٤ کسانو د خوشې کېدو، د ۹۷۴ نورو کسانو د توقیف او د ۱۸۳،۱ بندیانو د څېړنو لپاره ولایتي استخباراتو ریاستونو او عامه زندانونو ته د لېږدولو حکمونه صادر کړي وو).

[۱۰۴] د لا زیاتو مالوماتو لپاره وګورئ: د ملګرو ملتونو د نشه يي توکو او جرمونو دفتر، «د څارنوالۍ او محکمو د احصایوي مالوماتو د تنظیم او مدیریت لارښود»، ۲۰۲۳.

[۱۰۵] په داسې حال کې چې بدني مجازات لا هم تطبیقېږي، یوناما د *برحاله* سترې محکمې له خوا د ۲۰۲۶ کال د اپرېل پر ۲۲ نېټه وروستۍ اعلان شوې بدني سزا ملاحظه کړې. دا د پخوانۍ کړنې په پرتله د پام وړ بدلون ښيي، څرنګه چې به پخوا په ټول هیواد کې د خپلې X پاڼې له لارې په منظم ډول د دُرو وهلو د سزاوو اعلانونه کول.
د *برحاله* سترې محکمې لخوا اعلانونه هغه وخت دوامداره شول چې ۲۰۲۲ کال د نومبر په ۱۳، د *برحاله* چارواکو ویاند، ذبیح الله مجاهد ټویټ وکړ چې د طالبانو مشر د قاضیانو سره لیدنه وکړه او په هغوی یې تاکید وکړ د حدودو او قصاص پلې کول یې مسولیت دی [البته] په هغو جرمونو کې چې د شریعت سره سم د سزاګانو د پلې کیدو شرایط یې پوره وي، د لاسرسي وړ https://x.com/Zabehulah_M۳۳/status/۱٥٩١٨٢٤٩٩٩٨٧٠٢٥٩٢٠٠?s=۲۰&t=DiJiPIQqSmHV٨zWj٤KjBFw. همدارنګه په افغانستان کې بدني مجازات او د اعدام سزا په اړه د یوناما د بشري حقونو د څانګې راپور وګورئ، ۷ مې ۲۰۲۳.

[۱۰۶] د ۲۰۲۴ کال په فبرورۍ میاشت کې، یوازې په یو مورد کې *برحاله* سترې محکمې د هرات د *برحاله* نظامي محکمې یوه پرېکړه خپره کړه. په لومړني اعلان کې اته کسان، چې د سیمی د خلکو وهلو او ناوړه چلند په جرم محکوم شوي وو چی *برحاله* نظامي منسوبین وو، خو وروسته دغه اعلان بدل شو او د هغوی پر ځای یوازې د «اتو نارینه وو» یادونه پکې وشوه. *برحاله* ستره محکمه، ۲۹ فبروری ۲۰۲۴، https://x.com/SupremeCourt_af/status/۱۷٦٣٠٨٥٣٥٦٠١٢٨٩٦٥٣٤?s=۲۰

۶۷.	تر اوسه پورې د *برحاله* سترې محکمې په یو څو عامه اعلانونو کې داسې ښکاره شوې چې *برحاله* نظامي محکمو په بېلابېلو جرمونو کې تورن اشخاصو ته سزاګانې ورکړې دي؛ په دغو جرمونو کې «غلا، قتل، اختطاف او نامشروع اړیکې»،[۱۰۷] جعل کاری،[۱۰۸] «قتل» (تورنېدل)،[۱۰۹] قصدي وژنه،[۱۱۰] اخلاقي فساد،[۱۱۱] لواطت او غلا [۱۱۲]شامل دي. په یوه خبرتیا کې چې د کندهار زون د نظامي محکمې لخوا درنې سزاګانې په کې صادرې شوې وې خو په دغې خبرتیا کې د اړوندو جرمونو په اړه هېڅ نه وو ذکر شوي.[۱۱۳]

۶۸.	له اختطاف او «سیاسي فعالیتونو» د جرمونو پرته، چې له مخې يې ملکي وګړي په لومړي سر کې د نظامي محکمو پر وړاندې محاکمه کېدای شي، یوناما د هغو جرمونو له نوعیت څخه چې د *برحاله* نظامي محکمو له خوا ور باندې سزاګانې وضع شوې دي، دې نتیجې ته رسېږي چې په نږدې ټولو قضیو کې مرتکبین د *برحاله* امنیتي ادارو منسوبین وو. په داسې حال کې چې ټولو محکوم شویو کسانو ته له یوه کال څخه تر ۱۷ کلونو پورې د بند او دُرو[۱۱۴] سزاګانې ورکړل شوي، هغه یوازینی کس چې د قصدي وژنې په جرم مجرم پېژندل شوي وو، د اعدام په سزا محکوم او دغه حکم ور باندې تطبیق شو.[۱۱۵] تر اوسه پورې د شکنجې یا ناوړه چلند د جرم په تړاو د کومې سزا د صادرېدو په اړه هېڅ اعلان نه دی شوی.

۶۹.	د دې خبرې په تایید سره چې *برحاله* منسوبین نیول کېږي او نظامي محکمو ته راجع کېږي، د ۲۰۲۴ کال په مارچ کې د *برحاله* زندانونو چارو د سمون ادارې نظامي چارو مرستیال وویل چې د شاوخوا ۲۰۰ څخه تر ۲۵۰ پورې *برحاله* پرسونل په زندانونو کې بندیان دي.[۱۱۶] که څه هم هغه په دې اړه څه ونه ویل چې آیا دغه کسان د امنیتي ادارو منسوبین دي، او نه يې هم د هغوي د قضیو حالت روښانه کړ ( چې د محکمې په تمه وو که محکوم شوي وو).

۷۰.	یوناما ته مالومه ده چې *برحاله* نظامي محکمو ځینې *برحاله* منسوبین د هغو کړنو له امله محکوم کړي چې د شریعت له احکامو یا د طالبانو د مشر له فرمانونو سره په ټکر کې وو، خو دغه کړنې به هغوي په شخصي ژوند کې ترسره کړې وې او که د رسمي دندو پر مهال. همدارنګه محکمو مشران چارواکي هم د خپلو تر لاس لاندې کسانو د سرغړونو له امله مسؤل بللي او محکوم کړي دي. په دغو جرمونو کې د اشخاصو وهل، په یوه قضیه کې د خاوند له لورې د خپلې مېرمنې وهل چې نوموړې وروسته مړه شوې وه، د نامشروع اړیکو په تور د خپلې مېرمنې او د هغې د تره د زوی ناموسي وژنه، د اشخاصو غیرقانوني توقیف، سرقت او وسله واله غلا، «سیاسي فعالیتونه»، فساد، د پخوانیو سیمه ییزو پولیسو د یوه غړي وژنه، او اخلاقي جرمونه شامل وو. په سزاګانو کې تر پنځو کلونو پورې بند او د شریعت له مخې ټاکل شوي مجازات شامل وو، چې دُرې او په یوه قضیه کې د ابتدائیه محکمې له خوا د غړې پرې کولو صادر شوی حکم هم په کې شامل و. [۱۱۷] یوناما همدارنګه د هغو *برحاله* امنیتي منسوبینو په اړه مالومات لري چې د ۲۰۲۱ کال له اګست وروسته د هغو جرمونو په تړاو تر څېړنو لاندې نیول شوي او محکوم شوي دي چې د *برحاله* امنیتي ادارو له لیکو سره یوځای کېدو مخکې يې ترسره کړي وو. یوناما ته مالومه نه ده چې د یادو جرمونو قربانیان په دغو قضیو کې ښکېل وو او که نه، او یا د محاکمې پر مهال حاضر شوي وو که نه.

۷۱.	سره له دې چې دغه قضیې د حساب ورکونې د تحقق په موخه د قضایي هڅو بېلګې وړاندې کوي، یوناما د نړیوالو بشري حقونو معیارونو د رعایت په تړاو اندېښنې لري. د عادلانه محاکمې حق، د شکنجې، ظالمانه، ناانساني یا له سپکاوي

---

[۱۰۷] *برحاله* ستره محکمه، ۱۹ دسمبر ۲۰۲۴، https://supremecourt.gov.af/ps/٥٤٦٥ [په ۱۷ دسمبر ۲۰۲۴ ، د پکتیا زون ابتدائیه نظامي محکمې اته بالغ نارینه د غلا، قتل [غیرقصدی ګڼل شوي]، اختطاف، او نامشروع اړیکو په جرمونو محکوم کړل. دوي ته له دوو تر لسو کلونو پورې د بند سزاوې او هر یوه ته ۳۹ دُرې وټاکل شوې، او ځینو ته یوازې د ۳۹ دُرو سزا ورکړل شوه].

[۱۰۸] *برحاله* ستره محکمه، ۱۰ جولای ۲۰۲۴ ، https://x.com/SupremeCourt_af/status/١٨١١٠١٠٢٤٢٥٥٩٢٢٦١٦٣ (په ۱۱ د جولای ۲۰۲۴، کندهار زون ابتدائیه نظامي محکمې دوه کسان د جعل په جرم هر یو ته د ۳۹ دُرو سزا واوروله).

[۱۰۹] *برحاله* ستره محکمه، ۳ فبروری ۲۰۲۵، https://x.com/SupremeCourt_af/status/١٨٨٦٣٥١٨٦١٦١٧٤١٨٤٤٦ »)د ۲۰۲۵ کال د فبروری په ۳، د کندوز زون نظامي محکمې یو کس د قتل په تور [چې غیرعمدي ګڼل کیده] په یوه کال بند او ۳۹ دُرو محکوم کړ.

[۱۱۰] پکتیا *برحاله* ابتدائیه پوځی محکمه، ۱۲ نومبر ۲۰۲۴، https://x.com/PaktiaPMC/status/١٨٥٦٣١٢٩٥١٣٨٢٠٨١٩٨٧?t=٥C٨JyqOZyYxTUqwO٢zi٤pA&s=١٩ (په ورپسې ورځ د هغه کس اعدام اعلان شو چې د قتل (قصدي وژنې) په جرم محکوم شوی و. دغه پریکړه د لوړو محکمو او د طالبانو د مشر د دفتر له تایید وروسته شوې وه.)

[۱۱۱] *برحاله* ستره محکمه، ۵ فبروری ۲۰۲۵، https://x.com/SupremeCourt_af/status/١٨٨٧٠٣٩٢٩٦٤١٢٠٣٣٢١٧ (د کندوز زون ابتدائیه نظامي محکمې د یوې ښځې په ګډون دوه کسان د اخلاقي فساد په تور هر یو په دوه کاله بند او ۳۹ دُرو سزا باندی محکوم کړل).

[۱۱۲] *برحاله* ستره محکمه، ۲۸ اګست ۲۰۲۴، https://x.com/SupremeCourt_af/status/١٩٦٠٩٦٩١٤٠٨٦٦٢٩٤١٦٠ (د پکتیا زون ابتدائیه نظامي محکمې شپږ کسان د لواطت او غلا په تور له یو څخه تر درېیو کلونو پورې په بند او له ۲۰ څخه تر ۳۹ درو پورې سزا باندی محکوم کړل.)

[۱۱۳] *برحاله* ستره محکمه، ۲ د اپریل ۲۰۲۴، https://x.com/SupremeCourt_af/status/١٧٧٥٠٨٩٦٣٠٠٧٠٦١٦٣٧٥?s=٢٠ (د مارچ په ۲۸ مه ۲۰۲۴، کندهار زون نظامي محکمې درې کسان په: ۱۷ کاله بند او ۳۹ درو، ۱۰ کاله بند، او پنځه کال بند او ۳۰ درو محکوم کړل).

[۱۱۴] د بشري حقونو د نړیوالو قوانینو له مخې، بدني سزاوې لکه دُرې وهل د ظالمانه، غیرانساني او سپکوونکي مجازاتو له ډولونو څخه ګڼل کېږي، او منع دي.

[۱۱۵] د پکتیا *برحاله* ابتدائیه نظامي محکمه، ۱۲ نومبر ۲۰۲۴، مخکینی ماخذ، ۱۱۰ لمنلیک. د بشري حقونو د نړیوالو قوانینو له مخې،د اعدام سزا د بشري حقونو له اساسي اصولو سره سمون نه لري، په ځانګړي ډول د ژوند حق او له شکنجې، ظالمانه، غیرانساني او سپکوونکي چلند یا مجازاتو څخه د خوندي پاتې کېدو حق.

[۱۱۶] *برحاله* زندانونو چارو د سمون اداره، ۲۹ مارچ ۲۰۲۴، https://www.youtube.com/watch?v=IpNt٦SgdEKs ؛ ۲۰ اپریل ۲۰۲۴، https://x.com/Shamshadnetwork/status/١٧٨١٥٥٨٦٦٣٦٤٩٣٣٣٧١٢.

[۱۱۷] د بشري حقونو د نړیوالو قوانینو له مخې، بدني سزاګانې د شکنجې یا ظالمانه، سپکاوي ډک چلند او مجازاتو له ډولونو څخه شمېرل کېږي، چې په هر ډول شرایطو کې منع دي.

ډک چلند او مجازاتو څخه د خوندیتوب حق چې د نړیوالو بشري حقونو د قانون له مخې تضمین شوي دي، داسې ښکاري چې په پرلپسې ډول تر پښو لاندې کېږي. په ځانګړي ډول، د *برحاله* نظامي محکمو پر وړاندې تورنو کسانو ته د وکیل یا حقوقي مرستې د ترلاسه کولو اجازه نه ده ورکړل شوې، او په صادرو شویو سزاګانو کې په دوامداره توګه بدني مجازات هم شامل وو. سره له دې چې د راپورونو له مخې *برحاله* سترې محکمې د *برحاله* نظامي محکمو د ټولو پرېکړو او سزاګانو بیا کتنه کوي، د استیناف حق یوازې هغو تورنو کسانو ته ورکړل شوی چې د حدودو اړوند جرمونو[118] یا د قصاص او اعدام[119] تطبیق سره تړاو لري. له همدې امله، ډېری تورن کسان د خپلو قضیو د قضايي بیا کتنې له قانوني حق څخه بې برخې کېږي، چې دا کار د ناعادلانه پایلو او قضايي تېروتنو احتمال زیاتوي. یوناما ته مالومه ده چې ځینو اشخاصو د خپلو قضیو د بیا کتنې په موخه *برحاله* سترې محکمې او یا هم په مستقیم ډول د طالبانو د مشر دفتر ته عریضې وړاندې کړې دي. د راپورونو له مخې، یو له هغو اشخاصو څخه چې دا کار یې کړی و ورته ویل شوي و چې تقریباً ۲۰۰۰۰ عریضې د طالبانو د مشر د بیا کتنې په تمه دي، او نوموړی هره عریضه په انفرادي توګه ارزوي. د عریضو د شمېر د ډېروالي له امله، یوې عریضې ته د رسیدګۍ لپاره تر شپږو میاشتو پورې وخت نیسي. یوناما یو ځل بیا پر دې تاکید کوي چې *برحاله* ستره محکمه باید ټول اړین اقدامات ترسره کړي څو ډاډ ترلاسه شي چې د *برحاله* نظامي محکمو له خوا د ترسره کېدونکو محاکمو په ګډون، ټولې محاکمې په رښتینې ډول د مدني او سیاسي حقونو د نړیوال میثاق، چې افغانستان یې غړی دولت دی، په ۱۴ ماده کې درج شوي ټول تضمینونه رعایتوي.

۷۲. سربېره پر دې یوناما له اندېښنې سره د هغو مواردو یادونه کوي چې *برحاله* نظامي محکمو د *برحاله* امنیتي منسوبینو پر ضد د عریضو له منلو انکار کړی او شکایت کوونکو ته یې سپارښتنه کړې چې د مجاهدینو پر ضد د دعوو د ثبت په موخه دې محکمو ته مراجعه نه کوي، چې دغه کار د معافیت له چاپېریال سره مرسته کوي. سربېره پر دې، په ځینو مواردو کې *برحاله* امنیتي منسوبین د بېلابېلو جرمونو په تړاو له نیول کېدو او ځینې وخت له محکومېدو وروسته بېرته خوشې شوي دي، چې ځینې وخت دا چاره محکمې ته د قضیې له راجع کېدو وروسته د منځګړیتوب له لارې ترسره شوې ده. په دغو قضیو کې، یوناما په دې اړه مالومات نه لري چې د دغو قضیو د ترلو یا ردولو لپاره کافي دلایل موجود وو او که نه. دغه ډول پرېکړې نه په علني ډول اعلانېږي او نه یې په اړه منظم راپورونه خپرېږي.

۷۳. یوناما د *برحاله* نظامي محکمو د هغه مهم رول هرکلی کوي چې د *برحاله* امنیتي منسوبینو د معافیت د مخنیوي او حساب ورکونې د تحقق په برخه کې یې لري. له دې سره سره، اړینه ده چې *برحاله* ستره محکمه دا ډاډمن کړي چې عدالت د ټولو افغانانو لپاره د لاسرسي وړ دی، او دا چې هغه د *برحاله* محکمو له خوا د شکایتونو د عریضو د ردولو تورونه یا د *برحاله* څارنیزو ادارو له خوا د سرغړونو راپورونه په مناسب ډول څېړي، په ځانګړي ډول کله چې په قضیو کې *برحاله* امنیتي غړي دخیل وي. په داسې حال کې چې *برحاله* سترې محکمې په خپله قضا مجله کې د ۲۰۲۵ کال د اګست پر ۱۶ نېټه یوه نشریه خپره کړه او اعلان یې وکړ چې د رشوت غوښتنې په ګډون که څوک پر یوه محکمه یا د محکمې پر غړي کوم شکایت لري، کولی شي خپله لیکلې عریضه، له اسنادو او شواهدو سره یوځای، په کابل کې د *برحاله* سترې محکمې [۱۲ غرفې] ته وسپاري. دا څرګنده نه ده چې آیا دغه اعلان په پراخه کچه خپور شوی او یا هم خلکو ته د لاسرسي وړ ګرځول شوی وو، په ځانګړې توګه له کابل څخه بهر سیمو کې.[120]

۷۴. یوناما په کلکه سپارښتنه کوي چې *برحاله* ستره محکمه د خپلو نظامي محکمو د پایلو په اړه د عامه مالوماتو د خپرولو او شفافیت کچه لوړه کړي. په ځانګړي ډول، ستره محکمه باید د قضیو په اړه لړ تر لړه تفکیک شوي مالومات ثبت او په منظم ډول یې خپاره کړي، چې په هغو کې لړترلړه د جرمونو ډولونه هم شامل وي چې د جزايي، عامه امنیت او نظامي محکمو له خوا ورته رسیدګي کېږي، په خاص ډول د هغه قضیو پایلې چې د محرمیت د حق له رعایت سره سم د مرتکبینو او قربانیانو د هویت او مشخصاتو اړوند مالومات په کې وي. د *برحاله* نظامي محکمو د قضايي پایلو په اړه شفافیت په باور رامنځته کولو کې خورا مهم دي. دا په ځانګړي ډول په هغو قضیو کې مهم دی چې مرتکب داسې موقف لري چې عوام په هغه موقف باور لري، لکه د پولیسو افسر او یا کوم بل امنیتي منصب. دا چاره کولی شي د جرمونو د ډولونو په لا ښه پېژندلو کې مرسته وکړي او د جزايي عدالت مؤثریت پیاوړې کړي. د *برحاله* سترې محکمې له خوا د خپلو *برحاله* نظامي محکمو د

---

[118] حدود هغه ځانګړي جرمونه دي چې په اسلامي شریعت کې د الله د حقونو (حقوق‌الله) اړوند ګڼل کېږي او سزاګانې یې په قرآن او سنتو کې ټاکل شوې دي. په دغو جرمونو کې بغاوت، غلا، قطاع الطریقی، زنا، قذف (پر بل چا ناسم تور لګول)، د الکولو څښل او ارتداد شامل دي. د دې جرمونو سزاګانې له مخکې ټاکل شوې وي او د غړي پرې کول، دُرې وهل او سنګسار پکې شامل دي. د اسلامي فقهې له مخې، دا سزاګانې د شرعي نصوصو پر بنسټ ټاکل شوې دي؛ له همدې امله قاضي په کې د خپلې خوښې له مخې بدلون نه شي راوستلای او عموماً د افرادو یا دولت له خوا هم نه بخښل کېږي. اروپايي علمي ژورنال، «په اسلامي جزايي قانون کې د حدودو سزاګانې»، ډاکټر ابېټیم اې. اوکون، مې ۲۰۱۴، ټوک ۱۰، ګڼه ۱۴.
[119] د ۲۰۲۲ کال د مې د ۲۸مې نېټې ۲۲۱۹ ب ګڼه فرمان، د سترې محکمې په تشکیلاتو کې د نظامي محکمو د شاملولو په اړه، لومړۍ ماده (په تعزیري قضیو کې د دغو محکمو پرېکړې قطعي دي، خو د اعدام او حدودو په قضیو کې پرېکړه د درېګونو محکمو د بیاکتنې له پړاوونو تېرېږي).
[120] *برحاله* ستره محکمه، https://t.co/U۸VBX۵jZwR, https://x.com/SupremeCourt_af/status/۱۹۵٦٦۰۸۷۱۸۷۰۹۱۲۹۳۰۰

پایلو په اړه د منظمو او دوامدارو عامه مالوماتو د نشتون له امله، دا روښانه نه ده چې تر اوسه په محدودو اعلان شویو سزاګانو کې د *برحاله* امنیتي ځواکونو د نورو منسوبینو په چلند یا د ورته سرغړونو په مخنیوي کې کوم اغېز درلودلی دی که نه.

۷۵. هر هغه قانوني چوکاټ یا لارښود چې عامو خلکو ته د مالوماتو خپرولو څرنګوالی تنظیموی، باید مالوماتو ته د لاسرسي حق خوندي کړي، پرته له دې چې د قربانیانو، تورنو یا محکومو اشخاصو حقونو ته زیان ورسېږي. د ۲۰۲۳ کال په ډسمبر کې *برحاله* سترې محکمې لخوا ټولو محکمو ته په صادر شوي متحدالمال کې د اشخاصو د محرمیت حق او د هغوي د شخصي مالوماتو ساتنه تضمین شوې چې په کې (د شکمنو، تورنو، ماشومانو، شاهدانو او متخصصینو، قاضیانو او د هغوي د خپلوانو) مالومات هم پکې شامل وو. پدغه متحد المال کې د ځینو ځانګړو جرمونو او قضیو اړوند د مالوماتو پر شریکولو هم محدودیتونه لګول شوی (لکه کورنۍ قضیې، د عامه امنیت اړوند جرمونه، او د کورني او بهرني امنیت پر ضد جرمونه، او یا هغه قضیې چې په غیرعلني غونډو کې اورېدل کېږي).

۷۶. خو همدغه متحدالمال بیا د هغه نورو کټګوریو د مالوماتو د خپرولو مخه نیسي چې د عامه ګټو له پلوه مهم دي او د حساب ورکونې او شفافیت په پیاوړتیا کې مرسته کولای شي. د *برحاله* سترې محکمې د پرسونل په تړاو راتلونکو مواردو ته شاملېږي تر څو نشر نه شي: «د دعوو هغه شمېر او ډولونه چې له هغو څخه د فساد یا بدنامۍ استنباط کېدای شي»، «د محکمو د قاضیانو د بې کفایتۍ ادعاوې»، «او یا د هغو جرمونو په اړه مالومات چې محکمو ته د بدنامۍ سبب ګرځي»، کله چې دغه موارد د محکمو د فعالیتونو په اړه د داخلي تفتیش په راپورونو کې راغلي وي.[121]

## ٤. پایلې

۷۷. نږدې پنځو کلونو وروسته، داسې ښکاري چې د افغانستان *برحاله* چارواکو د طالبانو د مشر د هغو لارښوونو د پلي کولو لپاره ګامونه پورته کړي دي چې له افغانانو سره د ښه چلند، د شکنجې او نورو ناوړه چلندونو په ګډون د سرغړونو د مخنیوي، او د *برحاله* امنیتي ادارو د سرغړونو په اړه د حساب ورکونې د ډاډمنولو غوښتنه کوي. د هغو ګڼو فرمانونو د صادرولو ترڅنګ چې ناوړه چلند په کې منع شوی او د اړتیا په صورت کې د مجازاتو زمینه برابروي، یو شمېر نور اقدامات هم ترسره شوي دي: په دغو اقداماتو کې د لوړپوړو مقاماتو له لوري منظم پیغامونه او ځینې نور اقدامات شامل دي، چې د سلسلې مراتب په ښکلابښلو کچو کې د حساب ورکونې د کلتور په پیاوړتیا کې مرسته کوي؛ د *برحاله* امنیتي منسوبینو د تحقیقاتو او تأدیبي تعقیب په اړه د *برحاله* وزارتونو د ځینو پخوانیو داخلي طرزالعملونو دوام؛ د نویو باندنیو څارونکو مراجعو رامنځته کول، لکه *برحاله* لوي ریاست او د امر بالمعروف، نهي عن المنکر وزارت د شکایتونو د اورېدلو کمېسیون هم په کې شامل دي؛ د نورو *برحاله* چارواکو له خوا د تحقیقاتو اعلانول، چې په کې *برحاله* والیان، *برحاله* رئیس الوزراء دفتر، او د طالبانو د مشرتابه دفتر؛ او همدارنګه د *برحاله* سترې محکمې او د هغې د نظامي محکمو هغه فعالیتونه چې تر اوسه یې د *برحاله* امنیتي منسوبینو د سرغړونو ته د رسیدګۍ په برخه کې ترسره کړي دي.

۷۸. د *برحاله* امنیتي ادارو د داخلي څارنې د میکانیزمونو په اړه لا هم دا روښانه نه ده چې هرې *برحاله* ادارې تر کومه بریده هغه داخلي پالیسي ګانې یا طرزالعملونه خپل کړي چې د طالبانو له بیا واکمنېدو مخکې نافذې وې، په دې کې د امنیتي منسوبینو د چلند او دندو د ترسره کولو اصول، د قوې د کارونې په اړه اجباري داخلي راپور ورکول، او د داخلي تحقیقاتو د ترسره کېدو او د هغو د پایلو اړوند طرزالعملونه شامل دي. دې ته په کتو سره چې پخوانی نا روزل شوي مجاهدین په *برحاله* امنیتي ادارو کې شامل شوي، د *برحاله* ادارو لوړپوړي چارواکي د دغو طرزالعملونو او لارښوونو د پلي کېدو په څارنه او تطابق کې له جدي ستونزو سره مخ دي، چې په دې کې د داخلي څارنې میکانیزمونه، د هغوي خپرول، او د پوهاوي او ظرفیت لوړونې هر اړخیز پروګرامونه پکې شامل دي.

۷۹. سره له دې چې ځینې ګامونه اخیستل شوي دي خو *برحاله* چارواکي باید د رهبرۍ او وزارتونو په کچه لا ډېر نور څه وکړي. د افغانستان د ملي پراختیا ستراتیژي چې د ۲۰۲۵ کال په اګست میاشت کې اعلان شوه، په کې دا منل شوې چې د «قانونیت او حساب ورکونې د کلتور نهادینه کولو لپاره» د لا ډېرو هڅو ته اړتیا شته. د نورو چارو تر څنګ، «په امنیتي او قضایي برخو کې د قوانینو او مقرراتو اصلاح او نوي کول، د سرغړونو د مخنیوي لپاره د اغېزمنو سزاګانو ټاکل...، د امنیتي او دفاعي ځواکونو لپاره د تعلیمي پروګرامونو تر سره کول، [او] په داخلي او نړیواله کچه د ګډو غونډو او ورکشاپونو جوړول...»، مهم اقدامات بلل شوي دي.[122]

---

[121] *برحاله* سترې محکمې متحدالمال شماره ۲۵، له بهرنیو ادارو (د رسنیو په ګډون) سره د قضا اړوند مالوماتو د شریکولو کړنلاره، ۸ د نومبر ۲۰۲۳، ۱۲ ماده:[ د افغانستان د قانون د حاکمیت اداره: «ستره محکمه-د مالوماتو د شریکولو کړنلاره» (دري)].

[122] افغانستان ملي پراختیایي ستراتیژي وګورئ، دریمه برخه- لومړیتوب لرونکي ملي پروګرامونه.

۸۰. لکه څنګه چې د دغه راپور په سپارښتنو کې یې یادونه شوې، د لومړیتوب په توګه باید *برحاله* امنیتي ادارې خپلې موجودې داخلي کړنلارې و ارزوي او هغه اړینې کړنلارې په ګوته کړي چې لا نه دي رامنځته شوې، څو اغېزمنه داخلي اداره او د قربانیانو پر وړاندې حساب‌ورکونه تأمین شي. په دې برخه کې باید د ښځو ارتیاوو ته هم ځانګړې پاملرنه وشي. همدارنګه، باید د شکایتونو میکانیزمونه د ټولو قربانیانو (ښځو او نارینه وو) لپاره د لاسرسي وړ وي. سربېره پر دې، د تحقیقاتو بهیر باید د جنسیت له پلوه حساس او مناسب وي، او په هغو مواردو کې چې اړین وي، قربانیانو ته د ګډون فرصت هم ورکړل شي.

۸۱. د افغان وګړو په وړاندې د شفافیت او حساب ورکونې د کلتور د تقویه کولو په موخه په ټولو *برحاله* ادارو کې د ډېر څه ترسره کولو ته اړتیا ده. شفافیت د دې غوښتنه کوي چې په دولتي او حکومتي ادارو کې، که *برحاله* او یا *موقتي* وي، د منسوبینو پرېکړې او کړنې د عامه څارنې او ارزونې لپاره پرانیستې وي. دولتونه مکلف دي چې د بشري حقونو او د بشرپالنې د نړیوال قانون د سرغړونو په اړه د مالوماتو په ګډون مشخص مالومات خپاره کړي، کوم چې د عامه علیا مصلحت په اړه دي او نه شي کېدای چې د ملي امنیت د ملاحظاتو په نوم پټ وساتل شي.

۸۲. که څه هم *برحاله* وایاند د وزارتونو د کارکردګۍ د کلنیو ارزونو پر مهال په مکرر ډول د شفافیت او حساب ورکونې اصولو ته د «امارت» کلک ژمنتوب په ډاګه کړی، خو د بشري حقونو د سرغړونو په تړاو د حساب ورکونې په اړه عام مالومات لا هم محدود دي. په ځانګړي ډول، هېڅ *برحاله* اداره د شکایتونو او ثبت شویو جرمونو د شمېر او ډولونو، د څېړل شویو قضیو، د داخلي څېړنو د پایلو او د هغو پر بنسټ د ترسره شویو اقداماتو، لکه عدلي تعقیب ته د قضیو د راجع کولو، په اړه تفکیک شوي مالومات نه خپروي. *برحاله* ستره محکمه «د دعوو هغه ارقام او ډولونه چې له هغو څخه د بدنامۍ یا فساد استنباط کېدای شي» د شریکولو مخه نیسي. په عام ډول، سره له دې چې د *برحاله* چارواکو د بشري حقونو د جدي سرغړونو په ګډون ناوړه چلند ته په رسیدګۍ کې ښايي ځینې اقدامات ترسره کړي وي، خو د افغانانو او باندنیو څارونکو لپاره د دغو اقداماتو، او دغه راز د *برحاله* سترې محکمې او *برحاله* نظامي محکمو د فعالیتونو پایلې نامالومه پاتې دي.

۸۳. دغه کار د *برحاله* ملکي کارمندانو په ګډون، د *برحاله* منسوبینو د جرمونو او سرغړونو په اړه پر راپور ورکولو د پټ ساتنې له حاکم چاپېریال څخه څرګندېږي، چې د راپورونو له مخې خبریالان او رسنۍ د سرغړونو په اړه له پوښتنې کولو او راپور کولو څخه ډېرې وخت منع شوي. سره د دې چې، د ۲۰۲۴ کال د سپټمبر پر ۲۸ نېټه، مالوماتو ته د لاسرسي د نړیوالې ورځې په مناسبت د اطلاعاتو او کلتور وزارت د نشراتو معین له *برحاله* ادارو ویاندویانو غوښتي تر څو په وخت او دقیق مالومات او احصایې [۱۲۳] له خلکو سره شریکې کړي، *برحاله* چارواکې زیاتره وخت د *برحاله* چارواکو سرغړونو په اړه راپور ورکول او اړوندو مالوماتو ته لاسرسی محدودوي.[۱۲۴]

۸۴. هره *برحاله* اداره باید دغه راز پر هغو *برحاله* کارکوونکو چې د څارنې او څېړنې چارې ترسره کوي په چارو کې د لاسوهنې او پر هغوی د دې فشار راوړل چې د سرغړونو په اړه راپور ورنه کړي، او دغه راز د شکایتونو په ترلاسه کولو او څېړلو کې د هغوی د کارمندانو پاتې راتلل، د *برحاله* محکمو په ګډون، د څېړلو او د عاملینو د مجازاتو کولو لپاره اقدامات ترسره کړي.

۸۵. په ټوله کې، داسې ښکاري چې ډېری *برحاله* چارواکي وظیفوي سرغړونې مني، په ځانګړي ډول کله چې موضوع د بشري حقونو له جدي سرغړونو سره تړاو ولري، او د هغو په اړه حساب ورکونه یوه داسې حساسه موضوع ګڼي، چې په احتمالي ډول آن ځینې وختونه د داخلي امنیت اندېښنې راپورته کوي. دغه نظر په ډېر احتمال ښايي د هغو خلکو په وړاندې چې دوي یې خدمت کوي، د دوي د ملاتړو، او نړیوالې ټولنې په وړاندې د *برحاله* چارواکو اعتبار لا پسې زیانمن کړي. د شفافیت او مالوماتو نشتون د هغو ګامونو د کمزورې کولو خطر رامنځ ته کوي چې تر دې دمه د حساب ورکونې د ښودلو په موخه پورته شوي.

۸۶. د *برحاله* سترې محکمې په ګډون، *برحاله* چارواکي هغه فرصتونه له لاسه ورکوي چې د افغانانو باور او هغوی ته حساب ورکونه رامنځ ته کوي. سربېره پر دې، ناوړه چلند او د بشري حقونو جدي سرغړونو ته د رسیدګۍ د هڅو په اړه د مالوماتو نشتون پر *برحاله* امنیتي منسوبینو د دغو ګډو هڅو مخه نیونکې اغیز کمزوری کوي. د شفافیت نشتوالی همدارنګه دا ستونزمنوي چې د *برحاله* ادارو له خوا د ترسره شویو اقداماتو اغیز، د *برحاله* امنیتي ځواکونو له خوا د اصلاح شوي چلند څرګندونې او د قانون واکمنۍ ته درناوی په خپلواک ډول و ارزول شي.

---

[۱۲۳] *برحاله* د اطلاعاتو او کلتور وزارت، ۲۹ سپتمبر ۲۰۲۴، د ماسپښین ۳:۲۲، https://x.com/moicafghanstan/status/١٨٤٠٣٤٣٩٦٤٢٠٢٧٥٤٠٦١?s=٤٦

[۱۲۴] د ۲۰۲۱ کال د اګست له میاشتې راهیسې د رسنیو د وضعیت او د *برحاله* چارواکو له خوا د وضع شویو محدودیتونو د عمومي کتنې لپاره، د یوناما راپور « په افغانستان کې د رسنیو ازادي» (نومبر ۲۰۲۴) وګورئ.

## ۵. سپارښتنې

۸۷. لکه څرنګه چې د امنیت شورا په ۲۷۲۱ (۲۰۲۳) پرېکړه لیک کې تایید شوي، په نړیواله ټولنه کې د هیواد د بیا مدغم کېدو په لور د سیاسي لارې د یوې برخې په توګه د نړیوالو مکلفیتونو د رعایتولو د ښه کولو په موخه د مهمو پام وړ ګامونو اخیستل، چې په هغې کې د نورو ترڅنګ راتلونکي موارد شاملیدای شي: د دې ډاډمنول چې د اساسي حقونو تضمینونه په قانون کې ځای پر ځای شوي او دا چې د دغو حقونو د تنفیذ په پار منظم او قانوني طرز العملونه موجود دي. د دې ډاډمنول چې په ټولو وزارتونو کې داسې نهادونه او میکانیزمونه موجود دي چې له حقونو څخه د موجوده سرغړونو د تحقیقاتو لپاره زمینه برابروي او دا چې هغه د حساب ورکونې له مناسبو اقداماتو سره تړلي، او اړینه ده چې د خسارې د جبران د داسې وسیلو په واسطه ترسره شي چې د ټولو افغانانو لپاره د لاسرسي وړ وي.[۱۲۵]

۸۸. افغانستان مکلف دی چې د خپلو نړیوالو مکلفیتونو د عملي کولو لپاره قانوني، اداري، او نور مناسب ګامونه پورته کړي،[۱۲۶] کوم کې چې د دې ډاډمنول شامل دي چې هر هغه څوک چې بشري حقونه یې تر پښو لاندې شوي مناسب جبران ترلاسه کوي، د دې په شمول که چیرې سرغړونې د داسې خلکو له خوا ترسره شوې وي چې په رسمي چوکاټ کې کار کوي.[۱۲۷] په دې کې لاندې مکلفیتونه شامل دي:

- د بشري حقونو د سرغړونو او تیریو د ادعاوو په اړه د خپلواکو، بې‌طرفه، پر وخت، هر اړخیزو، مؤثرو، د باور وړ او شفافو تحقیقاتو ترسره کول چې د بشري حقونو له نړیوالو نورمونو سره سمون ولري؛
- چیرې چې مناسبه وي، د مسؤولو کسانو محاکمه او مجازات کول؛ او
- د بشري حقونو د سرغړونو قربانیانو ته د حیثیت د اعادې، د جبران خساره او عادلانه قناعت په ګډون د جبران برابرول.

افغانستان باید د عامه مصلحت لپاره مالومات په فعال ډول او په داسې بڼه خپاره کړي، چې دوامدر او د لاسرسي وړ وي.[۱۲۸]

۸۹. د حساب ورکونې ډاډمنول یوې جامع تګلارې ته اړتیا لري چې له داخلي او باندنیو میکانیزمونو تشکیل وي کومه چې د قانون پلي کوونکو ادارو او چارواکو څارنه ډاډمنوي او دا یقیني کوي چې هغوي خپلې دندې د قانون، او مسلکیتوب او ربښتینولۍ له لوړو معیارونو سره په تطابق کې ترسره کوي. د دې د ډاډمنولو لپاره چې حساب ورکونه مؤثره ده، د *برحاله* امنیتي ادارو مشرتابه د قانون د تنفیذ عملیاتو له ترسره کولو مخکې، پر مهال او تر هغې وروسته تدابیر جوړ کړي.

دغه تدابیر په لاندې برخو کې رامنځ ته کېږي:

- ***پالیسي ګانې*** چې د قوې کارونې په ګډون د پولیسو دندې او ورسپارل شوې چارې تنظیموي؛ په کومو کې چې د سرغړونو په اړه اجباري راپور ورکول، د طرز العملونو په مراعاتولو یا د هغوي په راپور کولو کې د پاتې راتلو څارندوي مسؤولیت؛ او هغه چارې شاملې دي چې د تعقیبي تحقیقاتو ترسره کولو، او پرېکړه کولو په پار د شکایتونو او سرغړونو، نظم، او پایلو په اړه د ډیټا راغونډول تنظیموي؛
- د ټولو کچو آفسرانو ***روزنه*** څو ډاډمن شي چې ټول پرسونل د پالیسیو پر احکامو پوهیږي او هغه مراعاتوي.
- د قوماندې د لومړۍ کرښې د څارنې او د قوې کارونې د پېښو په ګډون د ټول ناوړه چلند د راپور ورکولو د سیستم د رامنځ ته کولو له لارې له مسلکي معیارونو سره د تطابق ***څارنه***؛
- په جوړو شوو پالیسیو کې ***تحقیقات او مجازات*** باید ډاډمن کړي چې د بشري حقونو په ادعا شویو سرغړونو کې دخیلو آفسرانو په وړاندې چټک او مؤثر اقدام ترسره کېږي؛ او په احتمالي ډول له داخلي تحقیقاتو وروسته د جزایي تعقیب لپاره محکمو ته تر راجع کېږي؛
- د تحقیقاتو د پایلو، ترسره شویو اقداماتو، او محکمو ته د راجع کیدلو په ګډون د نظم او ډسپلین موضوعاتو په اړه د منظمو راپورونو د خپرولو له لارې ***د مالوماتو ښکاره کول***، په داسې خلاصه ډول چې خلکو ته د لاسرسي وړ وي.

---

[۱۲۵] ملګری ملتونه، د امنیت شورا د ۲۶۷۹ (۲۰۲۳) پرېکړه لیک پر بنسټ د ترسره شوې خپلواکې ارزونې راپور، ۹ نومبر ۲۰۲۳، S/۲۰۲۳/۸۵٦، ۸۴-۸۳ پاراګرافونه

[۱۲۶] د بشری حقونو کمیټه، ۳۱ (۲۰۰۴) عمومي تبصره د مدني او سیاسي حقونو د نړیوال میثاق له مخې د دولتونو عمومي مکلفیتونه، CCPR/C/۲۱/Rev.۱/Add.۱۳، ۷ پاراګراف.

[۱۲۷] وګوری، په ځانګړي ډول، د مدني او سیاسي حقونو نړیوال میثاق، ۲ (۳) ماده.

[۱۲۸] A/HRC/ /۴۹/۳۸، ۲۴ او ۵۵ (د) پاراګرافونه.

۹۰. که څه هم د افغانستان *برحاله* چارواکو د پورته یادو شویو نکتو په برخه کې پرمختګ کړی، خو لا هم ډېر کار ته اړتیا شته. څرنګه چې د امنیتي سکتور د اصلاح په تړاو د «یوه لومړیتوب لرونکي پروګرام» په اړه په ملي پراختیایي ستراتیژۍ کې صراحت شوي، *برحاله* چارواکي پر دې اړتیا اعتراف کوي چې «په هغو برخو کې پراخه پانګوونه او د پام وړ هڅې ترسره شي لکه ... د نظامي پرسونل روزنه ... او د قانونیت او حساب ورکونې د کلتور نهادینه کول»؛ او د نورو شیانو ترڅنګ، «د نظامي قوانینو او مقرراتو اصلاح کولو او نوي کولو، د مؤثرو او مخه نیوونکو سزاګانو ټاکلو، او د امنیتي او دفاعي ځواکونو لپاره د روزنې او ښوونیزو پروګرامونو ترسره کولو» ته ژمن دي.

۹۱. د پورته مواردو په پام کې نیولو سره، یوناما له *برحاله* چارواکو په کلکه غوښتنه کوي چې لاندې سپارښتنې زر تر زره په پام کې ونیسي:

## الف. د *برحاله* امنیتي ادارو لپاره – د *برحاله* کورنیو چارو وزارت، د استخباراتو لوی ریاست، او د زندانونو د چارو د سمون د ادارې په ګډون

- لکه څرنګه چې لاندې په ډاګه شوي، داخلي بیاکتنه ترسره کړئ څو دا و ارزوئ چې آیا هغه حکمونه او طرز العملونه چې د *برحاله* چارواکو غړو د خپلو کړنو یا غفلتونو په مسؤول ګڼلو کې مرسته کوي لا وار د مخه موجود دي او د نړیوالو بشري حقونو او معیارونو سره په تطابق کې دي.[129] چیرې چې اړتیا وي موجوده طرز العملونه یا لارښوونې تعدیل کړئ؛
- چیرې چې طرز العملونه موجود نه وي، د چټک تطبیق په پار د هغوی طرح، تصویب او ویش ډاډمن کړئ.
- د نړیوالو بشري حقونو د معیارونو سره د تطابق په پار، د موجوده طرز العملونو په بیا کتنه او د نویو متنونو په طرح کې له یوناما سره تعامل وکړئ.

په ځانګړي ډول، *برحاله* امنیتي ادارې باید:

۱. د ۲۰۰۹ کال د پولیسو قانون له څنډولو راهیسې، د امنیتي ادارو لپاره د قوې کارونې د اداره کولو په اړه د اوسني پلي کېدونکي قانوني متن وضاحت ورکړي؛ او ډاډمن کړي چې د قوې کارونې اوسني پلي کېدونکي قانوني متن د بشري حقونو له نړیوال قانون او معیارونو سره په سمون کې دی؛

۲. د چلند داسې اصول جوړ او صادر کړي چې: د هر وزارت د کارکوونکو لپاره متوقعه مسلکي معیارونه، دندې او مکلفیتونه رانغاړي، او د هغو کړنو ډولونه مشخصوي چې تادیبي سرغړونه بلل کېږي؛ ټول *برحاله* پرسونل له خوا د هغوی د سلسلې مراتبو له لارې د سرغړونو د اجباري راپور ورکولو مسؤولیت په کې شامل وي؛ یا په هغو مواردو کې چې نورې حل لارې شتون ونه لري یا اغېزمنې نه وي د سلسلې مراتبو څخه بهر د راپور ورکولو بدیلو لارو کارول؛ او د قانون تطبیقولو د ورځنیو عملیاتو د څېړنې په موخه د نظارت مسؤولیت لرونکو د ټولو *برحاله* لوړپوړو چارواکو د قوماندې مسؤلیت په کې شامل وي، دا ډاډمنوي چې د هغوی تر قوماندې لاندې د *برحاله* افسرانو او پرسونل ټولې پېښې د څېړنې په پار راپور شوي، او *برحاله* افسران او پرسونل د هر ډول ناسم چلند په اړه حساب ورکولو ته اړ شوي؛

۳. ډاډمن کړي چې د راتلونکو ساحو په اړه داسې هدایات، لارښوونې یا طرزالعملونه موجود دي کوم چې نړیوال بشري حقونه او معیارونه رانغاړي:[130]

الف. د هرې ادارې کلیدي عملیاتي دندې په ګډون خو دې ته محدود نه دي: د نیونو، توقیف، درول او تلاشیو ترسره کول، د بندي خانو پلټل، د قوې کارول (کوم چې دا روښانه کوي چې څنګه او کله د قوې د مختلفو

[129] د لا زیاتو مالوماتو لپاره وګورئ: د نشه یي توکو او جرمونو سره مبارزې لپاره د ملګرو ملتونو دفتر د پولیسو د حساب ورکونې، څارنې او روڼتیا لارښود (انګلیسي)، ۲۰۱۱، اتم فصل – د اغېزمنې حساب ورکونې او روڼتیا د پیاوړتیا لپاره کړنلار؛ او د ملګرو ملتونو د بشري حقونو عالي کمېشنر دفتر، د قانون پلي کوونکو چارواکو لپاره د بشري حقونو لارښود، ۲۰۲۵.

[130] د لا زیاتو مالوماتو لپاره وګورئ: د ملګرو ملتونو د بشري حقونو عالي کمېشنري، د قانون پلي کوونکو چارواکو لپاره د بشري حقونو لارښود، ۲۰۲۵ – ۱۹ فصل : د قوماندې او کنټرول، مدیریت او سازمان په برخه کې د قانون پلي کول او بشري حقونه، مخ ۱۳، (الف) په عامه پالیسیو او داخلي کړنلارو کې د بشري حقونو د مسؤلیتونو پلي کول؛ ۲۱ فصل :د بشري حقونو د سرغړونو په اړه د قانون پلي کوونکو ادارو حساب ورکونه، مخونه ۲۴–۲۷.

ډولونو کارول مجاز دي)، د عامه غونډو څارل، په بندي خانو کې د پېښو مدیریت، او ټول هغه موارد چې د قوې کارونه، درول او تلاشي، او نیونه په کې شامل وي او اجباري راپور ورکولو ته اړتیا لري؛

ب. د خلکو د شکایتونو ترلاسه کول، په داسې ډول چې ډاډمن کړي چې د شکایتونو میکانېزمونه د ټولو خلکو لپاره، که په حضوري توګه وي او که له لرې واټنه، د جنسیت له توپیر پرته، د لاسرسي وړ وي؛

پ. د شکایتونو داخلي حل کول او د داخلي تحقیقاتو ترسره کول، چې:

- د شکایتونو د حل کولو او تحقیقاتو د پیلولو لپاره د راپور ورکولو کرښې او مسؤولیتونه مالوموي؛
- د داخلي شکایتونو د میکانېزمونو او د هغو افسرانو هویت پټ ساتل ډاډمنوي چې د خپلو همکارانو په اړه راپور ورکوي؛
- د وسلو یا لږو مرګونو وسلو د کارونې په شمول، د قوې د ناقونې یا خپلسرې کارونې (که ناقانونه، نا اړینه یا نامتناسبه وي) د تورونو او د ټولو هغو قضیو په ګډون کله چې د قوې کارونه د مړینې یا جدي ټپونو لامل شوې وي، له ژوند څخه د محرومیت د ټولو بالقوه ناقانونې پېښو خپلواکو داخلي او باندنیو کتنو ته زمینه برابروي؛
- د شکمنو کسانو، قربانیانو او شاهدانو د مرکه کولو پروسیجرونه مشخصوي او د اړتیا په صورت کې جنسیت اړوند ملاحظات په سمه توګه په پام کې نیسي؛
- له احتمالي پایلو او د پرېکړې کولو له پروسو سره داخلي انضباطي طرز العملونه مالوموي، لکه داخلي اداري څېړنې، خپلواکو څېړنیزو ادارو ته د قضیو راجع کول؛ د ناسم چلند د بېلابېلو کټګوریو لپاره د تطبیق وړ اداري یا تادیبي تدابیرو ډولونه او موده؛ د دغو تدابیرو د وضع کولو صلاحیت لرونکې مرجع؛ او د اړتیا په صورت کې د قضیو د جزایي تعقیب لپاره د راجع کولو مکلفیت؛
- له دوارو، خپلواک او داخلي تحقیقاتي میکانیزمونو سره د ټولو چارواکو له خوا د بشپړې افشا او همکارۍ مکلفیت، او په تحقیقاتو کې د لاسوهنې یا نه همکارۍ لپاره تادیبي اقدامات برابروي؛
- د شاهدانو، قربانیانو او افشا کونکو د ساتنې لپاره میکانیزمونه برابروي؛

ت. د داخلي راپور ورکولو مؤثرو سیستمونو لپاره، لکه د قانون د انفاذ له منظمو فعالیتونو څخه د تصنیف/تفکیک شویو مالوماتو راغونډول او راپور لیکل؛

۴. ډاډمن کړئ چې د داخلي حکمونو او مقرراتو په ګډون ټولې حقوقي لارښوونې په پراخه کچه خپرې شوې، *برحاله* ټول پرسونل ته د سلسله مراتبو له لارې رسېدلي او مهالنیو روزنو کې تاکید پرې شوی؛

۵. د مالوماتو راغونډولو مؤثر سیستمونه رامنځته کړئ چې د ترلاسه شویو شکایتونو او قوې کارونې، د هغې په ګډون چې قوه کله او د چا په ضد کارول شوې؛ د تحقیقاتو د موندنو، او د احتساب د ترسره شویو تدابیرو په اړه له احصایو سره له مهالنیو عامه راپور ورکولو سره مرسته کوي، په داسې شکل چې عامو خلکو او ټول *برحاله* امنیتي پرسونل لپاره په آسانۍ سره د لاسرسي وړ وي؛[131]

## ب. نورو *برحاله* وزارتونو، *برحاله* ریاستونو، *برحاله* کمیسیونونو او *برحاله* سترې محکمې ته

۱. د شکایتونو میکانیزمونه جوړ کړئ او د موجوده هغو په اړه په پراخه کچه مالومات خپاره کړئ، د دې په ډاډمنولو سره چې دغه میکانیزمونه د شکایتونو په اړه د راپور ورکولو په موخه که په حضوري یا آنلاین ډول وي، د ټولو خلکو لپاره پرته له دې چې جنسیت یې په پام کې ونیول شي د لاسرسي وړ دي. د شکایتونو د ثبت لپاره شمېرې ته د زنګ کولو، آنلاین یا د شکایت د راپور کولو نورو وسیلو په ګډون چې مستقیم رابط شخص یې مالوم وي، مختلف چینلونه برابر کړئ؛

---

[131] وګورئ: د نشه يي توکو او جرمونو سره مبارزې لپاره د ملګرو ملتونو دفتر « د پولیسو له خوا د احصائیوي مالوماتو د اداره کولو لارښوونې»، ۲۰۲۲؛ او « د زندانونو د سیستم له خوا د احصایوي مالوماتو د اداره کولو لارښوونې»، ۲۰۲۴.

۲. د سرغړونو د څارنې او راپور کولو په سپارل شویو چارو کې د لاسوهنې، یا د شکایتونو په ترلاسه کولو کې د سپارل شویو دندو په ترسره کولو کې د پاتې راتلو د تورونو په اړه د شکایتونو د داخلي رسیدګۍ او داخلي تحقیقاتو لپاره داسې طرز العملونه جوړ کړئ، کوم چې د شکایتونو د داخلي میکانیزمونو بشپړ محرمیت ډاډمنوي او د هغو کارکوونکو هویت پټ ساتي چې د خپلو همکارانو په اړه راپور ورکوي؛

۳. د مالوماتو راغونډولو داسې مؤثر سیستمونه جوړ کړئ چې د اړوند پرسونل د رسیدګۍ شویو شکایتونو او تادیبي موضوعاتو، د جرمونو د ډولونو؛ د تحقیقاتو د پایلو، او په تعقیب یې د احتساب د ترسره شویو تدابیرو په اړه د عامه راپورونو او احصایو په مهالني خپرونه کې مرسته کوي، چې عامو خلکو لپاره په آسانۍ سره د لاسرسي وړ وي؛[۱۳۲]

۴. هغو شفافو پروسو ته وده ورکړئ په کومو کې چې رواني اړیکې، خپروني او خلکو ته د مالوماتو منظم خپرول شامل وي، لکه له قربانیانو، د هغوي له کورنیو او خلکو سره د باور جوړوني په موخه د جزايي اجرااتو په ګډون د جدي ناوړه کړنو، تحقیقاتو او پایلو په اړه د رسنیو مالومات؛

۵. رسنۍ او مدني فضا وساتئ، د څورونې، خپلسري توقیف، او د هغو رسنیو، ژورنالستانو، د بشري حقونو مدافعینو او قومي مشرانو پر ضد چې د سرغړونو د مالوماتو راپور ورکوي، غچ اخیستنه منع کړئ.

## ب. نړیوالې ټولنې ته

۱. د ټولو *برحاله* چارواکو، او په ځانګړي ډول *برحاله* امنیتي ادارو له خوا د بشري حقونو د سرغړونو لپاره حساب ورکونې او د هغوي په اړه شفافیت ته وده ورکول جاري وساتئ؛

۲. د تعامل د اوسنیو محدودیتونو په دننه کې، د اړتیا په صورت کې او چیرې چې یې غوښتنه شوې وي، د تخنیکي مرستې تسهیلول په پام کې ونیسئ، څو د *برحاله* چارواکو د بشري حقونو د نړیوال قانون رعایت ته وده ورکړل شي.

۱۳۲ وګورئ: د ملګرو ملتونو له نشه یي توکو او جرمونو سره مبارزې دفتر(UNODC)، «په جزايي عدلي سیستم کې د احصایوي مالوماتو د مدیریت لارښوونې»، ۲۰۲۴؛ او «د څارنوالی ادارې او محکمو له خوا د احصایوي مالوماتو د تنظیمولو لارښوونې»، ۲۰۲۳.

## ضمیمه - د نړیوال قانون له مخې د تطبیق وړ مکلفیتونه

۱. افغانستان اوس هم نړیوال قانون ته چې په کې اووه اساسي نړیوال تړونونه شامل دي او افغان دولت یې غړی دی، په رعایتولو مکلف دی.[۱۳۳] دغه تړونونه پر غړو دولتونو مکلفیتونه وضع کوي لکه د نورو هغو په ګډون د بشري حقونو درناوی، ساتنه او مراعاتول، د افرادو د ژوند، آزادي او امنیت حقونو او د شکنجې او نورو ظالمانه، نا انساني یا له سپکاوي ډک چلند یا سزا د ممنوعیت په شمول.[۱۳٤] غړي دولتونه باید د دغو مکلفیتونو د ترسره کولو په پار قانوني، اداري او نور مناسب اقدامات تطبیق کړي.[۱۳٥] په دې کې د دې ډاډمنول شامل دي چې د هر شخص چې بشري حقونه یې نقض شوي وي، د هغو مواردو په ګډون چیرې چې دغه سرغړونې د هغو افرادو له خوا ترسره شوې چې په رسمي چوکاټ کې کار کوي، د خسارې له مؤثر جبران څخه برخمن کیدای شي.[۱۳٦] *برحاله* اداري په دغو اسنادو کې د یادو شوو حقونو په ساتلو او هغوی ته په وده ورکولو مکلف دي، کوم چې په لاندې ډول تشریح شوي.

### الف. د ژوند، آزادۍ او امنیت حقونه، او د ناوړه چلند یا شکنجې ممنوعیت

۲. د قانون تطبیق کوونکي پرسونل او د هغوي اړوند عملیات د خپل ذاتي ماهیت او هغو صلاحیتونو له مخې چې د خپلو دندو د ترسره کولو لپاره ورکړل شوي دي، د قوې او وسلو د کارولو په ګډون، په ډیرى مواردو کې کولی شي د اشخاصو د ژوند، آزادۍ او امنیت حقونه او دغه راز د ناوړه چلند یا شکنجې ممنوعیت متاثر کړي.

۳. د مدني او سیاسي حقونو د نړیوال میثاق ۶ (۱) ماده د هر شخص لپاره د ژوند ذاتي حق تضمینوي، او له ژوند څخه په خپلسري ډول د محرومیت په وړاندې ساتنه کوي،[۱۳۷] په داسې حال کې چې د شخصي امنیت حق، افراد د قصدي فزیکي یا رواني زیان څخه خوندي کوي.[۱۳۸] د ژوند حق یو نه سلب کیدونکی حق دی، یعنې دغه حق حتی د هغو عامه بیړنیو حالاتو پر مهال هم نه شي ځنډول کېدای چې د ملت ژوند له ګواښ سره مخ کوي.[۱۳۹] له ژوند څخه محرومیت هغه مهال خپلسري ګڼل کېږي چې له نړیوال قانون یا ملي قانون سره په ټکر کې وي،[۱٤۰] او د اړتیا او تناسب شرطونه پوره نه کړي.[۱٤۱] د مرګونې قوې کارول یو استثنایي اقدام دی او یوازې هغه مهال لاس پرې پورې کیدای شي چې د ژوند د ساتنې یا د قریب الوقوع خطر له امله د جدي ټپي کېدو د مخنیوي لپاره په کلکه اړین وي.[۱٤۲]

---

[۱۳۳] د بشري حقونو نړیواله اعلامیه، *د مدني او سیاسي حقونو نړیوال میثاق* (الحاق: ۲۴ جنوري ۱۹۸۳)، *د شکنجې او نورو ظالمانه، نا انساني یا له سپکاوي ډک چلند یا سزاوو د منع کنوانسیون* (تصویب: ۱ اپرېل ۱۹۸۷)، *د دې کنوانسیون اختیاري پروتوکول* (الحاق: ۱۷ اپرېل ۲۰۱۸)، *د ښځو پر وړاندې د تبعیض د ټولو شکلونو د له منځه وړلو کنوانسیون* (تصویب: ۵ مارچ ۲۰۰۳)، *د نژادي تبعیض د ټولو ډولونو د له منځه وړلو نړیوال کنوانسیون* (الحاق: ۶ جولای ۱۹۸۳)، *د اقتصادي، ټولنیزو او کلتوري حقونو نړیوال میثاق* (الحاق: ۲۴ جنوري ۱۹۸۳)، *د ماشوم د حقونو کنوانسیون* (تصویب: ۲۸ مارچ ۱۹۹۴)، *د ماشوم د حقونو کنوانسیون اختیاري پروتوکول د وسله‌والو شخړو کې د ماشومانو د ګډون په اړه* (الحاق: ۲۴ سپتمبر ۲۰۰۳)، *د ماشوم د حقونو کنوانسیون اختیاري پروتوکول د ماشومانو د پلور، د ماشومانو د فحشا او د ماشومانو د جنسي ناوړه استفادې په اړه* (الحاق: ۱۹ سپتمبر ۲۰۰۲)، *د معلولیت لرونکو اشخاصو د حقونو کنوانسیون* (الحاق: ۱۸ سپتمبر ۲۰۱۲). همدارنګه د امنیت شورا پرېکړه لیک ۲۶۲۶ (۲۰۲۲)، فقرة ۶(e)، چې د افغانستان د بشري حقونو او اساسي آزادیو اړوند هغو نړیوالو اسنادو د پلي کولو ته اشاره کوي چې افغانستان یې غړی دی او لا هم پرې مکلف دی.

[۱۳٤] وګورئ: د مدني او سیاسي حقونو نړیوال میثاق، ۶، ۷ او ۹ مادې؛ د شکنجې د منع کنوانسیون، ۱ او ۲(۲) مادې. همدارنګه د قانون پلي کوونکو چارواکو لپاره د چلند اصول، ۱۹۷۹، د ملګرو ملتونو د عمومي اسامبلې پرېکړه لیک A/Res/۳٤/۱٦۹، ۲ ماده. همدارنګه د قانون پلي کوونکو چارواکو له خوا د زور او وسلو د کارولو بنسټیز اصول، ۱۹۹۰، مقدمه؛ د بشري حقونو کمېټه، ۳۵ عمومي تبصره (۲۰۱۴) – د شخص ازادي او امنیت (ماده ۹)، ۱۶ دسمبر ۲۰۱۴، CCPR/C/GC/۳٥، ۹ پاراګراف.

[۱۳٥] د بشري حقونو کمېټه، ۳۱ (۲۰۰۴) عمومي تبصره – د مدني او سیاسي حقونو نړیوال میثاق د غړو دولتونو په اړه د عمومي حقوقي مکلفیت ماهیت، CCPR/C/۲۱/Rev.۱/Add.۱۳، ۷ پاراګراف.

[۱۳٦] وګورئ، په ځانګړي ډول: د مدني او سیاسي حقونو نړیوال میثاق ،۲ (۳) ماده.

[۱۳۷] د مدني او سیاسي حقونو نړیوال میثاق، ۶(۱) ماده. همدارنګه د ماشوم د حقونو کنوانسیون، ۶ماده ؛ د معلولیت لرونکو اشخاصو د حقونو کنوانسیون ۱۰ماده ؛ او د بشري حقونو نړیواله اعلامیه، ۳ماده.

[۱۳۸] د بشري حقونو کمېټه، ۳۵عمومي تبصره، CCPR/C/GC/۳٥، ۹ پاراګراف.

[۱۳۹] د مدني او سیاسي حقونو نړیوال میثاق، ماده ۴. همدارنګه د قانون پلي کوونکو چارواکو له خوا د زور او وسلو د کارولو بنسټیز اصول، اصل ۸؛ د ملګرو ملتونو د عمومي اسامبلې پرېکړه لیک.A/RES/٦٥/۲۰۸

[۱٤۰] د بشري حقونو کمېټه، ۳۶ (۲۰۱۸) عمومي تبصره، د ژوند د حق په اړه د مدني او سیاسي حقونو د نړیوال میثاق ۶ ماده، CCPR/C/GC/۳٦، ۱۲ پاراګراف.

[۱٤۱] همدا ماخذ.

[۱٤۲] د بشري حقونو کمېټه، ۳۶عمومي تبصره، CCPR/C/GC/۳٦، ۱۲ پاراګراف؛ د قانون پلي کوونکو چارواکو د چلند اصول، ۳ ماده؛ د قانون پلي کوونکو چارواکو له خوا د زور او وسلو د کارولو بنسټیز اصول، ۹ اصل. همدارنګه وګورئ: د محاکمې پرته، لنډمهاله یا خپلسري اعدامونو په اړه د ځانګړي راپور ورکوونکي راپور، فیلیپ السټون، A/HRC/١٤/٢٤، ۳۴–۳۵ پاراګرافونه.

۴.	سرېبره پر دې، د مدني او سیاسي حقونو نړیوال میثاق د هر شخص د آزادۍ او شخصي امنیت خوندي کوي.[۱۴۳] د شخص د آزادۍ حق د آزادۍ له ناقانونه یا خپلسري محرومیت څخه خوندیتوب تضمینوني.[۱۴٤] د شخصي امنیت حق د عمدي ژوبلې په وړاندې فزیکي یا رواني خوندیتوب ساتي، که قرباني توقیف کې وي یا نه.[۱٤٥]

۵.	له شکنجې او نورو ناانساني یا له سپکاوي ډک چلند یا سزا څخه د ډډې کولو مکلفیت[١٤٦] قطعي او نه سلبیدونکی دی، په دې مانا چې د شکنجې په کارونه لاس پورې کول یا د هغې د ممنوعیت په مراعاتولو کې پاتې راتلل په هیڅ وجه نه شي توجیه کیدای، آن په بیړنیو حالاتو کې هم.[۱٤٧] دولتونه باید ټول اړین او مناسب ګامونه پورته کړي ترڅو هغه کسان چې د دوي تر صلاحیت لاندې دي د شکنجې او ناوړه چلند له اعمالو څخه خوندي کړي، که دغه اعمال د هغو اشخاصو له خوا ترسره کېږي چې په رسمي دنده کې عمل کوي، له خپلې رسمي دندې بهر عمل کوي، یا په شخصي توګه عمل کوي،[۱٤٨] د دغو اعمالو د جرم ګڼلو په ګډون.[۱٤٩]

۶.	د قوې غیرموجه یا له حده زیاته کارونه لکه وهل ټکول، سپکاوی، او د یوه شکمن کس د نیولو یا توقیف پر مهال د قوې له حده زیات کارول، په ګډون د تحقیقاتو په بهیر کې، کېدای شي شکنجه یا ناانساني او سپکوونکی چلند یا سزا تشکیل کړي.[۱٥٠] غړي دولتونه باید ډاډمن کړي چې د وسلو، د شکنجې او نورو نا انساني یا له سپکاوي ډک چلند یا سزاګانو په ګډون د قوې د خپلسرې یا ناقانونه کارونه د قانون له مخې د جنايي جرمونو په توګه د مجازاتو وړ وګرځول شي، او د دغو کړنو په ضد باصلاحیته محکمو کې د عدلي تعقیب او د قضايي رسیدګۍ لپاره زمینه برابره وي.[۱٥۱]

۷.	د دغو حقونو له مخې د خپلو مکلفیتونو د رعایتولو په پار، دولتونه باید یو لړ تدابیر ونیسي لکه د قانون پلي کوونکو چارواکو له خوا د مرګونې قوې د کارونې د تنظیم لپاره د مناسبو قوانینو د شتون ډاډمنول؛ طرز العملونه طرح شوي څو ډاډمن کړي چې د قانون پلي کولو اعمال په مؤثر ډول پلان او په داسې ډول تطبیق شوي چې د انسان ژوند ته د خطر امکان تر ټولو ټیټې کچې ته راکموي؛ او د مرګونو پېښو او نورو ژوند ګواښوونکو پېښو په اړه اجباري راپور ورکول، بیاکتنه او تحقیقات.[۱٥۲] د قانون د تطبیق ټول عملیات باید د قانون پلي کوونکو چارواکو لپاره د چلند اصولو د قانون پلي کوونکو چارواکو له خوا د قوې او مرګونو وسلو د کارونې بنسټیزو اصولو په ګډون له اړوندو نړیوالو معیارونو سره په تطابق کې وي، او د قانون پلي کوونکي چارواکي باید د دغو معیارونو د ترسیخ په پار مناسبه روزنه ترلاسه کړي.[۱٥۳] د توقیفونو او تحقیقاتو په اړه، دولتونه باید د خپلو تحقیقاتو قواعد، لارښوونې، طریقې او کړنلارې، او همدارنګه د هغو کسانو د ساتنې او چلند ترتیبات چې د دوي تر صلاحیت لاندې سیمه کې د نیولو، توقیف یا بند هر ډول حالت سره مخ کوي، په منظم او دوامداره توګه وڅېړي، څو د شکنجې او ناوړه چلند مخه ونیسي.[١٥٤]

---

[۱٤۳] د مدني او سیاسي حقونو نړیوال میثاق، ۹ماده ؛ د ماشوم د حقونو کنوانسیون، ۳۷(ب) ماده؛ د شکنجې د منع کنوانسیون، ۱۱ماده ؛ د معلولیت لرونکو اشخاصو د حقونو کنوانسیون، ۱۴ماده ؛ د جبري ورکېدنې د مخنیوي کنوانسیون، ۱۷ماده ؛ د بشري حقونو نړیواله اعلامیه، ۳ او ۹ مادې. د شخص د ازادۍ حق مطلق نه دی، او په ځینو مواردو کې د ازادۍ سلبول د جزايي قوانینو د پلي کولو په موخه توجیه کېدای شي.

[۱٤٤] د مدني او سیاسي حقونو نړیوال میثاق، ماده ۹. همدارنګه وګورئ: د بشري حقونو کمېټه، ۳۵عمومي تبصره، .CCPR/C/GC/۳۵

[۱٤٥] د بشري حقونو کمېټه، عمومي تبصره نمبر ۳۵، CCPR/C/GC/۳۵، ۹ پاراګراف.

[١٤٦] د شکنجې د منع کنوانسیون، د مدني او سیاسي حقونو نړیوال میثاق، د ماشوم د حقونو کنوانسیون، او د نړیوال جزايي محکمې د روم اساسنامه. همدارنګه د قانون پلي کوونکو چارواکو د چلند اصول، ماده ۵؛ او د شکنجې او نورو ظالمانه، غیر انساني یا سپکوونکي چلند یا سزاوو په اړه د ملګرو ملتونو د عمومي اسامبلې پرېکړه لیک، ۱۵ دسمبر ۲۰۲۲، A/RES/۷۷/۲۰۹.

[۱٤٧] د شکنجې د منع کنوانسیون، ماده ۲(۲)؛ د مدني او سیاسي حقونو نړیوال میثاق، ۴(۲) ماده؛ او د قانون پلي کوونکو چارواکو د چلند اصول، ماده ۵. د لوړپوړي افسر یا عامه مقام امر د داسې کړنو د توجیه په توګه نه شي وړاندې کېدای، ۲(۳) ماده.

[۱٤٨] د بشري حقونو کمېټه، ۲۰ عمومي تبصره (د مدني او سیاسي حقونو نړیوال میثاق ۷ماده) (۱۹۹۰)، ۲ پاراګراف.

[۱٤٩] د شکنجې د منع کنوانسیون، ۴ ماده.

[۱٥٠] د شکنجې او نورو ظالمانه، غیر انساني یا سپکوونکي چلند یا سزاوو په اړه د ځانګړي راپور ورکوونکي راپور، نیلس میلزر، د توقیف نه بهر د زور کارول او د شکنجې او نورو ظالمانه، غیر انساني یا سپکوونکي چلند یا سزاوو منع، ۲۱ جولای ۲۰۱۷، A/۷۲/۱۷۸.

[۱٥۱] وګورئ: د ژوند اخیسلتو په اړه، د بشري حقونو کمېټه، ۳۶عمومي تبصره ، CCPR/C/GC/۳٦، ۱۹–۲۰ پاراګرافونه، او د غیرقانوني، خپلسري او لنډمهاله اعدامونو د مخنیوي او اغېزمنې څېړنې اصول، ۱ پاراګراف؛ د شکنجې د منع کنوانسیون، ۴ ماده.

[۱٥۲] د بشري حقونو کمېټه، ۳۶عمومي تبصره، CCPR/C/GC/۳٦، ۱۳ پاراګراف.

[۱٥۳] همدا ماخذ.

[۱٥٤] د شکنجې د منع کنوانسیون، ۱۱ماده.

### ب. د مؤثرو تحقیقاتو د ترسره کولو مکلفیت

۸. غیرې دولتونه د بشري حقونو د مشخصو سرغړونو او تیریو په اړه د خپلواکو، بې طرفه، چټکو، بشپړو، موثرو، باوري او شفافو تحقیقاتو د ترسره کولو مکلفیتونه لري.[۱۵۵] د دې ډاډمنولو لپاره چې تحقیقات د بشري حقونو له نړیوال قانون سره په تطابق کې دي، د تحقیقاتو پروسې باید د هغو غوره کړنو په ګډون چې د مینیسوتا او استانبول په پروتوکولو کې وضع شوي، د نورو هغو درناوي وکړي چې د بشري حقونو د ادارو له خوا په ګوته شوي. په دې کې راتلونکي هغه شامل دي:[۱۵٦]

- له تبعیض پرته د ټولو هغو ادعاوو ثبتول چې ښايي له بشري حقونو څخه سرغړونه وګڼل شي، او د ادعاوو د تحقیقاتو پیلول؛
- ډاډ ترلاسه کول چې کړنلارې، د شکایتونو د ترلاسه کولو او د تحقیقاتو د ترسره کولو هغو په ګډون، د جنسیت له پلوه حساس چلندونه په پام کې نیسي، په ځانګړې توګه د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي په قضیو کې؛[۱۵۷]
- ډاډ ترلاسه کول چې د افسرانو له خوا د بشري حقونو د ادعا شویو سرغړونو په اړه تحقیقات د هغو اشخاصو یا ادارو څخه خپلواک دي چې په دغو پېښو کې ښکېل وي؛
- ډاډ تر لاسه کول چې تحقیقات بشپړ دي، او د شواهدو د راغونډولو ټولې پروسې د بشري حقونو له نړیوالو معیارونو سره په تطابق کې دي – د تحقیقاتي مرکو، که له قربانیانو، شاهدانو یا شکمنو کسانو سره وي، د کور تلاشیو او نیولو د ترسره کولو په ګډون - او په سم ډول ثبت شوي؛
- قربانیانو او د هغوی کورنیو لپاره د بشري حقونو د ادعا شویو سرغړونو د تحقیقاتو اړوند مالوماتو ته د لاسرسي برابرول؛[۱۵۸]
- د اړتیاوو ارزول او د بشري حقونو د ادعا شویو سرغړونو د تحقیقاتو پرمهال د قربانیانو او شاهدانو لپاره د محافظتي میکانیزمونو تطبیقول.[۱۵۹]

### پ. د عدلي تعقیب او سزا ورکولو، او د عادلانه محاکمې د ډاډمنولو مکلفیتونه

۹. د اړتیا په صورت کې، دولتونه د مشخصو سرغړونو د مسؤولو اشخاصو د عدلي تعقیب او مجازاتو مکلفیت لري.[۱٦۰] پر جرم تورن هر شخص د یوې باصلاحیته، خپلواکې او بې طرفه محکمې له خوا چې د قانون له مخې جوړه شوې وي، د عادلانه او علني محاکمې مستحق دی، او تر هغه وخته بريء الذمه ګڼل کیږي ترڅو چې پر نه وي ثابت شوی.

۱۰. په جزايي اجراآتو کې په حد اقلي تضمینونو کې راتلونکي حقونه شامل دي: شخص ته د هغه پر ضد د جرمي تورونو ماهیت او لاملونه سمدستي، په مفصل ډول او هغې ژبه چې هغه پرې پوهیږي، بیان شي؛ د دفاعې د چمتو کولو لپاره کافي وخت او اسانتیاوې؛ پرته له غیرموجه ځنډ څخه محاکمه شي؛ په خپله یا د خپلې خوښې مدافع وکیل له لارې د ځان دفاع وکړي؛ کله چې د عدالت مصلحت دا ایجابوي، قانوني مرسته ورته وټاکل شي؛ د هغه پر ضد شاهدان وپوښتي او د خپل ځان په ګټه شاهدان حاضر کړي؛ که اړتیا وي د ژباړن له وړیا مرستې څخه برخمن شي؛ د ځان پر ضد اقرار ورکولو یا په جرم اعتراف کولو ته اړ نه کړل شي؛ او حق ولري چې د قانون له مخې د هغه د محکومیت او سزا بیاکتنه د لوړې محکمې له خوا

---

[۱۵۵] د بشري حقونو کمېټه، ۳۱ عمومي تبصره، CCPR/C/۲۱/Rev.۱/Add.۱۳، ۱۵ پاراګراف او ۳۶ عمومي تبصره ، CCPR/C/GC/۳٦، ۲۷–۲۸ پاراګرافونه؛ د غیرقانوني، خپلسري او لنډمهاله اعدامونو د مخنیوي او اغېزمنې څېړنې اصول، ۹ اصل. همدارنګه د شکنجې د منع کنوانسیون، ۱۲ماده.

[۱۵٦] وګورئ، د نړیوالو لارښودونو په لړ کې: د احتمالي غیرقانوني مرګ د څېړنې لپاره د مینیسوټا پروتوکول (۲۰۲٦)؛ د شکنجې او نورو ظالمانه، ناانساني یا سپکاوي ډک چلند یا سزاوو د اغېزمنې څېړنې او مستند کولو لارښود (استانبول پروتوکول) (۲۰۲۲). د څېړنو او مالوماتو د راټولولو لپاره د اغېزمنو مرکو اصول (مېنډېز اصول/Méndez Principles) (۲۰۲۱). په mendezprinciples.com؛ د ملګرو ملتونو د بشري حقونو عالي کمېشنرۍ، د قانون پلي کوونکو چارواکو لپاره د بشري حقونو لارښود، ۲۰۲۵ – ۸ فصل: د بشري حقونو او څېړنو برخه، او ۲۱ فصل: د قانون پلي کولو او د بشري حقونو د سرغړونو په اړه حساب ورکونه.

[۱۵۷] وګورئ: د ملګرو ملتونو له نشه یي توکو او جرمونو سره مبارزې دفتر او د ملګرو ملتونو د ښځو اداره ، د تاوتریخوالي سره مخ شوو ښځو او نجونو لپاره د جنسیت-ځواب ویونکو پولیسو د خدماتو لارښود، ۲۰۲۱.

[۱۵۸] وګورئ همدارنګه: د نظر او بیان د آزادی د حق د ترویج او ساتنې په اړه د ځانګړي راپور ورکوونکي راپور، ۴ سپتمبر ۲۰۱۳، A/٦٨/۳٦۲، ۳۹–۴۷ پاراګرافونه.

[۱۵۹] وګورئ همدارنګه: د شکنجې پر ضد کنوانسیون، مادې ۱۳ او ۱۶؛ د غیرقانوني، خپلسري او لنډمهاله اعدامونو د مخنیوي او اغېزمنې څېړنې اصول؛ او د شکنجې او نورو ظالمانه، غیرانساني یا سپکوونکي چلند یا سزاوو د اغېزمنې څېړنې او مستند کولو اصول، د عمومي اسامبلې پرېکړه لیک ۸۹/۵۵، ۳۹–۴۷ پاراګرافونه.

[۱٦۰] د شکنجې پر ضد کنوانسیون، مادې ۵–۶؛ د غیرقانوني، خپلسري او لنډمهاله اعدامونو د مخنیوي او اغېزمنې څېړنې اصول، اصل ۱۸. همدارنګه د بشري حقونو کمېټه، ۳۱ عمومي تبصره، CCPR/C/۲۱/Rev.۱/Add.۱۳، ۱۸ پاراګراف؛ او ۳٦ عمومي تبصره، CCPR/C/GC/۳٦، ۲۷ او ٦۷ پاراګرافونه.

ترسره شي.[۱٦۱] د قانون له خوا پیشبیني شوې یا په بل ډول وضع شوې سزاګانې نه باید په خپل ذات کې د نړیوال قانون له خوا منع شوې وي، لکه شکنجه او نور ظالمانه، نا انساني یا سپکاوي ډک چلند یا سزا.[۱٦۲]

۱۱. د عادلانه محاکمې حق او د هغې حد اقلي تضمینونه پر ټولو جزایي اجراآتو او ټولو محکمو تطبیقیږي، که هغه عادي یا اختصاصي، ملکي وي یا نظامي.[۱٦۳] غړي دولتونه باید د دغو محافظتي تضمینونو درناوي وکړي پرته له دې چې خپل حقوقي عرفونه او خپل داخلي قانون په پام کې ونیسي.[۱٦٤] هغه محکمې چې پورته یاد شوي تضمینونه نه مراعاتوي، د عادلانه محاکمې اساسي معیارونه نه پوره کوي، د دې شرط په ګډون چې محکمه باید خپلواکه او بې‌طرفه وي.[۱٦٥]

## ت. د خسارې د جبران د برابرولو مکلفیت

۱۲. دولتونه مکلف دي چې د بشري حقونو د سرغړونو قربانیانو لپاره جبران برابر کړي، چې پخواني حالت ته بېرته اعاده، تاوان یا خساره ورکول، او عادلانه رضایت په کې شامل دي.[۱٦٦] قربانیان د سرغړونو اړوند حقایقو/شرایطو او د مرتکبینو د هویت پېژندنې په ګډون د هغو بشري حقونو د سرغړونو په اړه حقیقت باندې د پوهېدو حق لري چې د دوی یا د خپلوانو په ضد یې ترسره شوي.[۱٦۷] د بشري حقونو د قانون د سختو سرغړونو یا د بشرپالنې د نړیوال قانون د جدي نقض کولو په مواردو کې، د عادلانه رضایت په وسیلو کې باید د حقیقت بشپړ او علني ښکاره کول شامل وي، په دې شرط چې دغه ښکاره کول د قربانیانو، خپلوانو، شاهدانو او نورو هغو خلکو خوندیتوب او ګټې ونه ګواښي یا له بل خطر سره مخ نکړي چا چې له قربانیانو سره د نورو سرغړونو د مخنیوي په موخه مرسته کړې.[۱٦۸]

## ث. مالوماتو ته د لاسرسي حق ته د درناوي او ډاډ مکلفیت

۱۳. دولتونه مکلفیت لري چې مالوماتو ته د هر شخص د لاسرسي حق تضمین او درناوي یې وکړي، هغو مالوماتو ته د لاسرسي په ګډون چې د حکومت په ټولو څانګو کې د دولتي چارواکو له خوا ساتل کیږي.[۱٦۹] مالوماتو ته د لاسرسي پر حق وضع کېدونکې محدودیتونه باید یوازې د هغو مشروع موخو له ډلې یوه هغه تعقیب کړي چې د مدني او سیاسي حقونو د نړیوال میثاق په ۱۹(۳) ماده[۱۷۰] کې په بشپړ ډول ذکر شوي چې د نورو د حقونو د درناوي یا حیثیت، او دغه راز د ملي امنیت، عامه نظم، عامه روغتیا یا عامه اخلاقو د ساتنې په پار وي؛ د محدودیتونو په اړه باید په قانون کې صراحت شوی وي او اړین او متناسب وي. د بشري حقونو د ادعا شویو سرغړونو یا د بشرپالنې د نړیوال قانون د سرغړونو په اړه د مالوماتو افشاء کول په عامه علیا مصلحت پورې مشروط دي.[۱۷۱]

۱٤. دولتونه همدارنګه ښايي له عامو خلکو سره د مالوماتو د شریکولو مثبت مکلفیت ولري کوم چې د نورو بشري حقونو د اِعمال د تسهیلونې په ګډون د بشري حقونو د نړیوالو مکلفیتونو د رعایتولو په پار اړین ګڼل کیږي.[۱۷۲] دولتونه ښايي د مالوماتو د مشخصو ډولونو د افشا کولو مکلفیت ولري، لکه هغه مالومات چې د بشري حقونو د نړیوال قانون د جدي

[۱٦۱] د مدني او سیاسي حقونو نړیوال میثاق، ۱۴ ماده.
[۱٦۲] پورتني ماخذ وګورئ ، ۲ پاراګراف.
[۱٦۳] د بشري حقونو کمېټه، ۳۲ عمومي تبصره (ماده ۱۴: د محاکمو او قضایي بنسټونو په وړاندې د برابرۍ حق او د عادلانه محاکمې حق)، CCPR/C/GC/۳۲، ۲۲ پاراګراف.
[۱٦٤] همدا ماخذ، ۴ پاراګراف.
[۱٦۵] همدا ماخذ، ۲۳ پاراګراف.
[۱٦٦] وګورئ: د بشري حقونو کمېټه، ۳۱ عمومي تبصره ، CCPR/C/۲۱/Rev.۱/Add.۱۳، ۱۶–۱۷ پاراګرافونه.
[۱٦۷] د مدني او سیاسي حقونو نړیوال میثاق، ماده ۱۹؛ د بشري حقونو کمېټه، ۳۱عمومي تبصره، CCPR/C/۲۱/Rev.۱/Add.۱۳، فقرة ۱۵؛ او ۳۶ عمومي تبصره ، CCPR/C/GC/۳٦، ۲۸ پاراګراف؛ د بشري حقونو شورا پرېکړه لیک، په حقیقت د پوهېدو حق، A/HRC/RES/۹/۱۱؛ د ملګرو ملتونو د عمومي اسامبلې پرېکړه لیک په حقیقت د پوهېدو حق ، ۲۱ جنوري ۲۰۱۴، A/RES/٦۸/۱٦۵؛ د ملګرو ملتونو عمومي اسامبله، د بشري حقونو ترویج او ساتنه: د بشري حقونو پوښتنې، د بشري حقونو او اساسي آزادیو د اغېزمنې استفادې د ښه کولو لپاره بدیلې لارې، A/٦۸/٤٥٦/Add.۲؛ د بشري حقونو شورا، د ملګرو ملتونو د بشري حقونو عالي کمېشنرۍ راپور، ۱۰ جنوري ۲۰۲۲، A/HRC/٤۹/۳۸، ۱۴ پاراګراف.
[۱٦۸] د نړیوالو بشري حقونو د سختو سرغړونو او د نړیوال بشري حقوقي قانون د جدي سرغړونو د قربانیانو لپاره د جبران او تاوان د حق په اړه بنسټیز اصول او لارښوونې، A/RES/٦۰/۱٤۷، ۲۲ (ب) پاراګراف.
[۱٦۹] د مدني او سیاسي حقونو نړیوال میثاق، ماده ۱۹(۲)؛A/HRC/٤۹/۳۸ ، ۴ پاراګراف. همدارنګه وګورئ ۲۳ پاراګراف: «... او دا مکلفیت د دولت ټولو ارګانونو ته غځېږي، په دې کې ټولې د فکتو ادارې او خصوصي ادارې هم شاملې دي چې د دولتي دندو ځینې برخې ترسره کوي».
[۱۷۰] د مدني او سیاسي حقونو نړیوال میثاق، ۱۹(۳) ماده؛ او د بشري حقونو کمېټه، ۳۴ عمومي تبصره (ماده ۱۹: د نظر او بیان ازادي)، CCPR/C/GC/۳٤، ۲۲، ۲۴، ۲۷، ۳۳–۳۶ پاراګرافونه.
[۱۷۱] د مدني او سیاسي حقونو نړیوال میثاق ،۱۹(۳)ماده؛A/HRC/٤۹/۳۸ ، ۵–۶ پاراګرافونه.
[۱۷۲] A/HRC/٤۹/۳۸ ، فقرة ۲۴؛ د ملګرو ملتونو د بشري حقونو عالي کمېشنرۍ راپور، A/HRC/٥٦/٤۲، ۹ پاراګراف.

سرغړونو یا د بشرپالنې د نړیوال قانون د سختو سرغړونو[۱۷۳] په اړه وي، چې دغه کار پر حقیقت د پوهېدو د حق د پلي کولو یوه برخه هم ګڼل کېږي.[۱۷۴] دولتونه باید په فعاله توګه هڅه وکړي چې د عامه مصلحت په پار په دوامداره ډول او په داسې بڼه مالومات ښکاره او شریک کړي چې خلکو ته په اسانۍ د لاسرسي وړ وي.[۱۷۵]

۱۵. له همدې امله، دولتونه د دې لپاره چې د بشري حقونو د جدي سرغړونو په اړه حساب‌ورکونه یقیني کړي، موثر تحقیقات ترسره کړي، قربانیانو ته جبران برابر کړي، او د عامه مصلحت اړوند مالومات ښکاره کړي، قانون پلي کوونکي ارګانونه باید داسې تدابیر ترسره کړي چې د شفافیت لپاره زمینه برابروي. په دې کې د داسې سیستمونو رامنځ ته کول شامل دي چې د شکایتونو په ګډون د پولیسو د کارکردګۍ په اړه احصایې وساتي، او د ترلاسه شویو شکایتونو د شمېر، د شکایتونو د ماهیت، د تحقیقاتو د موندنو، او د هغوی د پایلو او د هغو آفسرانو د شمېر چې په ضد یې تادیبي اجراآت ترسره او له جرمي لحاظه تر عدلي تعقیب لاندې نیول شوي، په اړه خلکو ته مفصل مالومات وړاندې کړي.[۱۷۶] دا همدارنګه د مرګونې قوې د کارونې په اړه د تحقیقاتو پر موندنو او د حساب ورکونې پر ترسره شویو اقداماتو د تطبیق وړ دي.[۱۷۷] سربېره پر دې، دا ایجابوي چې د قانون پلي کوونکې اداري داسې مؤثر سیستمونه رامنځته کړي چې د قوې د کارونې اړوند راپورونه او احصایې په اسانۍ سره خلکو ته لاسرسي وړ وګرځوي، د دې په ګډون چې قوه کله او د چا په ضد کارول شوې.[۱۷۸] د شکایتونو او سرغړونو، تادیبي اقداماتو او د هغوی د پایلو په اړه د مالوماتو راغونډولو لپاره پیاوړې پروسې کولی شي د باخبره پرېکړو په ترسره کولو کې مرسته وکړي، د جریانونو او نمونو د تحلیل زمینه برابره کړي، او هغه برخې په ګوته کړې چې لا زیاتو اصلاحاتو ته اړتیا لري، لکه د نورو پالیسیو جوړول، روزنه، یا د سرچینو تخصیص.[۱۷۹]

## ج. کلیدي طرز العملونه او میکانیزمونه چې مؤثرې حساب ورکونې ته وده ورکوي

۱٦. د خپلو بشري حقونو د مکلفیتونو د تطبیق په پار، دولتونه باید مؤثر داخلي طرز العملونه او میکانیزمونه جوړ کړي څو د قانون د تنفیذ داخلي نظم او باندني کنترول او څارنه ډاډمن کړي.[۱۸۰] هغه تدابیر چې په حساب ورکونه او څارنه کې مرسته کوي په لاندې ډول دي:

- د شکایتونو د راپور ورکولو میکانیزمونه کوم چې هغو خلکو ته چې غواړي د آفسرانو د ادعا شوي ناوړه چلند، زیانمنیدونکو ډلو لکه ښځو، ماشومانو، معلولیت لرونکو کسانو او لږکيو ګروپونو په اړه راپور ورکړي، په اسانۍ موجود او د لاسرسي وړ دي؛[۱۸۱]
- د چلند اصول چې د سلوک او مسلکي چلند معیارونه ټاکي، په شمول د رښتینولۍ، صداقت، نه تبعیض او د بشري حقونو درناوي، او موضوعات تنظیم کړي لکه د پولیسو مدیریت، د پولیسو صلاحیتونه، له خلکو سره تعامل، د

---

[۱۷۳] د ملګرو ملتونو عمومي اسامبله، د نظر او بیان د آزادۍ د حق د ترویج او ساتنې په اړه د ځانګړي راپور ورکوونکي راپور، ۴ سپتمبر ۲۰۱۳، A/٦٨/٣٦٢، ۳۷ پاراګراف.
[۱۷۴] همدا ماخذ، د حقیقت پوهیدلو د حق په اړه ۲۸- ۳۸ پاراګرف، او پخوانی ماخذ، ب ضمیمه کې ۷ پاراګراف.
[۱۷۵] A/HRC/٤٩/٣٨ ، ۲۴ او ۵۵(د) پاراګرافونه.
[۱۷٦] د قانون پلي کوونکو چارواکو د چلند د اصولو د اغېزمن پلي کولو لارښودونه، د اقتصادي او ټولنیزې شورا پرېکړه لیک ٦١/١٩٨٩، ماده (٤)B (د عامه وګړو له خوا شکایتونه)؛ د ملګرو ملتونو له نشه یي توکو او جرمونو سره د مبارزې دفتر، د پولیسو د حساب ورکونې، څارنې او روڼتیا لارښود (انګلیسي)، ۲۰۱۱، مخ ۳۶.
[۱۷۷] د غیرقانوني، خپل‌سري او لنډمهاله اعدامونو د مخنیوي او اغېزمنې څېړنې اصول، د اقتصادي او ټولنیزې شورا پرېکړه لیک ٦٥/١٩٨٩، اصل ۱۷.
[۱۷۸] د سوله‌ییزې غونډې او تجمع د آزادۍ د حقونو ځانګړي راپور ورکوونکي او د محاکمې پرته، لنډمهاله یا خپل‌سري اعدامونو ځانګړي راپور ورکوونکي ګډ راپور، د غونډو د سم مدیریت په اړه، A/HRC/٣١/٦٦، پاراګراف ۶۷(ح)؛ د ملګرو ملتونو له نشه یي توکو او جرمونو سره د مبارزې دفتر، « د پولیسو له خوا د احصایوي مالوماتو د مدیریت لارښوونې»، ۲۰۲۲.
[۱۷۹] د ملګرو ملتونو له نشه یي توکو او جرمونو سره د مبارزې دفتر، د پولیسو د حساب ورکونې، څارنې او روڼتیا لارښود (انګلیسي) – د شکایتونو د احصایو افشا کول، مخونه ۳۶–۳۷ او ۴۳. همدارنګه وګورئ: د ملګرو ملتونو له نشه یي توکو او جرمونو سره د مبارزې دفتر، «د پولیسو له خوا د احصایوي مالوماتو د اداره کولو لارښوونې»، ۲۰۲۲ – برخه ۳.5 د پولیسو د چلند اړوند مالومات (د زور او وسلو کارول او مسلکي چلند)، مخونه ۴۰–۴۴؛ «د څارنوالۍ او محکمو له خوا د احصایوي مالوماتو د اداره کولو لارښوونې»، ۲۰۲۳ – برخه ۳.5 د څارنوالی او محکمې د چلند اړوند مالومات، مخونه ۶۰–۶۴؛ او «د زندانونو د نظام له خوا د احصایوي مالوماتو د مدیرت لارښوونې»، ۲۰۲۴ – برخه ۳.۶: د کارکوونکو د چلند اړوند مالومات.
[۱۸۰] د قانون پلي کوونکو چارواکو د چلند اصول، د ۸ مادې تشریحي برخه؛ د قانون پلي کوونکو چارواکو له خوا د زور او وسلو د کارولو بنسټیز اصول، ۲۲–۲۶؛ د قانون پلي کوونکو چارواکو د چلند د اصولو د اغېزمن پلي کولو لارښوونې، د اقتصادي او ټولنیزې شورا پرېکړه لیک ٦١/١٩٨٩، برخه ۱– B ځانګړې موضوعات، ۳ پاراګراف.
[۱۸۱] د قانون پلي کوونکو چارواکو د چلند د اصولو د اغېزمن پلي کولو لارښوونې، د اقتصادي او ټولنیزې شورا پرېکړه لیک ٦١/١٩٨٩، برخه۱ ب (۴) د عامه وګړو له خوا شکایتونه. همدارنګه وګورئ: د ملګرو ملتونو د بشري حقونو عالي کمېشنرۍ، د قانون پلي کوونکو چارواکو لپاره د بشري حقونو لارښود، ۲۰۲۵ – ۸ فصل: د بشري حقونو او څېړنو برخه، مخ ۱۶؛ او د ملګرو ملتونو له نشه یي توکو او جرمونو سره د مبارزې دفتر، د پولیسو د حساب ورکونې، څارنې او روڼتیا لارښود (انګلیسي)، مخونه ۳۳–۳۵.

مالوماتو کارونه، محرمیت او راز ساتنه، د ډالیو او یا پیسو منل، د دندې له وخت څخه بهر چلند، او ناسم چلند؛ او همدارنګه د هر ډول سرغړونې لپاره د داخلي انضباطي سیستم له لارې مناسبې داخلي پایلې او مجازات ټاکي؛[۱۸۲]

- یو حمایوي حقوقي چوکاټ، چې قانون او نور داخلي مقررات یا کړنلارې په کې شاملې وي، او د پولیسو واکونه تنظیموي — لکه د قوې او وسلو کارول، نیول او درول، تلاشي ترسره کول، له توقیف شویو کسانو سره چلند، شکایتونو ته رسیدګي، د تحقیقاتو طرزالعملونه، له شکمنو کسانو، قربانیانو او شاهدانو سره مرکې، او نورې پولیسي دندې — چې د بشري حقونو له اصولو او معیارونو سره په سمون کې وي؛[۱۸۳]
- داسې طرزالعملونه چې له هر هغې پیښې وروسته چې د قوې او وسلو کارول په کې شامل وي، او د ژوبلې، مړینې یا نورو ژوند ګواښونکو پیښو په ګډون د ټولو پیښو د بیاکتنې په اړه،[۱۸۴] د انفرادي افسرانو له خوا ژر تر ژره خپلو رئیسانو ته د اجباري راپور ورکولو غوښتنه کوي، آن که قرباني یا د هغه کورنۍ هم شکایت ونه کړي؛[۱۸۵]
- هرکله چې د دې باور یو معقول لامل موجود وي چې سرغړونه ترسره شوې یا د پېښېدو په حال کې ده، د قانون پلي کوونکو ټولو چارواکو لپاره د داسې مکلفیت شاملول چې د هر ډول مشکوک ناوړه چلند په اړه خپلو رئیسانو ته، او د اړتیا په صورت کې یې نورو هغو اړوندو او صلاحیت لرونکو ادارو ته چې د بیاکتنې یا اصلاحي اقداماتو واک لري، راپور کړي؛[۱۸۶]
- داسې طرزالعملونه کوم چې باید د شاهدانو او قربانیانو ساتنه،[۱۸۷] او دغه راز له غچ اخیستنې څخه د افشا کوونکو ساتنه تضمین کړي؛[۱۸۸]
- د قوماندې د روښانه او شفاف ساختار رامنځته کول کوم چې مسؤولیت یقیني کوي او د قوماندانانو له خوا په ټولو کچو کې د ترسره شویو پرېکړو سوانح ساتي؛[۱۸۹]
- ډاډ ترلاسه کول چې لوړپوړي چارواکي د هغو پولیس افسرانو د کړنو په اړه مسؤل وګڼل شي چې د هغوي تر قوماندې لاندې دي، که چېرې هغوي د قوې او وسلو له غیرقانوني کارونې څخه خبر وو، یا باید خبر وای خو د دغو کړنو د مخنیوي، درولو یا راپور ورکولو لپاره یې عملي اقدامات نه وي ترسره کړي؛[۱۹۰]
- ډاډ ترلاسه کول چې د پېښې په اړه مؤثر تحقیقات او بیاکتنه پیل شوې، که د اړوندو چارواکو په خپل نوښت وي او که د شکایت پر بنسټ، او د اړتیا په صورت کې د عدلي تعقیب او قضایي پرېکړې په ګډون، قضیې د ارزونې په موخه خپلواکو ادارو ته راجع شوې؛[۱۹۱]

---

[۱۸۲] وګورئ: د ملګرو ملتونو له نشه یي توکو او جرمونو سره د مبارزې دفتر، د پولیسو د حساب ورکونې، څارنې او روڼتیا لارښود (انګلیسي)، ۷۷–۷۹ مخونه.

[۱۸۳] د بشري حقونو کمېټه، ۳۶ عمومي تبصره، CCPR/C/GC/۳٦، فقرو ۱۹–۲۰؛ د ملګرو ملتونو د بشري حقونو عالي کمېشنری د قانون پلي کوونکو چارواکو لپاره د بشري حقونو لارښود، ۲۰۲۵ – ۱ فصل: د قانون پلي کوونکو لپاره د بشري حقونو پېژندنه، مخ ۴۰؛ او ۲۱ فصل: د قانون پلي کولو او د بشري حقونو د سرغړونو په اړه حساب ورکونه. همدارنګه وګورئ: د قانون پلي کوونکو چارواکو له خوا د زور او وسلو د کارولو بنسټیز اصول، اصل ۱؛ د شکنجې پر ضد کنوانسیون، ۱۱ماده.

[۱۸۴] د قانون پلي کوونکو چارواکو له خوا د زور او وسلو د کارولو بنسټیز اصول، ۲۲ اصل. همدارنګه وګورئ ۱۱(ه) اصل د وسلو د کارولو په هره پېښه کې د راپور ورکولو د سیستم په اړه، او ۶ اصل کله چې د یوه شخص ټپي کېدل یا مړینه رامنځته شي. همدارنګه د بشري حقونو کمېټه، ۳۶عمومي تبصره، CCPR/C/GC/۳٦، ۱۳ پاراګراف.

[۱۸۵] د ملګرو ملتونو د بشري حقونو عالي کمېشنری، د قانون پلي کوونکو چارواکو لپاره د بشري حقونو لارښود، ۲۰۲۵ – ۵ فصل: د زور د کارولو په برخه کې بشري حقونه، مخ ۲۷.

[۱۸۶] د قانون پلي کوونکو چارواکو د چلند اصول، A/RES/۳٤/۱٦۹، ماده ۸؛ د ټولو هغو کسانو د ساتنې اصول چې د هر ډول توقیف یا بند کې وي، A/RES/٤۳/۱۷۳، اصل ۷(۲) او (۳). د قانون پلي کوونکو چارواکي باید لومړی ټول داخلي د راپور ورکولو میکانیزمونه وکاروي او یوازې د اړتیا په صورت کې موضوع نورو اړوندو چارواکو یا ادارو ته، د قوماندې له سلسلې بهر، په شمول د بهرني حساب ورکونې بنسټونو ته، وړاندې کړي: د قانون پلي کوونکو چارواکو د چلند اصول، ۸ ماده.

[۱۸۷] وګورئ د نړیوالو لارښودونو په لړ کې: د «د احتمالي غیرقانوني مرګ د څېړنې لپاره د مینیسوټا پروتوکول (۲۰۱۶)؛ د شکنجې او نورو ظالمانه، غیرانساني یا سپکوونکي چلند یا سزاوو د اغېزمنې څېړنې او مستند کولو لارښود(استانبول پروتکول) (۲۰۲۲)؛ د څېړنو او مالوماتو د راټولولو لپاره د اغېزمنو مرکو اصول (مېنډېز اصول) (۲۰۲۱)، د لاسرسي وړ mendezprinciples.com.

[۱۸۸] د قانون پلي کوونکو چارواکو د چلند اصول، A/RES/۳٤/۱٦۹، د ۸ مادې تشریحي برخه. همدارنګه وګورئ: د نظر او بیان د آزادی د حق د ترویج او ساتنې په اړه د ځانګړي راپور ورکوونکي راپور، A/۷۰/۳٦۱، فقرو ۶۳–۶۸.

[۱۸۹] د غیرقانوني، خپلسري او لنډمهاله اعدامونو د مخنیوي او اغېزمنې څېړنې اصول، د اقتصادي او ټولنیزې شورا پرېکړه لیک ٦٥/۱۹۸۹، ۲ اصل.

[۱۹۰] د قانون پلي کوونکو چارواکو له خوا د زور او وسلو د کارولو بنسټیز اصول، ۲۴ اصل.

[۱۹۱] د بشري حقونو کمېټه، ۳۶عمومي تبصره، CCPR/C/GC/۳٦، ۲۷ پاراګراف؛ د قانون پلي کوونکو چارواکو له خوا د زور او وسلو د کارولو بنسټیز اصول، اصل ۲۲؛ د شکنجې پر ضد کنوانسیون) ، ۱۲ ماده.

- د تطبیق وړ اداري او تادیبي تدابیرو درلودونکی د یوه مؤثر داخلي انضباطي سیستم رامنځته کول چې د چلند د اصولو سرغړونو یا ناوړه چلند ته رسیدګي کوي؛[۱۹۲] او
- قوه کله او د چا په ضد کارول شوې،[۱۹۳] د ترلاسه شویو شکایتونو د شمېر او ماهیت، د تحقیقاتو د موندنو، د هغوي د پایلو او د هغو آفسرانو د شمېر چې په ضد یې تادیبي اجرآات ترسره او له جرمي لحاظه تر عدلي تعقیب لاندې نیول شوي په ګډون، خلکو ته د قوې د کارونې اړوند راپورونو او احصائیو په اسانۍ سره د لاسرسي وړ ګرځولو لپاره د مؤثرو سیستمونو رامنځته کول.[۱۹٤]

[۱۹۲] د ملګرو ملتونو د بشري حقونو عالي کمېشنری، د قانون پلي کوونکو چارواکو لپاره د بشري حقونو لارښود، ۲۰۲۵ – ۸ فصل: د بشري حقونو او څېړنو برخه، مخ ۵؛ او ۲۱ فصل: د قانون پلي کولو او د بشري حقونو د سرغړونو په اړه حساب ورکونه، مخ ۴ (چې پکې د قانون پلي کوونکو چارواکو د چلند اصول، د ۸ مادې تشریحي برخه؛ او د زور او وسلو د کارولو بنسټیز اصول، فقرو ۲۲–۲۶ ته اشاره شوې ده). همدارنګه وګورئ: د ملګرو ملتونو له نشه یي توکو او جرمونو سره د مبارزې دفتر، د پولیسو د حساب ورکونې، څارنې او روڼتیا لارښود (انګلیسي)، ۱۲، ۷۶ او ۷۹ مخونه.

[۱۹۳] A/HRC/۳۱/٦٦ ، فقرة ۶۷ (h) همدارنګه وګورئ: د ملګرو ملتونو له نشه یي توکو او جرمونو سره د مبارزې دفتر، «د پولیسو له خوا د احصایوي مالوماتو د مدیریت لارښوونې»، ۲۰۲۲.

[۱۹٤] د ملګرو ملتونو له نشه یي توکو او جرمونو سره د مبارزې دفتر، د پولیسو د حساب ورکونې، څارنې او روڼتیا لارښود (انګلیسي)، ۲۰۱۱، ۳۶ مخ.